د الله په سپېڅلي نامه

بېشکه په دنیا کې د انسان ټوله سرمایه د هغه عمر دی محدودې ثانیې او محدودې دقیقې او ساعتونه دي چې تېرېږي هغه چا چې دا محدود وخت په ښه توګه استعمال کړو او کار یې ورڅخه واخیست نو ډېر د ښه قسمت خاوند دی او هغه کسان چې دا وخت یې ضائع کړو او په داسې څه کې یې مصرف کړو چې ده ته په ښه نه ورځي نو داسې یو قیمتي شی یې ضائع کړل چې کله به هم ده ته بېرته په لاس ورنشي .

او د انسان د پیدائښت د لحظې نه د هغه تر مرګه پورې دا غزېدلې د نعمتونو لړۍ الله انسان ته ددې لپاره ورکړې ده چې کار ورڅخه واخلي او ددې لوی نعمت قدر هغه وخت ډېر زیاتیږي چې انسان په خپل ژوند کې د بلوغ په مرحله کې داخل شي پدې وخت کې انسان هغه حالت ته داخل شي چې په کومه مرحله کې د انسان امتحان اخستل کیږي او انسان ته هغه ذمه واري او مسئولیتونه ور په غاړه کیږي د کوم لپاره چې پیدا شوی دی الله ددې امتحان په اړه فرمایي :

الَّذِیۡ خَلَقَ الۡمَوۡتَ وَ الۡحَیٰوۃَ لِیَبۡلُوَکُمۡ اَیُّکُمۡ اَحۡسَنُ عَمَلًا ؕ وَ ہُوَ الۡعَزِیۡزُ الۡغَفُوۡرُ ۙ(۲)[1]

ترجمه : هغه الله چې پیدا کړی یې دی مرګ او ژوندون لپاره د دې چې و ازمویي تاسې چه کوم یو له تاسې ډېر ښه دی د عمل له مخې (چې بیا درکړي تاسې ته جزا د اعمالو) او همدغه الله ښه غالب قوی دی ډېر مغفرت کونکی دی .

یعني د مړینې او د ژوند سلسله الله قائمه کړېده مونږ او تاسې مخکې هېڅ نه وو بیا الله ژوند راکړو او ددېنه وروسته به بیا مړه کیږو بیا به مو له هغه مرګ نه وروسته بېرته ژوندي را پاڅوي لکه الله چې په سورة بقرة کې په ۲۸ آیت کې فرمایي چې (اول تاسې مړه وئ بیا یې ژوندي کړئ بیا به تاسې بېرته مړه کوي بیا به تاسې بېرته ژوندي کوي او بیا به تاسې ټول هغه ته رجوع کوئ) .

نو د ژوند او مرګ دا سلسله ددې لپاره ده چې د اعمالو امتحان واخیستل شي چې څوک ښه او څوک بد اعمال کوي په اول ژوندون کې امتحان دی او په بل ژوند کې د هغه نتیجه په لاس راځي تاسې

1 سورة الملک آیة ۲

فرض کړئ که د دنیا د ا ژوند نه وای نو بیا به د عمل موقع له کومه کېده او تاسې فرض کړئ که چېرته مرګ نه وای نو بیا به نېک اعمال چا کول؟ خو ټول خلق به غافل پراته وو او په اطمنان سره (چې د مرګ وېره به یې نه وه) خپل ژوند به یې کاوه او که چېرته د مرګ نه وروسته بېرته را ژوندي کېدل نه وای نو بیا به ددې ژوند د امتحان نتیجه چېرته ورکول کېده ؟

د آیت په آخر کې الله فرمایي چې هغه الله غالب او مغفرت کونکی دی پدې معنی چې هغه داسې غالب ذات دی چې د هغه د نیولو څخه هېڅوک نشي خلاصېدلی او سره ددې بښونکی دی چې څوک ورڅخه بښنه وغواړي هغه ته بښنه کوي.

او همدا عمر دی چې د انسان په ژوند کې د یوه داسې قیمتي شي حیثیت لري چې هېڅ ډول یې ارزښت نه کمیږي او چې یو ځل له لاس نه وزي بیا یې بېرته د ورګرځېدلو هېڅ امکان نه وي او د انسان یو فردي طاقت او قوت خو پرېږده چې په د نیا کې کوم ډول قوتونه او طاقتونه سره را ټول شي نو هغوی بیا د یوې دقیقې تېر شوي وخت په را ګرځولو باندې قادر نه وي او نه به پدې باندې څوک و توانیږي چې یوه دقیقه وخت وړاندې کړي بلکه دا هرڅه د الله په نظام او د هغه په اجازه سره چلیږي چې هېڅوک پکې هېڅ ډول تصرف

نشي کولی نو وخت چې هرڅنګه وي او په هر وخت کې وي ډېر د قدر وړ او محترم شی دی لکن دا د بلوغ نه وروسته د انسان تر مرګ پورې هغه وخت دی چې یو انسان ته د یوې حقیقي سرمایې حیثیت لري چې باید انسان یې په داسې ډول مصرف کړي چې دده لپاره په دنیا او آخرت کې د نېکمرغۍ او خوشحالۍ سبب شي د وخت د اهمیت په اړه د وخت اهمیت لمړۍ برخه چې د قرآني آیتونو په رڼا کې یې د وخت په اهمیت بحث کاوه او دوهمه برخه چې د نبوي احادیثو په رڼا کې یې موضوع څېړله تردې رسالې وړاندې چاپ شوې دي او دا ده اوس دا رساله د علماوو په ژوند کې د وخت د اهمیت په اړه ستاسې تر لاسو نو در رسېدلې ده امید دی چې د علماء کرامو د ژوند واقعې ستاسې لپاره د درس او عبرت سبب وګرځي او ستاسې خوښې شي (د وخت اهمیت دریمه برخه) او تاسې سره پرېږدم.

د سورة العصر په تفسير کې امام رازي ددې لپاره وجه ذکر کوي چې الله په زمانه باندې ولې قسم کوي د هغه د وينا لنډيز داسې دی :

الله په العصر باندې قسم وکولو چې معنی يې ده زمانه ځکه چې پدې زمانه کې عجائب موجود دي په همدې زمانه کې راحت او زحمت ، خوشحالي او تکليف، صحت او بيماري ، مالداري او غربت هرڅه په همدې زمانه کې دي او همدا زمانه د انسان عمر دی .[1]

❁❁❁

حضرت معاوية بن خديج راغلو چې اميرالمؤمنين حضرت عمر ته د اسکندرية د فتح زيرى ورکړي خو کله چې دی مدينې منورې ته را ورسېدو د قيلولې (د غرمې د خوب) وخت وو نو يې فکر وکاوه چې امير المؤمنين به اوس ويده وي بيا وروسته خبر شو چې هغه نه وو ويده بيا حضرت عمر ورته وفرمايل :

---

[1] تفسير کبير

لئن نمت النهار لأضيعنَّ حق الرعية، ولئن نمت الليل لأضيعنَّ حق الله، فكيف بالنوم بين هذين الحقين يا معاوية؟

ترجمه : كه زه د ورځې ويده شم نو زما پدې خوب سره به د رعيت حق ضائع كيږي (زما د خوب په وخت كې د دوى كارونه معطل پاتې كيږي) او كه زه د شپې ويده شم نو د الله حق ضائع كيږي (په شپه كې د هغه عبادت نه كيږي) نو ددې دواړو حقونو په مينځ كې څنګه خوب وكوم يا معاوية.

❁❁❁

حضرت شعبه فرمايي :

لا تجلسـوافارغين فإن الموت يطلبكـم

ترجمه : فارغ (بې كاره) مه كينئ ځكه مرګ په تاسې پسې ګرځي .

❁❁❁

حضرت حسن فرمايي :

ابن آدم إنما أنت أيام كلما ذهب يوم ذهب بعضك.

ترجمه : ای د آدم زويه (انسانه) بېشکه ته د ورځو څخه جوړ شوی يې چې يوه ورځ لاړه شي ستا يوه برخه لاړه شي.

❁❁❁

حضرت حسن بصري فرمايي :

يا ابن آدم نهاركضيفك فأحسن إليه.

ترجمه : ای د آدم زويه ورځ لکه ستا د مېلمه په ډول ده ښه رويه ورسره وکوه (عبادت او نېک اعمال پکې وکوه) .

❁❁❁

حضرت حسن بصري فرمايي :

أدركت أقواما كان أحدهم أشح على عمره منه على درهمه .

ترجمه : ما داسې خلک ليدلي دي چې په دوی کې به يو په خپل عمر باندې له درهم څخه ډېر سخت وو .

❁❁❁

همدارنګه امام حسن بصري فرمايي :

إنما أنت أيام مجموعة كلما مضى يوم مضى بعضك .

ترجمه : بېشکه ته د ورځو نه جوړ شوی يې چې يوه ورځ تيريږي ستا څخه يوه برخه ځي .

❁❁❁

د امام احمد څخه چا پوښتنه وکوله څنګه يې؟ څه حال د دی؟

هغه مبارک ورته وفرمايل

في عمر ينقص وذنوب تزيد .

ترجمه : پداسې عمر کې چې کميږي او په ګناهونو کې زياتيږي .

❁❁❁

د حضرت الربیع ابن خثیم نه به چې چا پوښتنه وکوله چې څه حال مو دی؟ هغه مبارک به ورته فرمایل :

ضعفاء مذنبين نأكل أرزاقنا وننتظر آجالنا

ضعیفان او ګناه کاران یو خپل رزقونه خورو او د خپلو اجلونو انتظار وباسو .

په ځانکدن کې زده کړه

حضرت ابو الحسن بن عیسي فرمایي : زه ابي الریحان ته په داسې وخت کې ورغلم چې د مرض موت په بستر پروت وو او د ډیرې سختي په حالت کې وو په هغه حالت کې ده لما څخه په علم میراث کې د یوې مسئلې (جدات فاسدات) په اړه پوښتنه وکوله ما چې دده آخري لحظاتو او د بیماري سختي ته کتل او دده پوښتنې ته مې کتل ورته حیران شوم نو مې ورته وویل : پدې وخت کې؟

ده راته وویل : يا هذا أودع الدنيا وأنا عالم بهذه المسألة ألا يكون خيرا من أن أخليها وأنا جاهل بها؟

ترجمه : ای دغه کسه زه چې پرېږدم دنیا پداسې حال کې چې پدې مسئله پوه شوی وم لدې نه ښه

نه ده چې له دنیا څخه پداسې حالت کې لاړ شم چې پدې مسئله زه نه وم خبر؟ (یعني تر جاهل مړه کېدو نه مې عالم مړه کېدل خوښ دي)

❁❁❁

حضرت عمر ابن عبد العزیز به فرمایل :

إن الليل والنهار يعملان فيك، فاعمل فيهما.

ترجمه : بېشکه شپه او ورځ په تا کې عمل کوي ته هم په دوی کې عمل وکوه .

❁❁❁

حضرت امام خلیل بن احمد الفراهیدي فرمایي :

أثقل الساعات علي ساعة آكل فيها

ترجمه : بېشکه په ما باندې سخت وخت هغه دی چې زه پکې خوراک کوم (یعني دا یو داسې وخت دی چې زه پکې څه کار نشم کولی)

❁❁❁

حضرت ابن حاتم فرمایي :

مكثنا بمصر سبعة أشهر لم نأكل فيها مرقا، نهارنا ندور على الشيوخ وليلنا ننسخ .

ترجمه : مونږ په مصر کې اوه میاشتې تېرې کړې پدې موده کې مونږ شوربا نه وه خوړلې د شپې به په علماوو پسې ګرځېدو (له هغوی نه به مو زده کړه کوله) او د شپې به مو لیکل کول (وخت به نه وو چې ځان ته پکې خوراک تیار کړو)

د امام ابو یوسف د وخت ساتنه

امام ابو یوسف د امام ابي حنیفه هغه شاګرد وو چې ټول عمر به د خپل استاذ سره یو

ځای وو حتی چې د اختر ونو په ورځو کې به هم له ده څخه نه جدا کېدو اولس کاله یې دده په ملګرتیا کې تېر کړي دي او هر وخت به چې هغه د درس په مجلس کې ناست وو نو دی به یې په مجلس کې حاضر وو او د زده کړې کوښښ به یې کاوه دی ددې وخت د ساتلو په اړه فرمایي :

مات ابن لي، فلم أحضر جهازه، ولا دفنه، ولا تكفينه، وتركت الأمر إلى جيراني وأقربائي؛ مخافة أن يفوتني من أبي حنيفة شيء لا تذهب حسرته عني .

ترجمه : زما زوی وفات شو زه د هغه تیارولو ، نه دفن کولو او نه د هغه کفن ورکولو ته حاضر شوم او دا کار مې خپلوانو او ګاونډیانو ته پرېښودو ځکه زه پدې ډارېدم چې پدې وخت کې به د امام ابي حنیفه د ملګرتیا د پاتې کېدو سره څه (دیني خبره) پاتې شي د هغه خفګان به بیا لما څخه لاړ نشي .

په پنځوسو کلونو کې پنځوس تصنیفات

حضرت جمال الدین القاسمي پنځوس کاله عمر درلود او پدې وخت کې یې تصنیفات تر ۵۰ څخه زیات دي نو معنی دا چې که ده د تولد په اوله

ورځ هم تصنیف شروع کړی وي نو په کال کې یې یو په زړه پورې او قیمتي تصنیف کړی دی سره ددې چې پدې هرڅوک پوه دي چې په عمر کې تر ډېره وخته پورې خلک د تصنیف سلسله نه شروع کوي او وجه دده د تصنیفاتو په زیاتوالي کې داده چې ده مبارک به د وخت ډېره په سختي سره ساتنه کوله او ده به فرمایل :

لیت الوقت يُباع فأشتريه

ترجمه : کاش چې وخت خرڅېدلی ما به اخیستی وو.

❁❁❁

حضرت عامر ابن قیس تابعي دی د هغه په اړه نقل شوي دي:

أن رجلاً قال له: تعال أكلمك، قال: أمسك الشمس

ترجمه : یو سړي ورته وویل دلته راشه خبره درسره کوم ده ورته وفرمایل : لمر ودروه (یعني هغه ودروه ترڅو زما وخت تېر نشي) یعني وخت درول او لمر درول خو د هغه په وس کې نه وو نو دده مطلب دا وو چې هغه ته ور ښکاره کړي چې زه د خپل وخت ساتنه کول غواړم او لتا سره په خبرو کولو کې زما وخت بې ځایه تیریږي .

❁❁❁

امام شافعي فرمايي :

صحبتُ الصوفية فما انتفعتُ منهم إلاَّ بكلمتين، سمعتهم يقولون: الوقتُ سيفٌ، فإن قطعته وإلاَّ قطعك، ونفسُك إن لم تشغلها بالحقِّ شغلتك بالباطل. 1

ترجمه : د صوفيه وو سره مې ملګري وکوله د هغوی نه مې څه فايده وا نه خيسته مګر په دوو کلمو سره ما د هغوی څخه واوريدل چې دوی فرمايل : وخت توره دی که تا پريکړه نو ښه ده کنه نو تا به پرې کړي او ستا نفس که ته په حق سره مشغول نه کړې نو هغه به تا په باطل سره مشغول کړي .

❁❁❁

عن نعيم بن حماد قال: قيل لابن مبارك: إلى متى تتطلب العلم ؟ قال: حتى الممات إن شاء الله. [2]

ترجمه : د حضرت نعيم بن حماد څخه روايت دی هغه فرمايلي دي چې يو وخت د ابن مبارک نه پوښتنه وشوه چې ته به تر څه وخته پورې د علم

---

1 الجواب الكافي
2 ابن عبد البر في جامع بيان العلم

طلب کوي؟ ده مبارک ورته وفرمایل تر مرګه پورې انشاء الله .

❁❁❁

حضرت عبد الله ابن مسعود فرمایي :

إني لأمقت الرجل أن أراه فارغا ليس في شي من عمل الدنيا ولا عمل الآخرة.

ترجمه : زما هغه کس بد ایسي چې زه يې فارغ وینم نه څه د دنیا کار کوي نه د آخرت .

وخت د انسان سرمایه ده

امام ابن قيم فرمایي :

وقت الإنسان: هو عمره - في الحقيقة -، وهو مادَّة حياته الأبديَّة في النَّعيم المقيم، ومادَّة معيشته الضَّنك في العذاب الأليم وهو يمرُّ مرَّ السَّحاب ... فما كان مِن وقت لله وبالله فهو حياته وعمره، وغير ذلك ليس محسوبًا مِن حياته، وإنْ عاش فيه عيش البهائم، فإذا قطع وقته في الغفلة واللَّهو

والأماني الباطلة، وكان خير ما قطعه به النَّوم فموت هذا خيرٌ مِن حياته. 1

ترجمه : د انسان وخت د هغه عمر دی په رښتیا کې او همدا یې د ابدي ژوند ماده ده په دائمي نعمتونو کې او یا یې په دردناک عذاب کې د سخت ژوند ماده ده او دا وخت لکه د وریځې په ډول تیریږي پدې کې هغه وخت چې د الله لپاره یې د الله د رضا لپاره یې مصرف کړي هغه دده ژوند او عمر دی او په رښتیا کې هغه چې د الله د رضا او د الله لپاره تېر نه کړل شي هغه دده له ژوند څخه حساب نه دی اګر که دی په هغه کې د ځناورو په څېر ژوند وکوي او کله چې دده عمر په غفلت ، بې هوده کارونو او باطلو ارمانونو او کارونو کې تیریږي او دده په عمر کې هغه ښه عمر وي چې په خوب کې یې تېر کړي (لږ تر لږه په هغه حالت کې خو دی ګناه نه کوي) نو د داسې انسان تر ژوند څخه مرګ غوره دی .

د وخت لپاره د حضرت عمر دعاء

حضرت عمر به د خپل وخت د ساتنې لپاره ډیره عجیبه دعاء کوله او فرمایل به یې :

1 الجواب الکافي

اللهم إنا نسألك صلاح الساعات والبكرة في الأوقات.

ترجمه : اى الله مونږ لتا څخه سوال کوو زمونږ د ساعتونو د اصلاح کولو او د اولو وختونو په وختونو کې (چې د کوم کار کوم وخت وي مونږ ته ددې توفيق راکړه چې د هغه وخت په اوله برخه کې يې وکوو) .

انسان له ورځو جوړ دى

حضرت حسن بصري به فرمايل :

يا بن آدم أنت أيام، كلما ذهب يوم منها ذهب بعضك، ويوشك إذا ذهب بعضك أن يذهب كلك وأنت لا تعلم، فاعمل، فاليوم عمل ولاحساب، وغدا حساب ولا عمل"

ترجمه : اى د آدم زويه بېشکه ته ورځې يې کله چې يوه ورځ لاړه شي نو ستا يوه حصه لاړه شي او ددې وېره ده چې ستا نه څه برخه ځي يو وخت به ته ټول لاړ شې او ته به پدې نه پوهيږي نو عمل کوه نن د عمل ورځ ده او حساب نشته او سبا به حساب وي او عمل به نه وي .

بې کاره کس مې نه دى خوښ

حضرت عبد الله ابن مسعود فرمايي :

إني لأمقت الرجل أن أراه فارغا ليس في شي من عمل الدنيا ولا عمل الآخرة.

ترجمه : زما بد ایسي (نه مې خوشیږي) چې یو سړی وینم چې هغه فارغ (بې کاره وي) چې نه د دنیا څه کار کوي او نه د آخرت .

بې فایدې ورځ تېرول په ځان ظلم کول دي

امام ابن رازي فرمايي

من أمضى يوما من عمره في غيرحق قضاه, أو فرض أداه أو مجد أثله أو حمد حصله أو خير أسسه أو علم أقتبسه فقدعق يومه وظلم نفسه .

ترجمه : چا چې د خپل عمر نه یوه ورځ تېره کړه نه په داسې حق کې چې ده پوره کړی وي او نه داسې فرض چې ده اداء کړی وي او نه داسې نېک کار چې ده کړی وي او نه داسې حمدچې ده حاصل کړی وي او نه داسې خیر چې ده یې بنیاد ایښی وي او نه داسې علم چې ده حاصل کړی وي نو ده

ددې ورځې حق ور پوره نه کړو او ورځ يې عبث تېره کړه او په خپل ځان يې ظلم وکولو .

د وخت په اړه له ځان سره حساب کول

امام ابن عساکر د سُلَيْم بن أيوب الرازي په اړه فرمايي :

أنه كان يحاسِب نفسَه على الأنفاس، لا يدع وقتًا يمضي عليه بغير فائدة، إما ينسخ أو يُدَرس أو يقرأ.

ترجمه : ده به د خپل ځان سره په تنفساتو سره حساب کاوه او وخت به يې نه پرېښودو چې په ده باندې بې فايدې تېر شي يا به يې ليکل کول ، يا به يې درس ويلو او يا به يې لوست کاوه .

اکثر خلک د وخت قدر نه پېژني

امام ابن الجوزي فرمايي :

ولقد شاهدت خلقًا كثيرًا لا يعرفون معنى الحياة: فمنهم من أغناه الله عن التكسب بكثرة ماله، فهو يقعد في السوق أكثر النهار، ينظر إلى الناس، وكم تمر به من آفة ومنكر! ومنهم من يخلو بلعب الشطرنج! ومنهم من يقطع الزمان بكثرة الحديث عن السلاطين، والغلاء والرخص، إلى غير ذلك فعلمت أن الله تعالى لم يطلع على شرف العمر ومعرفة قدر أوقات العافية إلا من وفقه وألهمه اغتنام ذلك.

ترجمه : ما ډېر خلک لیدلي دي چې د ژوند په مطلب نه پوهیږي ځینې داسې دي چې الله ورته ډېر مال ورکړی دی او پدې توګه یې د کار کولو څخه غنیان او بې پروا کړي دي هغه په بازار کې د ورځې په اکثره برخه کې ناست وي خلکو ته ګوري څومره منکر شیان ویني ..! او ځینې یې داسې وي چې د شطرنج په لوبه خپل وخت تېروي او اکثر یې خپل زیات وخت د بادشاهانو په خبرو او قصو باندې تېروي او کله د نرخونو د پورته کېدلو او ښکته کېدلو نه خبرې کوي او داسې نور نو

زه پدې پوه شوم چې الله د عمر په شرف او د هغې د قدر په علم باندې هرڅوک نه دي خبر کړي مګر صرف هغه کسان یې ورباندې خبر کړي دي چې الله ورته د وخت د ساتلو (په فایده منو کارونو کې د مصرف کولو) لارښونه کړې وي .[1]

❁❁❁

حضرت ثابت البناني فرمايي :

ذهبت ألقن أبي وهو في الموت لا إله إلا الله، فقال: يا بني دعني فإني في وردي السادس أو السابع .[2]

ترجمه : زه لاړم چې خپل پلار ته په خوله کې د مرګ په وخت کې کلمه ورکړم هغه راته وویل ما پریږده زه مې په شپږمه یا اومه وظیفه کې یم .

معنی دا چې هغه په رښتیا د وخت قدر پېژندلی وو او د ژوند تر آخرې لحظې پورې په خپلو وظیفو باندې مصروف وو .

❁❁❁

حضرت فضيل فرمايي :

---

1 صيد الخاطر
2 حلية الأولياء، صفة الصفوة

أعرف من يعد كلامه من الجمعة إلى الجمعة.

ترجمه : زه داسې يو كس پېژنم چې هغه به له يوې جُمعې څخه تر بلې جُمعې پورې خپلې خبرې شمارولې .

❁❁❁

يو عالم هغه كسانو ته نصيحت كاوه چې له ده سره ناست وو او ورته يې وفرمايل:

إذا خرجتم من عندي فتفرقوا لعل أحدكم يقرأ القرآن في طريقه، ومتى اجتمعتم تحدثتم.[1]

ترجمه : كله چې لما څخه ووتلى سره خپاره شئ كېداى شي په تاسې كې څوك په لاره كې تلاوت وكوي او كه تاسې يو ځاى روان وئ نو بيا به تاسې خبرې كوئ .

❁❁❁

حضرت عثمان الباقلاني فرمايي :

أبغض الأشياء إلى وقت إفطاري لأني أشتغل بالأكل عن الذكر.[1]

---

[1] الآداب الشرعية لإبن مفلح المقدسي

ترجمه : ماته په شیانو کې ډېر بد د روژه ماتي وخت دی څکه پدې وخت کې زما نه ذکر پاتې شي او په خوراک اخته شم .

❁❁❁

ابن قیم الجوزي فرمایي :

ينبغي للإنسان أن يعرف شرف زمانه، وقدر وقته، فلا يضيع منه لحظة في غير قربة، ويقدم الأفضل فالأفضل من القول والعمل. ولتكن نيته في الخير قائمة من غير فتور بما لا يعجز عنه البدن من العمل، كما جاء في الحديث: "نية المؤمن خير من عمله.

ترجمه : انسان ته په کار ده چې د خپلې زمانې شرف او د خپل وخت قدر وپېژني او د خپل عمر نه یوه لحظه هم په داسې څه کې مصرف نه کړي چې ثواب پکې نه وي او په کارونو کې چې کوم بهتر دی هغه مخکې کړي او بیا په هغه پسې بهتر که هغه خبره وي او که عمل وي او باید نیت په خیر کې بغیر د سستیا نه ولاړ وي تر هغه وخته پورې چې بدن ورڅخه نه عاجز کیږي لکه په حدیث کې

1 تنبيه النائم الغمر على مواسم العمر لابن الجوزي.

چې راغلي دي د مؤمن نیت تر عمل ښه غوره دی .

❁❁❁

حضرت معاذ ابن جبل فرمايي :

ليس تحسّر أهل الجنّة إلّا على ساعة مرّت بهم لم يذكروا الله- عزّ وجلّ- فيها[1].

ترجمه : د جنت خلک نه خفه کيږي مګر په هغه ساعت چې دوی د الله د ذکر نه بغير تېر کړی وي .

❁❁❁

حضرت معاذ ابن جبل فرمايي :

إنّ كلّ مجلس لا يذكر العبد فيه ربّه تعالى كان عليه حسرة وترة يوم القيامة .[2]

ترجمه : هر مجلس چې بنده په هغه کې الله ياد نه کړي د قيامت په ورځ به دده لپاره د خفګان لامل وي .

❁❁❁

[1] الوابل الصيب
[2] الوابل الطيب

امام رازي فرمايي :

والله إنني أتأسف في الفوات عن الاشتغال بالعلم في وقت الأكل، فإن الوقت والزمان عزيز .[1]

ترجمه : زما د په الله قسم وي چې زه خفه کيږم چې په مشغول کېدلو زما د خوراک د وخت له علم نه ځکه وخت او زمانه قېمتي شی دي .

❁❁❁

امام ابن القيم فرمايي :

إضاعة الوقت أشد من الموت لأن إضاعة الوقت تقطعك عن الله والدار الآخرة والموت يقطعك عن الدنيا وأهلها .[2]

ترجمه : د وخت ضائع کول له مرګ نه سخت دي ځکه د وخت ضائع کول تا له الله او د آخرت له ژوند څخه لرې کوي .

❁❁❁

ابن عطاء الله السکندري د وخت په اړه فرمايي :

[1] عيون الأنباء في طبقات الأطباء
[2] الفوائد

لا تنفق انفاسک في غير طاعة الله ولا تنظر الى صغر النفس بل انظر الى مقداره و الى ما يعطى الله فيه للعبد ، فا لانفاس جواهر ،

و هر رايت احداً يرمي جوهرة على مزبلة؟ .[1]

ترجمه : خپل نفسونه د الله د طاعت نه بغير په بل څه کې مه مصرف کوه او د نفس وړوکوالي ته مه ګوره بلکه مقدار ته یې وګوره او هغه څه ته وګوره چې الله یې په هغه کې بنده ته ورکوي دا نفسونه ټول غمي دي او تا څوک لیدلي چې چا غمی په ګند کې غورځولی وي؟ .

❁❁❁

حضرت عمر حضرت موسی اشعري ته یو لیک واستولو پکې یې لیکلي وو :

اما بعد فان القوة فى العمل ان لا تؤخر عمل اليوم الى الغد فانكم اذا فعلتم ذلک تداركت عليكم الاعمال اى تتابعت و تكاثرت فلم تدرو بايها تاخذون ، فاضعتم .[2]

ترجمه : بېشکه په کار کې قوة دادی چې د نن ورځې کار سبا ته پاتې نه کړل شي نو چې تاسې داسې وکوئ نو تاسې ته به عملونه پاتې شي او په تاسې باندې به زیات شي نو بیا به تاسې ته

[1] تاج العروس
[2] الخطب و المواعظ لابي عبد القاسم بن سلام .

دا نه معلوميږي چې کوم کار اول وکوئ نو تاسې به کارونه ضائع کړئ .

❁❁❁

حضرت حسن بصري فرمايي :

اى انسانه ته د دوو سپرليو په مينځ کې يې چې يو د بل ته ورکوي شپه ورځې ته او ورځ د شپې ته حواله کوي تردې چې آخرت ته د ورسوي لتا څخه ډير به څوک په خطر کې وي؟ .[1]

په هفته کې يو ځل قرآن کريم ختم

حضرت قتادة بن دعامة لوی عالم او د ښه شخصيت خاوند وو په ٦٠ هجري کې پيدا شوی وو او په ١١٨ کې وفات شوی دی دا د وخت په ساتنه کې ډير تکړه ووه او هيڅ يوه لحظه به يې ضائع کېدلو ته نه پرېښوده امام ذهبي په سير اعلام النبلاء کې دده ذکر کړی دی او دده سوانح او د ژوند لويې واقعې يې نقل کړې دي او دده په اړه هلته فرمايي :

حافظ العصر، قدوة المفسرين و المحدثين كان من اوعية العلم، و ممن يضرب به المثل في قوة الحفظ.

---

[1] الزهد للبيهقي

ترجمه : حافظ د زمانې وو د مفسرینو او محدثینو مقتدی دی د هغه کسانو څخه دی چې ډېر علم یې یاد وو او د هغه کسانو څخه دی چې د حافظې د قوت لپاره به په مثال کې وړاندې کېدو دده په اړه سلام بن ابي مطیع فرمایي :

کان قتادة یختم القرآن في سبع و اذا جاء رمضان ختم في کل ثلاث فاذا جاء العشر ختم کل لیلة.

ترجمه : قتاده به په اوو ورځو کې قرآن ختمولو او کله به چې رمضان راغلو نو په هرو دریو کې به یې ختمولو او کله به چې آخري لس شوې نو په هره شپه کې به یې ختمولو.

دده په اړه معمر فرمايي :

قتاده د سعید ابن مسیب سره آته ورځې پاتې شو بله ورځ حضرت سعید ابن مسیب ورته وفرمایل : بس د تره زویه لما څخه ولاړ شه زما نه خو دې اوبه وویستې (څه علم چې زما سره وو هغه د راڅخه واخیست)

صعق ابن حزن دده په اړه فرمايي چې حضرت سعید ابن مسیب فرمایل : ما اتاني عراقی احفظ من قتادة

(د قتاده څخه د ښې حافظې لرونکی کس ماته بل نه دی راغلی)

ورځ خپل کار کوي

حضرت سفیان الثوري د هجرت په ۹۷ کال کې پیدا شوی وو او په ۱٦۱ کې وفات شوی دی عبد الرحمن ابن مهدي فرمايي مونږ له حضرت سفیان الثوري سره ناست وو هغه یو دم توپ کړل او ویې ویل :

النهار یعمل عمله

ترجمه : ورځ خپل کار کوي (یعني که مونږ همداسې کینو او که کار وکوو ورځ خپل کار کوي لګیا دی چې په هره ثانیه او دقیقه کې زمونږ عمرونه کموي مونږ هم باید همداسې پاتې نشو او څه کار پکې وکوو) .

اول درس بیا سلام

هغه کس چې د خپل وخت قدر و پېژني خامخا به د هغه ساتنه کوي او هغه به خپل وخت ضائع نه کړي او نه به د یو غیر ضروري کار لپاره کوم ضروري کار پرېږدي پدې اړه د حضرت سفیان الثوري یوه واقعه د قدر وړ ده کله چې هغه لاړو د حضرت حماد بن سلمة څخه یې د یو حدیث زده کول غوښتل چې کله ورسره مخامخ شو نو یې ورته وویل هغه د ابي العشراء حدیث چې د پلار نه یې روایت کړی دی ماته ووایه :

حضرت حماد بن سلمة ورته هغه حدیث شروع کړو کله یې چې ختم کړو بیا حضرت سفیان ثوري حماد بن سلمة ته سلام واچولو او هغه ته یې غاړه ورکړه او ستړي مشي یې ورسره وکوله نو حماد بن سلمة ورته وویل :

ته څوک یې؟

حضرت سفیان ثوري ورته وویل زه سفیان یم

هغه ورته وویل : سعید؟

حضرت سفیان ورته وویل : هو

د سعید زوی؟

هو

ثوري؟

هو

ابو عبد الله؟

هو

بیا حضرت حماد بن سلمه ورته وویل : بیا د په اول کې (د خبرو له شروع نه وړاندې) سلام ولې وانه اچولو بیا به د د حدیث پوښتنه کړې وه .

حضرت سفیان ورته وویل : ځکه زه پدې ډاریدم هسې نه چې د سلام په وجه د حدیث زده کړه وروسته شي او پدې مینځ کې څه حادثه وشي او لما نه حدیث پاتې شي او که سلام پاتې شي نو خیر دی .

پدې واقعه کې ښکاره کیږي چې د سفیان ثوري څومره زیات شوق وو چې له خپل وخت نه فایده پورته کړي او له حضرت حماد بن سلمة څخه یو حدیث زده کړي ده له هغه سره سلام او ستړي مشي هرشی پریښودل او اول یې ورڅخه حدیث واوریدو بیا وروسته یې ورسره ستړي مشي وکوله نو لدې څخه ښکاره کیږي چې اصلي مقصد او هدف صرف د هغه حدیث زده کول وو چې د حضرت حماد زده وو نو پدې ډول د وخت قدر کول او د وخت ساتنه کول ددې لامل شو چې هغه د علم بحر شو او په هغه وخت کې لا څه چې اوس یې هم مونږ نوم د علم په آسمان کې د یو ځلانده ستوري په ډول اخلو .

حضرت حماد د مانځه په حالت کې وفات شو

حضرت حماد بن سلمة تقوى دار او د ښه علميت خاوند وو د هجرت په ۹۱ کال کې پيدا شوى وو او په ۱٦۷ هجري کې وفات شوى دى په علم نحو کې يې ښه مهارت درلود له مشهورو عابدينو څخه وو د هغه يو شاگرد عبد الرحمن بن مهدي دده په اړه

فرمايي که چېرته زمونږ استاذ حماد بن سلمة ته ويل شوي واى چې ته سبا مړ کېږې هغه په خپل عمل کې هېڅ زيادت نشواى کولى (ځکه چې د هغه هسې هم ټول وخت په ذکر او عبادت باندې تېرېدو) دده په اړه يو بل عالم موسى بن ا سمعيل التبوذکي فرمايي :

که زه تاسې ته ووايم چې ما په ټول عمر کې حماد بن سلمه په خندا نه دى ليدلى نو زه به رښتيا وايم هغه په هر وخت مصروف وو يا به يې حديث بيانولو ، يا به يې تلاوت کاوه، يا به يې تسبيح ويله او يا به يې مونځ کاوه او خپله ورځ يې په همدې باندې تقسيم کړې وه .

مشهور مؤدب يونس المؤدب دده په اړه فرمايي چې حضرت حماد پداسې حالت کې وفات شوى چې دى په مانځه ولاړ وو .

امام ابو یوسف

امام ابو یوسف چې په قاضي القضاة باندې یې شهرت درلود د حضرت امام ابي حنیفه خاص شاګرد او خاص ملګرى وو او په ۱۱۳ هجري کې پیدا شوى وو او په ۱۸۲ هجري کې وفات شو د حضرت امام ابي حنیفه د علم په نشر کې خاص رول لري او د عباسي دور د دریو بادشاهانو مهدي، هادي او الرشید قاضي وو او په دنیا کې دى یوازینى هغه کس وو چې د قاضى القضاة لقب ورته ورکړل شوى وو او په هغه وخت کې به د دنیا د قاضیانو قاضي (قاضى قضاة الدنیا) ورته ویل کېدل په یوه دیني مسئله کې یې په هغه وخت کې هم بحث کاوه چې ځانکدن یې وو او د هغه کسانو سره چې دده د ځانکدن په وخت کې دده په خوا کې ناست وو او دده د حال پوښتنې ته راغلي وو د هغوى سره یې په فقهي مسائلو کې بحث کاوه ترڅو ده ته او یا بل چاته لدې بحث نه فایده وشي د همدې بحث په دوران کې یې له فاني دنیا څخه سترګې پټې کړې یعني تر هغه لحظې پورې یې هم خپل قیمتي وخت لږ هم ضائع کېدلو ته نه پرېښودو او فایده یې ورڅخه اخستل غوښتل .

دده یو مشهور شاګرد قاضي ابراهیم بن الجراح الکوفي دده په اړه فرمایي امام ابو یوسف بېمار شو زه ورغلم چې د حال پوښتنه یې وکوم

زه پداسې حالت کې هلته ورغلم چې هغه د بیماري د شدت له امله بې هوښه وو کله چې را بیدار شي نو د یوې مسئلې په اړه یې راڅخه پوښتنه وکوله او راته یې وویل د هغه فلانۍ مسئلې په اړه ته څه نظر لرې؟ ما ورته وویل پدې حال کې؟ ده وویل څه پروا نه کوي کېدای شي زمونږ په خبرو سره چاته نجات نصیب شي مونږ به درس کوو ..

بیا یې راته وویل ابراهیمه! دا راته ووایه چې په حج کې جمرې ویشتل په پیاده غوره دي او که پداسې حالت کې چې انسان په کومه سپرلۍ باندې سپور وي؟ ما ورته وویل په سپرلۍ ده راته وویل : خطاء شوې ما ورته وویل پیاده ده راته وویل : خطاء شوې بیا ما ورته وویل نو ښه ته راته ووایه الله د لتا څخه راضي شي .

ده راته وویل : د کومې جُمرې سره چې دعاء ته درېدل وي نو هغه په پیاده سره ویشتل غوره دي او له کومې سره چې دعاء ته درېدل نه وي هغه په سپرلۍ سره غوره وي ددې مسئلې د آورېدلو سره زه له ده څخه پاڅېدم چې دروازې ته نه وم رسېدلی د ژړا اواز مې واورېدو پدې وخت کې وفات شو الله یې د جنتونه نصیب کړي .

دده ددې واقعې په اړه علماء فرمايي چې پدې وخت کې ده له ځان څخه شیطان لرې شړل غوښتل او پدې وخت کې د شیطان څخه د ځان ساتلو وخت وي

نو ددې امله ده ښه وګڼله چې پدې وخت کې د شیطان د ویشتلو د مسئلې په اړه بحث وکوي .

نو هغه کسان چې په رښتیا سره یې د وخت قدر پېژندلی وي هغوی داسې وي هغوی نه غواړي چې یوه لحظه د خپل ژوند څخه ضائع کړي اګر که هغه د دوی د ځانکدن وخت هم وي دوی ورڅخه فایده پورته کول غواړي .

حضرت امام ابو یوسف به اکثر د خپل استاذ حضرت امام ابي حنیفه سره ملګری وو او نه به یې غوښتل چې یوه لحظه هم له هغه څخه لرې شي او هغه کومه خبره وکوي او هغه خبره له ده څخه تېره شي او پدې ډول ده له هغه سره ۱۷ او یا ۱۹ کاله تېره کړل او نه د اختر په ورځ او نه په بل حالت کې له هغه څخه لرې شو ترڅو به چې جوړ وو نو دده په خوا کې به وو چېرته به چې هغه تلو دی به ورسره وو یو وخت دده ماشوم زوی وفات شو نو ده فکر کاوه که زه دخپل زوی جنازې تجهیز او تکفین ته ورشم نو د امام صاحب مجلس لما څخه پاتې کیږي او دا بل غټ نقصان وي که پدې وخت کې لما څخه دده په مجلس کې بحث کړل شوې مسئلې پاتې شي نو خپلوانو او همسایه ګانو ته یې ور په غاړه کړه چې د ماشوم تکفین او تجهیز وکوي او خپله یې پکې ګډون ونه کولو .[1]

---

[1] الجواهر المضية للحافظ القرشي

❋❋❋

ضرت وکیع ابن جراح فرمایي :

یو کس د حضرت امام ابي حنیفه نه پوښتنه وکوله چې انسان څه وکوي چې د فقهي مسئلو په یادولو کې ورسره مرسته وکوي؟ امام ابو حنیفه ورته وویل چې خپل زړه دې ورته را ټول کړي

هغه کس ورته وویل زړه څنګه را ټول کړي؟

امام صاحب ورته وویل : د خلکو سره دې خپلې علاقې قطع او حذف کړي .

هغه کس وویل د خلکو سره علاقې څنګه حذف کړي؟

امام صاحب ورته وویل : صرف هغه شی دي اخلي چې ورته حاجت یې وي او په دنیاوي شیانو کې د له حاجت زیات شی نه غواړي .

❁❁❁

قاضي عياض د الربيع بن سليمان المرادي (د حضرت امام شافعي شاګرد وو په ۱۵۰ هجري کې پيدا شوی وو او په ۲۰٤ هجري کې وفات شوی دی) نه نقل کړي دي چې حضرت امام شافعي به شپه په دريو برخو تقسيم کوله په اوله برخه کې به يې ليکل کول او په دوهمه برخه کې به يې مونځ کولو او په دريمه برخه کې به ويده کېدو.[1]

دا صرف امام شافعي نه بلکه د اکثر علماوو به همدا طريقه وه چې هغوی به خپله شپه په دريو برخو تقسيم کوله او چې کومې به ضرورې مطالعې وې هغه به يې شپې ته پرېښودې چې په شپه کې خاموشي وي او مطالعه په ښه ډول سره کيږي .

❁❁❁

ابو زيد الانصاري سعيد بن اوس (په ۲۱۵ هجري کې وفات شوی دی) لوی عالم دی د هغه ځانکدن وو د هغه شاګرد ابو عثمان المازني ورغلو ده ورته وويل په سينه کې مې درد دی شاګرد يې ورته وويل امرِخه؟ (د (ر) په زير سره يعني

---

[1] **الالماع الی اصول الرواية و تقييد السماع**

مالش یې کړم؟) ده مبارک په ځانکدن کې ورته ویل نه داسې مه وایه دا لفظ داسې دی امرُخه (د (ر) په پېښ سره) .

شاګرد یې فرمایي زه ورته حیران شوم پدې حالت کې هم دی ماته الفاظ را زده کوي او راته ښیي چې کوم لفظ څنګه ووایم . [1]

یو قلم په یو دینار

محمد بن سلام البیکندي لوی عالم دی په ۲۲۷ هجري کې وفات شوی دی د خپل شیخ په مجلس کې ناست وو او دیني مسئلې بیانېدلې او شاګردانو لیکلې پدې دوران کې دده قلم مات شو یا یې کار پرېښود نو ده یو دم اواز وکولو یو قلم په یوه دینار څوک ورکوي؟ او دینار د سرو زرو سیکه وي چې څه د پاسه څلور ګرامه وي نو ده ته له هر لوري نه قلمونه ور واچول شول او ده پکې یو واخیست دا ددې امله چې ده نه غوښتل چې یوه لحظه هم له ده څخه خبرې تېرې شي او ده نه غوښتل چې یوه مسئله هم داسې راشي چې زه یې ونه لیکم . [2]

په پورتنۍ واقعه کې چې طالب د درس په دوران کې په یو دینار (٤.۲٥ ګرامه سره زر) باندې یو قلم اخلي هغه د وخت قدر او اهمیت پېژندلی

[1] كتاب النوادر لابي زيد
[2] عمدة القاري

دی هغه ته دا خبره وړه ښکاره کېده چې یو دینار دده له لاسه وزي لکن دا ورته د قبول وړ نه ښکاره کېده چې دده محدودې دقیقې په ده باندې بې کاره تېرې شي نو خپل دینار یې قرباني کړو او خپل وخت یې وساتلو .

❁❁❁

حضرت یحیی بن معین د یوه حدیث د زده کړې لپاره چې په هغه کې راغلي دي چې رسول ﷺ په حضرت اسامه بن زید باندې تکیه کړې وه ... د خپل شیخ حضرت محمد بن الفضل خوا ته ورغلو او غوښتل یې له هغه څخه دا حدیث واوري او زده کړي کله چې د هغه په مجلس کې د هغه مخې ته کېناستلو او هغه ورته په حدیث ویلو باندې شروع وکوله نو هغه داسې شروع وکوله او ویې ویل : حدثنا حماد بن سلمة .... پدې ځای کې حضرت یحیی ورته وویل : که دا حدیث مونږ ته له خپل کتاب نه ووایې ...؟ هغه ورته دا خبره صرف ددې لپاره وکوله چې سره ددې چې حضرت محمد بن الفضل السدوسي یو منلی شوی د حدیثو حافظ او عالم وو لکن بیا هم که هغه له خپل کتاب نه دا حدیث بیان کړي نو نور به هم لا پسې محکم شي نو حضرت محمد بن الفضل د پاڅېدلو لپاره ځان تیار کړو غوښتل یې چې پاڅیږي او

هغه کتاب چې دا حدیث یې پکې لیکلی دی له کور نه راوړي او دوی ته دا حدیث د کتاب نه ووایي پدې وخت کې حضرت یحیی بن معین و ډار شو او فکر یې وکا هسې نه چې پدې وخت کې ترڅو چې هغه له کور نه کتاب را وباسي نو د حدیث د بیان لپاره به څه مشکل مخې ته راشي او ددې حدیث زده کړه به پاتې شي نو خپل شیخ حضرت محمد بن الفضل یې تر جامه را ونیو او او ورته یې وویل چې ښه ده اوس راته له یاده ووایه ځکه زه په دې ډارېږم هسې نه چې پدې لړ وخت کې څه مشکل مخې ته راشي او بیا زه او ته سره مخامخ نه شو نو حضرت محمد بن الفضل ورته هغه حدیث له یادو نه بیان کړو بیا د هغه نه وروسته کور ته ننوت او له کور نه یې هغه کتاب را وویستلو او بیا یې ورباندې له کتاب نه تلاوت کړو .

پدې واقعه کې مونږ ته را ښکاره کېږي چې حضرت یحیی بن معین څومره د خپل وخت نه په فایده پورته کولو کې حریص وو او څومره زیاته وېره یې وه چې له ده څخه وخت ضائع نشي او یو فرصت چې دده لاس ته ورغلی دی بېرته یې له لاس نه ونه وزي او چې هرڅنګه وي دی ورڅخه فایده پورته کړي او ګټه ورڅخه واخلي او ددې واقعې نه مونږ ته اوس ددې خبرې راز را ښکاره کېږي چې حضرت یحیی بن معین څنګه وکولی شوای چې په زرګونو حدیثونو روایت ، نقل ، جمع او حفظ کړي او

صرف حضرت یحیی بن معین نه بلکه د حدیثو دا علماء او مشران ټول همداسې د خپل وخت په ساتنه کې سخت وو لکه حضرت امام احمد بن حنبل ، حضرت امام بخاري ، حضرت امام مسلم ، حضرت ابي داود ، حضرت ترمذي او نسائي او داسې نور .

❁❁❁

په بله واقعه کې هم حضرت یحیی بن معین د یو حدیث زده کړې ته همدومره تلوار کړی دی لکه په پورتنۍ واقعه کې امام خطیب البغدادي له ابي جعفر بن نفیل عبد الله بن محمد بن علي بن نفیل الحراني الحافظ نه نقل کړي دي چې مونږ ته حضرت احمد بن حنبل او یحیی بن معین راغلل لما څخه یحیی بن معین پداسې حالت کې چې ماته یې د سترې مشي غاړه راکړې وه پوښتنه وکوله او راته یې وویل : ای ابا جعفره تا معقل بن عبد الله ته یو حدیث ویلی وو په هغه کې وو چې د حائضې ښځې لږ تر لږه موده یوه ورځ ده؟ حضرت احمد ابن حنبل ورته وویل : چې ناست وی ؟ (یعني دومره صبر به دې کړی وو چې ناست وی نو بیا به دې پوښتنه کړې وه) ده

ورته وویل : اکره ان نموت او نفارق الدنیا قبل ان اسمعه .

ترجمه : زه دا بد ګڼم چې مونږ مړه شو او یا له دنیا څخه جدا شو مخکې لدې چې زه هغه حدیث واورم .[1]

په ځانکدن کې دیني پوښتنې ته ځواب ویل

ابو محمد بن ابي حاتم الرازي فرمایي :

کله چې زما د پلار آخري سلګۍ وې او ځانکدن یې وو پدې وخت کې زما ذهن ته یوه پوښتنه راغله او پدې وخت کې ما له خپل پلار نه پوښتنه وکوله چې حضرت ابي نهار عقبة بن عبد الغافر العوذي البصري (جلیل القدر تابعي دی) د رسول ﷲ په صحبت مشرف شوی وو؟ پلار مې پداسې حالت کې چې د ځانکدن حالت یې وو او ژبه یې په پوره توګه نشوای چلېدلی ماته وویل نه ...[2]

پدې وخت کې د زوی په زړه د پلار د جدایي غم هغه له پوښتنې څخه منع نه کړو او په پلار باندې د ځانکدن سختي او تکلیف له ځواب ورکولو

---

[1] الجامع لاخلاق الراوي و اداب السامع

[2] **کتاب الجرح و التعدیل لابي حاتم الرازي**

ځخه منع نه کړو هغه د علم سره خپله مينه ښکاره کړه او پوښتنه يې وکوله او پلار يې خپل زوی ته د ديني فايدې ورکولو په جذبه هغه ته په داسې حالت کې ځواب وويلو چې ژبه يې په پوره توګه نشوای چلېدلی .

ابو العباس به په لاره هم کتاب کتلو

امام ابو العباس احمد بن يحيى بن زيد الشيباني لوی عالم او د علم النحو او لغت امام وو په ۲۰۰ هجري کې پيدا شوی وو او په ۲۹۱ کې يې له دنيا نه سترګې پټې کړې دي تر وفات وړاندې په غوږونو کوڼ شوی وو امام المرزباني دده د وفات واقعه نقل کړېده هغه فرمايي چې امام ابو العباس د جُمعې په ورځ د مازيګر مانځه نه وروسته راستون شو خپل کور ته روان وو او يوه ډله ملګري چې زه هم پدې ډله کې وم په ده پسې وو له شا نه د ابراهيم بن احمد المادرائي زوی په مونږ پسې راغلو چې ورپسې يو بل خادم روان وو او هغه په بله سپرلی وو چې مونږ ته را ورسېدل د خادم سپرلی تور و خوړو او بل شان حرکات يې شروع کړل پدې وخت کې د امام ابي العباس په لاس کې کتاب وو هغه ته يې کتل او په لاره تلو نو مونږ چې د

آسونو د پښو اواز واورېدو نو يو طرف ته شوو او لاره مو ورته پرېښوده او ده مبارک لکه چې مخکې تېر شول غوږونو يې کار پرېښى وو او هر ډول اواز يې نه آورېدو نو د سپرلى د پښو اوازيې هم وا نهورېدو د خادم تورېدلې سپرلى هغه تېله کړو او ورسره ولګېده لدې سره هغه د لارې په خوا کې يوې ژورې کندې ته ور وغورځېدو او په خاورو باندې خړ شو چې مونږ را پورته کړو هغه په پښو نشواى درېدلى مونږ هغه کور ته يوړو د سر نه يې شکايت کولو په غورځېدلو کې يې سر لګېدلى وو بالآخره له همدې نه وفات شو .

❀❀❀

ابو هلال العسکري يو کتاب ليکلى دى (الحث على طلب العلم و الاجتهاد في جَمعه) په هغه کې يې ليکلي دي چې امام ثعلب لوى عالم او بزرګ سړى وو هغه به کله هم له خپل کتاب څخه نه جدا کېدو هر وخت به يې په يو کتاب کې کتل او کله به چې چا کومې مېلمستيا او دعوت ته ور وغوښت هغه ته به يې ويل په يو شرط ستاسې دعوت منلى شم چې ماته به دومره د کېناستلو ځاى راکوئ چې زه هلته کېنم او خپل کتاب وګورم بيا به په دعوت يا پروګرام کې چې ناست وو چې خوراک او يا بل څه داسې شى به نه وو چې دى به يې مصروف کولو نو ده به په خپل کتاب کې کتل .

امام ابن جریر طبري

امام ابن جریر الطبري مفسر قرآن دی او الله ورته په قرآني علومو کې ډېر لوړ شان ورکړی دی شیخ المفسرین او محدثین ورته ویل کیږي د وخت په ساتلو کې دا یوه نمونه وه ده به چې څومره د وخت قدر کاوه او ساتنه به یې کوله د بل چا تر وس تېره وه د همدې کوښښونو او زیار نتیجه وه چې تصنیفات یې داسې عدد ته ورسېدل چې انسان حیرانوي علامه یاقوت الحموي دده په اړه لیکنه کړې چې ٥٦ مخه ده او خطیب بغدادي هم په خپل کتاب تاریخ بغداد کې دده ستاینه په ډېرو عجیبو الفاظو سره کړېده هغه د ابي القاسم بن عقیل الوراق له پلوه حکایت کوي چې ابو جعفر الطبري خپلو ملګرو ته وویل : تاسې د قرآن کریم یو تفسیر ته اړتیا نه لرئ؟ دوی ورځخه وپوښتل څومره تفسیر به وي؟ امام طبري ورته وویل داسې دېرش زره صفحې دوی ورته وویل ددې په لوستلو کې خو به عمرونه ختم کیږي که دا تاسې په دری زره صفحو کې را مختصر کړې نو ښه به وي بیا یې د تفسیر طبري په لیکنه باندې شروع وکوله او په اوو کلونو کې یې پوره کړو .

بیا یې خپلو ملګرو ته وویل چې یو تاریخ نه تیاروو د حضرت آدم نه تر دې وخته پورې؟

دوی ورځخه پوښتنه وکوله چې څومره به وي ده مبارک بیا ورته وویل : داسې دېرش زره صفحې دوی ورته بېرته هماغه خبره تکرار کړه چې د تفسیر په اړه یې ورته کړې وه او د تفسیر په ډول یې تاریخ هم را مختصر او ختم کړو او دواړه کتابونه یې نمونې او ذخیرې دي .

❋❋❋

حضرت ابن جریر طبري (چې نورې واقعې یې هم مخکې تېرې شوې دي) د ښه علم خاوند تقوی دار عالم وو دده په اړه قاضي ابو بکر بن کامل احمد بن کامل الشجري د ابن جریر شاګرد او ملګری یې فرمایي چې امام صاحب خپل ټول ۲٤ ساعته په داسې کارونو کې تقسیم کړې وو چې دده او د خلکو لپاره غوره وو هغه به د غرمې په وخت کې د کتان جامې واغوستلې چې په ګرمۍ کې په بدن ښې لګیږي د خوراک نه وروسته به ویده شو د ماسپښین مونځ به یې چې وکولو نو تر مازیګر پورې به په لیکنه باندې مصروف وو او په خپلو تصنیفاتو کې به یې کار کاوه د مازیګر مانځه ته به چې ووتلو نو د مانځه نه وروسته به کیناستلو خلکو ته به یې سبقونه ویل او له خلکو به یې آورېدل او دماښام نه وروسته به یې د نورو دیني درسونو او فقهي درسونو شروع وکوله د شپې تر ناوخته پورې به په همدې ډول

مصروف وو بيا به کور ته لاړو او پدې ډول به يې خپله شپه او ورځ په داسې کارونو کې تقسيم کول چې دده او خلکو لپاره به غوره کار وو او په همدې ډول الله ورته توفيق ورکړی وو .

❁❁❁

د حضرت ابن جرير طبري په اړه استاذ محمد علي کردعلي په کتاب (کنوز الاجداد) کې ليکلي دي چې د امام ابن جرير طبري په اړه دا خبره نه ده ثابته شوې چې هغه يوه دقيقه هم په داسې کار کې تېره کړې وي چې په هغه کې ده نه فايده اخيستې وي او نه يې چا ته فايده ورکړې وي حضرت معافي بن زکريا د بعض ثابتو او ثقاتو خلکو نه روايت کړی دی چې ده ته ابي جعفر الطبري پداسې حالت کې را حاضر شو چې دده آخري لحظې وې او د هغه نه تقريباً يو ساعت او يا تردې نه هم لږ وخت وروسته وفات شو ده ته يې يوه دعا ولوسته چې د جعفر بن محمد نه نقل شوې وه نو د رنګ بوتل او قلم او دليکلو نور شيان يې را وغوښتل او هغه دعاء يې وليکله چا ورڅخه پوښتنه وکوله پدې حال کې؟ يعني ته پداسې تکليف کې يې اوس هم ته ليکل غواړې؟ ده

ورته وویل انسان باید تر مرګه پورې د علم جمع کول او زده کول او ساتل پرې نه ږدي .[1]

✵✵✵

د امام جرير الطبري په اړه علماء فرمايي :

د امام ابن جرير الطبري ياد د هغه د خدماتو او تصنيفاتو په وسيله دادی زمونږ تر زمانې پورې پاتې دی که ددې نه بغير بل هرشی وي تر دومره وخت پورې د کوم کس نوم ژوندی نشي ساتلی که ددې په ځای د کوم انسان د لمسيانو زامنو تعداد تر شلو پورې هم ورسيږي او يا تردې هم لا زيات خو چې مړ شي تر يو څه وخت وروسته يې نوم له خلکو هېر شي او ياد يې له دنيا څخه ختم شي لکن د هغه تصنيفاتو او خدماتو د هغه نوم ژوندی او تازه ساتلی دی او ساتي يې لکه امام ابن قيم چې فرمايي : كتاب العالم ولده المخلد

(د عالم کتاب د هغه داسې زوی دی چې نه مړ کيږي) يعني دده نوم همېشه ژوندی ساتي .[2]

✵✵✵

---

[1] **کنوز الاجداد**

[2] صيد الخاطر

حضرت ابو اسحاق البکري د مالکي مذهب وتلی او جید عالم وو الله ورته د علم په طلب کې نه ختمېدونکي حوصله ورکړې وه او د خپل وخت په ساتنه کې ډېر سخت وو او تر ممکنه حده پورې یې پکې زیار وېسته په ۲۷۹ هجري کې پیدا شوی وو او په ۳٦۹ کې وفات شوی دی ابو القاسم اللبیدي یې په اړه فرمایي ډېره ښکلې حافظه یې وه چې یو ځل به یې یو څه یاد کړل بیا به ورڅخه نه هېرېدل او په خپل لاس یې ډېر کتابونه لیکلي دي او په اختلاف د علما وو کې ډېر زیات پوه وو او ښه علم یې پکې درلود د خوبونو تعبیر کې یې مهارت وو او په ښه طریقه سره یې د خوبونو تعبیر ویستلو او الله ورته په عربي علومو کې هم ښه مهارت ورکړی وو قرآن کریم یې په ډېره ښه توګه لوستلو او په علم تفسیر کې یې زیات معلومات درلودل او د خپل وخت ساتنه به یې داسې کوله چې په ټوله ورځ او شپه کې د لږ وخت لپاره هم د درس او تدریس څخه نه خلاصېدو او یو وخت چې وربانديې داسې راغلو چې نظر یې کار پرېښودو او بیا یې لوستل نشوای کولی نو بیا به یې زوی (ابا الطاهر) ته کتاب په لاس کې ورکړو هغه به لوستلو او ده به ترېنه آورېدلو او پدې ډول یې خپله مطالعه او زده کړه جاري ساتلې وه .[1]

---

[1] جهمرة تراجم السادة الفقهاء المالکیة

❋❋❋

ابن الفرات البغدادي لوی عالم تېر شوی دی او علم حديث ته يې لوی لوی خدمتونه کړيدي او په زرګونو شاګردان يې روزلي دي په تاريخ بغداد کې دده په اړه فرمايي چې دا ابي الحسن محمد بن العباس بن احمد بن محمد بن الفرات البغدادي په ۳۱۹ هجري کې پيدا شوی دی او په ۳۸٤ کې وفات شوی دی حديث يې د ډېرو زياتو خلکو نه آورېدلي وو او زيات کتابونه يې درلودل او پدې اندازه احاديث يې جمع کړي وو چې بل چا دده په وخت کې نه وو جمع کړي اوی دی چې کله وفات شو نو د کتابونو نه يې لوی لوی ۱۸ بکسونه ډک وو اکثر پدې کې دده د خپل لاس ليکل وو او د کال ۳۳٦ هجري نه يې په مسلسله توګه ليکل شروع کړي وو تردې چې وفات شو او دا دومره زيات ليکل او دا لويې علمي خزانې يې ټولې د شپې ليکلي دي او د ورځې به له ده سره دومره وخت نه وو چې دی پکې ليکل وکوي بلکه ګرځېدو به په علماوو پسې زده کړې به يې کولې او په درس او تدريس کې به مصروف وو نو د شپې به يې دا ټول ليکل کول او دده ليکنه به د خبرې د صحت لپاره يو دليل وو.[1]

---

[1] تذکرة الحفاظ للذهبي او تاريخ بغداد للخطي

کله چې دده په اړه انسان په کتابونو کې معلومات ګوري نو انسان فکر کوي چې دې خلکو په هغه وخت کې ددې خپل وخت نه څه ډول استفاده کړې وه هغه چې يو داسې وخت وو چې د ژوند سهولتونه دومره کم چې د اوس سره مقايسه کړل شي نو د نشت برابر وو لکن بيا هم دوی پکې داسې کارونه کړي دي چې انسان د انصاف په نظر ورته وګوري انسان حيرانوي په اوس وخت کې چې دومره زيات اسباب او سهولتونه موجود دي خلک په هغه اندازه ليکنې ولې نشي کولی؟ فرق يې صرف دادی چې اوس خلک د وخت دومره قدر نه کوي لکه هغوی به چې کولو له يوه پلوه به هغوی د وخت ډېره په توجه سره ساتنه کوله او له بله پلوه يې الله ورته په وخت کې برکت اچولو او لا د زيات زيار او کوښښ توفيق يې ورکولو .

❁❁❁

امام النحو منذر المرواني النحوي ته يو لقب ورکړل شوی وو (المذاکرة) يعني بحث او دا ددې امله ورکړل شوی وو چې ده به هرڅوک هر چېرته ليدل ده به ورسره د علم نحو په کومه خبره باندې بحث کولو او ددې په ځای چې په هسې خبرو کې له چا سره مصروف شي نو يوه علمي موضوع به يې ورسره را واچوله په هغه اړه به که له ده سره د زياتي معلوماتو ضرروت وو نو ده به زده

کړل او که هغه ته به د معلوماتو ضرورت وو نو ده به هغه ته پرې معلومات ورکړل ابن حزم دده په اړه ویلي دي چې دی په ۳۹۳ هجري کې وفات شوی دی .[1]

❋❋❋

امام ابن المکوي القرطبي په خپل وخت کې د اندلس د فقهاوو امام وو په ۳۲٤ هجري کې پیدا شوی او په ٤۰۱ هجري کې وفات شوی دی دده په اړه قاضي عیاض په ترتیب المدارک کې فرمایلي دي چې دده مطالعه ډېره زیاته خوښه وه او د خپلو ورځنیو مشکلاتو لپاره یې د رخت فروشي په مارکېټ کې د رخت تجارت کاوه او چې ناست به وو او یا به چېرته تلو نو خپل کتاب به یې په لاس کې وو چې د یو څو ثانیو لپاره به ورسره وخت پیدا کېدو نو په هغه کتاب کې به یې کتل چې د یو عید په ورځ دده ملګری ورغلو او د هغه د مېلمنو د کېناستلو د کوټې دروازه خلاصه وه نو ملګرې یې ورغلو په هغه کوټه کې کېناستو انتظار یې ویسته چې دی راشي ملګرې یې ډېر زیات تنګ شو ډېر وخت تېر شو چې رانغلو د اوږده انتظار وروسته ملګري یې ولیدو چې هغه په لاره را روان دی او کتاب ته ګوري تردې چې کوټې ته را ننوت او پدې نه وو خبر چې ماته

[1] نزهة الالباب

مېلمه انتظار کوي او نه يې ليدلی وو په کوټه کې ورته خپل ملګري اواز وکولو نو بيا يې وربانديې نظر ولګېدو او سلام يې پرې واچولو او ستړي مشي يې سره وکوله بيا يې وويل خفه نه شې زه په يوه داسې مسئله لګيا شوی وم چې پرېښودلی مې نه شوای تردې چې الله راته خلاصه کړه او وربانديې پوه شوم هغه مېلمه ورته وويل : د اختر په ورځ او د خلکو د خوشحالي په ورځ؟ ده ورته وويل والله زما ټوله خوشحالي او د زړه راحت او سکون په دې کې دی چې زه څه نوی شی ولولم او څه نوی شی حاصل کړم او په څه نوي علمي نکته باندې پوه شم .[1]

❋❋❋

ابن البغدادي د خپل وخت علامه او د علمونو ذخيره وه د هغه په اړه په تاريخ بغداد کې راغلي دي چې دا يو رښتونی، دين دار، عابد، زاهد او بزرګ سړی وو او دده په اړه مشهور دي چې دی کله هم په خپل طبيعت نه دی ويده شوی بلکه هر وخت به چې هغه ويده کېدو پداسې حالت کې به ويده کېدو چې په ده باندې به د خوب غلبه راغله او دی به بې اختياره څملاستو او ويده به شو او داسې به نه ويده کېدو لکه چې

1 ترتيب المدارک لقاضي عياض

څوک ځملي او انتظار وباسي چې خوب ورشي دی مبارک په ٤٠٤ هجري کې وفات شوی دی .[1]

امام ابي الطاهر محمد بن محمش الزيادي النيساپوري فقيه علامة استاذ الاساتذة او د خراسان له معظمو شيوخو څخه وو په ٣١٧ کې پيدا شوی او په ٤١٠ هجري کې وفات شوی دی د ښو تصنيفاتو خاوند دی او هر تصنيف يې په زړه پورې معلومات لري او دی چې په کومه موضوع باندې بحث کوي هغه طريقه يې هم ډېره په زړه پورې ده او دده په ژوند کې چې ده په کومه طريقه باندې د خپل وخت ساتنه او استعمال کړی دی هغه ډېر عجيب دی په فقهي مسئلو کې دده جواب د سند حيثيت درلود هغه وخت چې دده ځانکدن وو يو پوښتنه کونکی راغلو له ده څخه يې د ضمان الدرک (فقهي مسئله ده کله چې څوک په چا باندې کوم شی خرڅ کړي بيا بل څوک را پيدا شي دعوه وکوي چې دا خرڅ شوی شی خو دده دي او هغه دعوه وګټي اوس خرڅونکی اخستونکي ته د هغه شي قېمت ورکوي) په اړه پوښتنه وکوله نو ده په هغه وخت کې ډېر په سمه توګه ځواب ورکړو او هغه يې مطمئن کړو چې لږ وروسته بيا دی مبارک وفات شو پدې کې دا ډېره عجيبه نه ده

[1] تاريخ بغداد

چې د ځانکدن په وخت کې یو عالم دیني مسئلې ته ځواب وویلو بلکه ډېره عجیب داده چې د ځانکدن په وخت کې دده ذهن څومره ښه کار کولو چې هغه کس یې په سمه توګه پداسې ډول مطمئن کړو چې هغه پدې پوه هم نه شو چې دده بیماري ځانکدن دی او دا دده د ژوند آخري لحظې دي .

❋❋❋

ابو نعیم الاصفهاني د احادیثو حافظ وو او په حفظ کې یې د سند حیثیت درلود خلکو ته به یې د احادیثو درس ورکاوه او خلک به له لرې لرې نه راتلل چې کوم حدیث به یې یاد وو ده ته به یې ور آوراوه او که به څه فرق وو پکې نو ده به یې تصحیح کوله او څرنګه چې ده ته د دنیا د هر ګوټ نه د راغلیو حافظانو تعداد زیات شو بیا به یې په ورځ کې هغوی ته تقسیم ورکاوه او بېل بېل وختونه به یې ورکول او خپل ټول وخت یې د علم حدیث درس تدریس او د حافظانو څخه د احادیثو آورېدلو ته وقف کړی وو حتی چې کله به دی له خپلې درسګاه نه پاڅېدو نو چې کور ته به تلو هم په لاره کې به شاګردانو ورته احادیث تېرول تردې چې هغه به د کور تر دروازه ننوت او کله به چې ده خوراک هم کاوه نو خپلو

شاګردانو او د علم حدیث حافظانو ته به یې غوږ ایښی وو هغوی به ورته تکرار کاوه .[1]

مشهور ریاضي عالم ابي الریحان البیروني چې خپل نوم یې محمد بن احمد الخوارزمي دی په ۳۶۲ هجري کې تولد شوی وو او په ٤٤٠ هجري کې وفات شوی دی نوم یې په ریاضي او علمي دنیا کې خورا زیات قدر لري او د ښه علمیت خاوند وو الله ورته مختلف ډوله علمونه ورکړي وو د علمونو سره سره یې په ډېرو کارونو کې د لاس شکلې صفایي او ښه تجربه درلوده په ډېرو کارونو کې یې ذهن په ښه توګه کار کاوه لکن ده هغه د دنیا کارونه ټول شا ته پریښي وو او په ډېره مینه سره یې د درس او تدریس وظیفه مخ په وړاندې بېوله او د تصنیف او تالیف په کارونو به مصروف وو ډېر کم به داسې وو چې دده په لاس کې به قلم او یا دده په لاس کې کتاب او یا به دده ذهن په کومه مسئله باندې مصروف نه وو او د کوم علمي مشکل په اړه به یې فکر نه کاوه او صرف د اختر ورځې به داسې وې چې ده به پکې خپلو کارونو ته رخصتي ورکوله او په دې ورځو کې به یې د خپلو مېلمنو د پالنې او له هغوی سره د پوښتنې کولو لپاره وخت وقف کړی وو

[1] تذکرة الحفاظ للامام الذهبي

هغه بېمار وو فقیه ابو الحسن علي بن عیسی الولوالجي فرمایي زه دده پوښتنې ته ورغلم او پدې وخت کې دی ۷۸ کلن وو په بستره باندې پروت وو لما نه یې پوښتنه وکوله او راته یې وویل : تا یوه ورځ ماته د جدات فاسده (د میراث مسئله ده) حساب څنګه وویل دا هغه وي چې د مور له اړخه وي؟ ما په ده باندې د ترحم له مخې (چې دی سخت بېمار ښکاره کېدو) وویل پدې وخت کې ته د مسئلې پوښتنه کوې؟ ده راته وویل اې چې زه له دنیا نه پداسې حالت کې ځم چې پدې مسئله پوه وم دا زما لپاره غوره ده چې پداسې حالت کې تړې ځم چې پدې مسئله باندې پوه نه وم (نو که زه ددې مسئلې د پوهې نه وروسته مړ شم زما لپاره دا ښه خبره ده) نو ما هغه مسئله ورته تکرار کړه او ده لما څخه په ښه توګه سره زده کړه او بیا یې ښه یقین ورباندې راوستلو او ما ترېنه رخصت واخیستو زه د دوی له دروازې نه لرې شوی نه وم چې د ننه څخه مې د ژړا اواز واورېدو (هغه وفات شو) نو په رښتیا هم چې هغه دومره لوی نوم کړی وو نو پدې توګه یې د خپل وخت ساتنه کوله او پدې اندازه ورسره د وخت قدر وو چې د ځانکدن په سختیو کې یې هم د یو راغلي مېلمه نه فایده اخیستل ضروري ګڼل .

بيروني صاحب د ډېرو علمونو په خوا کې په پنځو ژبو عربي، سرياني، سنسکرتي، فارسي، هندي باندې رواني خبرې کولې او په ښه توګه وربانديې پوهېدلو او په علم فلک، رياضي، طب، عربي ادب، عربي لغة، تاريخ او نورو فنونو کې يې تاليفات پريښي دي او دده تاليفات تر ۱۲۰ څخه زيات دي.[1]

✵✵✵

امام سليم الرازي په ٤٤٧ کې وفات شوی دی په خپل وخت کې د امام شافعي د مذهب غښتلی امام وو تاج السبکي دده په اړه فرمايي:

دی له لويو بزرګانو څخه وو د خپل ځان سره به يې د خپل وخت حساب کاوه او هېڅ وخت به يې نه پرېښوده چې بې فايدې تېر شي ټول وخت به يې داسې تقسيم کاوه چې يا به يې درس او تدريس کاوه يا به يې لوست کاوه او يا به يې ليکل کول او ليکل به يې زيات کول حافظ ابن عساکر فرمايي زمونږ شيخ ابو الفرج الاسفرايني مونږ ته دده په اړه قصه کوله هغه يوه ورځ کور ته لاړو او بېرته راغلو بيا يې مونږ ته وويل يوه برخه د حديثو مې په لاره کې تلاوت کړو.

---

[1] تراث العرب العلمي في الفلک و الرياضيات

ده خپل وخت په ډېر عجیبه ډول سره ساتلو او چې کله به یې په یو کار کې مخه بنده شوه په بل کار به یې شروع وکوله المؤمل بن الحسن فرمایي ما سُلیم ولیدو چې قلم یې خراب شو او کار یې نه کولو شروع یې وکوله قلم یې سمولو او جوړولو نو ما ولیدل چې د قلم جوړولو په وخت کې یې شونډې ښورېدلې او څه یې ویل نو زه پوه شوم چې امام صاحب نه غواړي چې دا لږ وخت هم دده نه بې فایدې تېر شي په لاسونو باندې یې قلم جوړولو او په خوله باندې یې قرائت کولو څه یې تکرار کول او څه یې لوستل او یا یې د ﷲ ذکر کاوه ترڅو د وخت نه فایده پورته کړي او په داسې کار کې یې مصرف کړي چې ده ته په ښه ورشي .[1]

❁❁❁

خطیب بغدادي چې د ښکلیو کتابونو مصنف پاتې شوی دی او ښکلي اثرات یې پرېښي دي په ۳۹۲ هجري کې پیدا شوی وو او په ٤٦۳ کې وفات شوی دی دی هم د وخت په ساتنه کې یوه نمونه وه او ده به هم زیات کوښښ کاوه چې له هر ډول وخت نه فایده پورته کړي امام ذهبي دده په اړه

---

[1] طبقات الشافعیة الوسطي (د لږ څه تفصیل سره)

فرمایي : کان **الخطیب یمشي و في یده جزء یطالعه** (خطیب به په لاره باندې روان وو او په لاس کې به يې کتاب وو پکې کتل به يې) .[1]

دا کار ده صرف ددې لپاره کاوه چې د خپل وخت نه فایده پورته کړي او وخت هسې هم په مخه روان وي که یو انسان ویده وي ، که چېرته ځي ، که هسې ناست وي او که څه کار کوي نو وخت په هر صورت مخ په وړاندې روان وي او تیریږي پداسې حالت کې چې هغه به په پښو باندې روان وو نو د خپل وخت داسې ساتنه به يې کوله چې په لاره به يې مطالعه کوله سره ددې چې په پښو باندې تلونکی انسان دېته ضرورت لري چې یو بل اړخ ته په غور سره وګوري او مخې ته هم وګوري له مخې نه راتلونکي انسان یا بل شي ته هم وګوري ددې ټولو کارونو سره سره به ده په لاره مطالعه کوله دا یوازې خطیب صاحب نه بلکه د ډېرو علماوو په اړه پدې کتاب کې تاسې لولئ چې هغوی به په لاره د سفر په دوران کې مطالعه کوله نو زه چې دا خبرې لولم نو کله چې زه په کوم موټر او یا بله سپرلي کې ناست خلک وینم چې په ساعتونو ساعتونو دوی ناست وي او ځینې يې صرف فکر کوي او ځینې يې پداسې څه شي باندې ځان مصروف ساتي چې دده په هېڅ ډول ښه نه ورځي نو که دې خلکو اوس لدې خپل وخت نه فایده

1 تذکرة الحفاظ

پورته کول غوښتلی نو دوی په ښه ډول مطالعه او زده کړه کولی شوی او که نور هېڅ نه وي نو تلاوت او د الله ذکر خو کولی شي په همدې ډول کله چې زه کوم ډاکتر ته ورځم او یا بل کوم دفتر ته او هلته د خپل نمبر په انتظار کې ناست خلک وینم چې متعدد ساعتونه د نمبر په انتظار کې وي لکن دوی پدې وخت کې هېڅ کار هم نه کوي مشکل پکې دادی چې اوسني خلک د وخت په قدر دومره نه پوهیږي لکه څومره چې هغوی پوهېدل نو ددې امله یې دوی دومره ساتنه نه کوي لکه څومره به چې هغوی کوله .

❁❁❁

امام الحرمین ابي المعالي عبد الملک بن عبد الله الجُویني النیساپوري الشافعي د امام شافعي په مذهب کې مستند عالم تېر شوی دی په ٤١٩ هجري کې پیدا شوی وو او په ٤٧٨ کې وفات شوی دی امام عبد الغافر په خپل کتاب سیاق نیسابور کې دده په اړه فرمایي چې امام الحرمین فخر الاسلام دی علی الاطلاق د امامانو امام دی هغه کس دی چې دده په امامت باندې د شرق او غرب علماوو اجماع کړیده چې دده په ډول علمیت بیا سترګو نه دده څخه وړاندې لیدلی دی او نه به یې دده څخه وروسته ووینې ده یو وخت ویل : زه کله هم د خپل عادت له مخې نه ویده

کېږم او هغه وخت ویده کېږم چې خوب را باندې غلبه وکوي که د شپې وي او که د ورځې وي او هغه وخت خوراک کوم چې وږی شم که د شپې وي او که د ورځې وي د خپل عادت مطابق په وخت سره خوراک نه کوم او په رښتیا سره هم همدا دده د ژوند طریقه وه کار ، مطالعه او لیکنه به یې کوله چې کله به خوب وربانديې غالب شو نو ویده به شو او چې کله به وږی شو نو خوراک به یې کاوه د خوب او خوراک لپاره یې خاص وخت نه درلود .[1]

امام الایمة ورته ویل کېدو کله چې د پنځوسو کلونو شو نو ټولو خلکو په امامت او بهتري سره منلی وو نو پدې وخت کې یې د یو نحوي عالم سره ملاقات وشو نو د هغه څخه یې د علم النحو زده کړه شروع کړه کله چې شیخ ابو الحسن علي بن فضال بن علي المجاشعي القیرواني النحوي په ٤٦٩ کې د دوی ځای ته ورغلو هغه دده ښه دروند او ګرم استقبال وکولو او دده یې ډېر عزت وکولو او له ده څخه یې د علم النحو زده کړه شروع کړه او ځان یې پدې عمر کې دده شاګرد کړو او هره ورځ به یې دا خپل استاذ کور ته بېولو او له ده څخه یې دده لیکلی کتاب **اکسیر الذهب في صناعة الادب** زده کولو او کله کله به چې ابو الحسن المجاشعي (همدې استاذ) دده ذکر کاوه نو

1 طبقات الشافعیة الکبری

ویل به یې ما بل د علم داسې عاشق نه دی لیدلی لکه دا امام دی په رښتیا د علم عاشق وو او یو علم به یې د بل علم لپاره زده کولو.

❁❁❁

امام ابن عقیل دا امام ابو الوفاء ابن عقیل الحنبلي (علي بن عقیل البغدادي) دی دده په اړه حافظ ابن رجب الحنبلي په ذیل طبقات الحنابلة کې ویلي دي چې ابن عقیل د عالم له بهترینو خلکو څخه دی او د ابن آدم د غوره خلکو څخه شمېرل کیږي د علم دایره یې ډېره فراخه ده او الله ورته ښه معلومات ورکړي دي .[1]

ده به ویل : ماته روا نه دي چې زه یو ساعت هم له خپل عمر نه عبث تېر کړم تردې چې که زما ژبه کار پرېږدي زه لوست او علمي بحث نشم کولی او سترګې مې کار پرېږيد چې بیا زه مطالعه نشم کولی نو زه به خپل فکر ته اجازه ورنه کړم چې بلې خواته لاړ شي بلکه په یوه علمي مسئله به یې راګرځوم او دا چې زه په اتیا کلونو کې یم زما سره چې کومه د علم د زده کړې لپاره جذبه ده هغه تر هغې جذبې نه زیاته ده چې کله زه د آتلسو کلونو وم .

[1] ذیل طبقات الحنابلة

ده مبارک به فرمایل کله چې زه خوراک کوم نو زه داسې خوراک غوره کول غواړم چې په خوراک باندې یې لږ وخت لګیږي ترڅو زما ډیر وخت مصرف نه کړي ده به ویل چې هوښیاران خلک پدې متفق دي چې تر هرشي نه زیات قیمیتي شی زمونږ وخت دی پداسې حالت کې چې په دنیا کې زمونږ کارونه زیات دي او وخت مو کم دی مونږ باید د وخت په سمه توګه مصرف وکوو چې کارونه مو پکې وشي .

❁❁❁

امام ابن عقیل خورا ښه او په زړه پورې تصنیفات لري او دده په تصنیفاتو کې لوی تصنیف (الفنون) کتاب دی چې په ډیرو شیانو باندې مشتمل دی او زیاتې فایدې پکې دي او پدې کتاب کې د وعظ، تفسیر، فقه، اصول فقه، اصول دین، نحو، لغت ، شعر، تاریخ، حکایات او نور زیات فنون را ټول کړل شوي دي او ددې سربېره ده پدې کتاب کې ځینې خپلې قیمتي خاطرې درج کړې دي ځینې په زړه پورې مناظرې او د خپلو مجلسونو ځینې واقعې یې یادې کړې دې چې دا ټول شیان ډیر په زړه پورې او د قدر او مطالعې وړ دي .

ددې کتاب (فنون د ابن عقیل) په اړه خلک فرمایي چې تر اوسه پورې لدې نه لوی کتاب نه دی تالیف شوی په ځینې کتابونو کې ددې کتاب

خبرې راځي چې پدې کې له چا سره له څلور سوه نه پورته کوم جلد موجود وو او ځینې خلک وایي چې ده مبارک دا په ۸۰۰ وړو جلدونو کې لیکلی وو او په وروستیو کې له بېروت نه دار المشرق په ۱۹۷۰ میلادي کال کې یوه نسخه خپره کړه چې یوازې دوه جلده وه او د الفنون و الفصول نوم یې وربانډې ایښی وو .

❋❋❋

امام ابن عقیل د خپل کتاب (الفنون) په مقدمه کې یو څو طلایي خبرې کړې دي چې انسان یې ولولي اوپه مطلب یې ځان پوه کړي نو زړه غواړي چې د وخت نه سمه فایده پورته کړي هغه هلته فرمایي :

په ټولو کارونو کې غوره هغه څه چې انسان وربانډې وخت مصرف کړي او خپل ځان وربانډې مصروف کړي او پدې سره ځان الله ته نېږدې کوي هغه د علم طلب دی چې انسان د جهل له تیارې څخه د پوهې رڼا ته را وباسي او همدا هغه څه دي چې ما وربانډې خپل ځان مصروف کړی او وخت مصرف کړی دی زه هر وخت لګیا وم هغه شیان لیکم چې ما د علماوو د الفاظو څخه زده کړې وي او د کتابونو له ګېډو څخه مې را ویستلي وي او د صید الخواطر (زما خاطر هغه ښکار کړې وي) (د امام ابن جوزي صاحب یو کتاب صید الخاطر

نوم ددې ټکې نه اخیستل شوی دی او امام ابن جوزي د ابن عقیل شاګرد دی) او زه هر وخت لیکم هغه شیان چې ما په مناظرو کې آوریدلي دي او ما ترې را ټولې کړي دي او هغه شیان چې ما د علماوو له مجلسونو څخه را ټول کړي دي صرف ددې لپاره چې ماته په څه ډول په کوم لوري کې بهتري راکړي او له جهل نه مې لرې کړي کاش زه هغه ځینې هغه څه ته ورسېږم چې لما څخه مخکې خلک ور ته رسېدلي دي .

دده شاګرد ابن الجوزي فرمايي کله چې زه خبر شوم چې زمونږ شيخ ابو الوفاء ابن عقيل باندې بيماري سخته شوېده نو زه زر ورغلم چې دده د ځانکدن لحظې شروع شوې نو په خوا کې ښځو ورته په ژړا شروع وکړه ده وويل : پنځوس کاله مې د خلکو په واقعاتو کې د الله نمايندګي کوله يعني خلکو به په يوه واقعه کې رانه د الله د دين فيصله غوښته او ما به ورته د الله د دين له لوري فيصله ورکوله او فتوی به مې ورکوله اوس ما پريږدئ چې په خوشحالي سره د الله سره مخامخ شم .

اوی دی مبارک چې کله وفات شو نو صرف د خپل ځان دومره جامې ترې پاتې شوې چې دده د کفن لپاره بس کېدلې او دومره مال ترې پاتې وو چې

په ده قرضونه وو هغه یې خلاص کړل او نور ترینه صرف کتابونه پاتې شول .

نو دده مبارک په اړه زما څخه خبرې لږ ددې امله اوږدې شوې چې کله ما دده په اړه مطالعه کوله زه یې له هرې خبرې او هرې جملې نه متاثر کېدلم او که مونږ دده ژوند او دده خبرو ته وګورو نو مونږ ته به هم په زړه کې راشي چې باید څنګه او په څه ډول د خپل وخت ساتنه وکوو دده مبارک په خبرو کې تاسې ولیدل چې ده ویل : ما خپل وخت ټول د علم په زده کړې کې مصرف کړی دی او هر وخت مې ځان په همدې کار مصروف کړی دی .

نو اوس ددېنه مونږ ته معلومیږي چې دده مطلب دادی چې ما خپل عمر نه دی ضائع کړی او په داسې شي کې مې مصرف کړی دی چې یا خو ماته او یا بل چا ته ترینه فایده وي نو د وخت د داسې ساتنې دا نتیجه ده چې اوس یې هم مونږ نوم په احترام اخلو او نوم ته یې قدر لرو او دده په لیکنو سره دده نوم تر اوسه پورې ژوندی دی او لا به ژوندی وي او ترڅو چې خلک دده له لیکنو او تصنیفاتو او علومو څخه استفاده کوي دده نوم نه مړ کیږي د خلکو په زړونو کې به ژوندی وي او (این امانت به زور بازو نیست تا که نه بخشد خدا بخشنده)

❋❋❋

امام ابن جوزي دا عبد الرحمن بن علي الحنبلي البغدادي ابن الجوزي دی په ٥٠٨ هجري کې پیدا شوی وو او په ٥٩٧ هجري کې وفات شوی دی نو ټول عمر یې ٨٩ کاله وو لکن الله ورته دومره توفیق ، حوصله او استعداد ورکړي وو چې تالیفات یې تر پنځو سوو کتابونو څخه زیات دي او دا کار ده څنګه وکولی شول؟ ده ددنیا د د ژوند او نورو کارونو سره سره دومره زیات کار څنګه وکولو؟ او په هغه وخت کې چې د ژوندل سهولتونه هم دومره په پوره پیمانه سره نه وو دی پدې څنګه و توانیدو چې د خپلو تصنیفاتو تعداد دې حد ته ورسوي؟ ددې خبرو ځواب دده له یوې خبرې نه را ښکاره کیږي دی فرمایي :

هر انسان ته په کار دي چې د خپل وخت قدر او د زماني شرف وپیژني او د خپل ژوند څخه یوه لحظه هم په داسې کار کې مصرف نه کړي چې د ثواب کار نه وي او په خپلو کارونو کې هغه کار وړاندې کړي چې هغه غوره وي او بیا چې ورپسې غوره وي که هغه خبره وي او که عمل وي او چې کله انسان خبره هم کوي نو باید هغه خبره مخکې وکوي چې د

هغې کول غوره وي او بیا ورپسې نورې په همدې ترتیب .[1]

امام ابن جوزي د هغه مېلمنو په اړه فرمايي چې کور ته راځي چې هغوی اکثر د کوربه وخت ضائع کوي او له کوربه څخه غواړي چې له دوی سره کيني او خبرې دي ورسره وکوي نو ما فکر وکاوه چې له دوی نه څنګه خپل وخت وساتم چې راته ضائع يې نه کړي او داسې خو کېدلی نه شي چې زه د هم د مېلمه مېلمستيا وکوم او هم د خپله مطالعه روانه وساتم نو لما سره دوه لارې وي يا خو به زه مېلمه ته ځواب ورکوم چې زه خبرو کولو ته خلاص نه يم نو که زه دا خبره وکوم نو مېلمه به خفه شي او هغه چې لما سره کومه مينه لري هغه به يې يا کمه او يا ختمه شي او بله لاره داده چې زه به د هغه سره کينم او هغه چې څنګه خبرې کول غواړي زه به يې ورسره کوم نو پدې سره خو به زما وخت ډېر زيات ضائع شي او دا دواړه کارونه ماته مشکل ښکاره کېدل بيا به مې هغه کارونه چې ضروري وي لکن د مېلمه سره له خبرو کولو څخه ما نه مصروف کوي وساتل لکه د قلمونو پرې کول، د کاغذ ورقې ورقې کول ، د کتابونو ګنډل او داسې نور نو چې

[1] صيد الخاطر

کله به مېلمه راغلو هغه کار به مې را واخیستلو له یوه طرفه به مې له مېلمه سره خبرې کولې او له بله پلوه به مې لاسونه په کار کولو باندې مصروف وو او دې کار به هسې هم یو وخت لما څخه کول غوښتل .

یو عالم دده مبارک ددې خبرې په اړه فرمایي چې ابن جوزي پدې ځای کې دوه لویې خبرې ښکاره کړي دي :

١. اوله دا چې که بل څوک ستا وخت ضائع کوي صرف بل څوک نه بلکه ته هم په هغه ضائع کېدلو کې ذمه وار یې که بل څوک ستا وخت ضائع کول غواړي نو ته یې له ضائع کېدلو نه وساته .

٢. دوهمه دا چې ته په ښه توګه خپل وخت ته ترتیب ورکړې نو داسې ده لکه ته چې په خپل وخت کې اضافي ساعتونه را پیدا کړې ځکه ځینې داسې ساعتونه هم وي چې د هغه ضائع کېدل ضروري وي که ته هغه په ښه توګه استعمال کړي نو تا هغه د خپل فایده من ژوند سره اضافه کړل .

ددې عالم ددې خبرې سره پدې ځای کې زما زړه بیا غواړي چې تاسې ته مخکې یوه تېره شوې خبره را وګرځوم چې اکثر خلک د ډاکټر نمبر ته او ویا په کوم دفتر کې د کوم کار لپاره نمبر ته په ساعتونو ساعتونو انتظار وباسي که دوی داسې کولی چې دا وخت یې په څه کار کې مصرف کولی که

نور هېڅ نه وي نو پدې وخت کې يې تلاوت کولی ، هغه سورتونه چې دده په ياد وي هغه يې تلاوت کولی او يا يې د الله ذکر کولی نو دا به د دوی لپاره په ګټه وو او يو څه به په ښه ورتلی او اکثر خلک ددې امله خپل وخت ضائع کوي چې هغوی د وخت د وړې وړې برخې قدر نه کوي او همدا وايي چې څه په نېم ساعت کې څه کيږي په يو ساعت کې څه کيږي چې زه کله دا خبره آورم نو اکثر ماته د يو عربي شاعر شعر را ياديږي چې هغه فرمايي (لا تحقرن صغيرة ان الجبال من الحصى) . (يعني واړه واړه شيان يا وړې خبرې سپکې مه ګڼه بېشکه غرونه د وړو وړو شګو نه جوړ شوي دي)

❁❁❁

که مونږ تاريخ ته سترګې وغړوو په تاريخ کې چې د هرچا نوم ډېر ځلاند او ښکاره دی هغوی د خپل وخت نه پوره استفاده کړيده او هغه کسان چې وختونه يې ضائع کړي دي تاريخ مونږ ته د هغوی نوم او نشان نه دی ساتلی او ددې کتاب د سر نه تر اوسه پورې چې زه کوم مثالونه ستاسې مخې ته ايږدم هغوی د خپل وخت قدر پېژندلی او په هغه څه کې يې مصرف کړی دی په کوم شي کې چې په کار دی فضيل ابن عياض لوی عالم دی هغه

فرمایي : زه داسې یو کس هم پېژنم چې هغه له یوې جُمعې نه تر بلې جُمعې پورې خپلې خبرې شماري (په خپلو خبرو کې ښې او بدې شماري او په نتیجه باندې یې راتلونکي جُمعه ښائسته کوي او کوښښ کوي چې خپلې خبرې تر ممکنه حده پورې را کمې کړي او صرف هغه خبرې وکوي چې که په ده پسې یې کرام کاتبین ولیکي نو دی به یې په قیامت کې په لیدلو باندې نه شرمیږي) که مونږ هم ددې نېک بخت په ډول له خپل وخت او عمر سره مینه وکوو او خپله یوه هفته ددې یوې هفتې سره مقایسه کړو آیا هغه خبرې چې زمونږ ورته هېڅ ډول ضرورت نه وي زمونږ په یوه هفته کې دشمارلو وړ دي؟ شمارل کیږي ؟ آیا مونږ کله د ځان سره دا فکر کړی دی چې نن ما څومره ښې او څومره خرابې خبرې وکولې؟ .

❁❁❁

يو عالم ته يو مېلمه ورغلو ورته يې وويل : داسې ښکاره کيږي چې له کار نه مې وويستلې؟ عالم ورته وويل هو! تا رښتيا وويل زه د يو کتاب په لوستلو مصروف وم اوس مې پرېښودو . (دې عالم د حقيقت په ويلو کې او د خپل وخت په ضائع کېدلو باندې د افسوس ښکاره کولو کې شرم ونه کولو او راغلي مېلمه ته يې وويل چې هو! تا رښتيا زه له کار نه وويستلم) .

ابن المبارک

حضرت ابن عساکر د عبد الرحمن بن مهدي نه روايت کړی دی چې هغه فرمايي **ما رأيتُ مثل ابن المبارك** (ما د ابن المبارک په ډول بل انسان نه دی ليدلی حضرت يحيی بن سعيد القطان ورته وويل **ولا سفيان, ولا شعبة ؟** (ولې سفيان او شعبه هم نه ؟) ده ورته وويل هو سفيان او شعبه هم د ابن المبارک په څېر نه وو هغه يو عالم وو يو بزرگ ، حافظ تقوی دار ، عابد ، زيات حج کونکی ، شاعر ، اديب ، نحوي او مجاهد وو، د هغه په څېر بل انسان ما نه دی ليدلی .

د حضرت عبد العزیز بن ابي رزمة نه روایت دی هغه فرمایي چې داسې نېک خوی نه وو چې په عبد الله ابن المبارک کې نه وو جمع شوی که حیاء ده ، که نېک اخلاق دي ، که ښه مجلس دی ، که د مېلمه پالنه او د هغه قدر کول دي او که تقوی ده په ده کې دا هرشی په پوره اندازه وو .

حضرت عبد العزیز بن ابي رزمة فرمایي ماته شعبه وویل له کوم ځای یې؟ ما ورته وویل د اهل مرو څخه یم هغه راته وویل عبد الله ابن المبارک پېژنې؟

ما ورته وویل هو .

هغه راته وویل ستاسې له ساحې نه تر هغه غوره کس دلته نه دی راغلی .

د حضرت احمد بن سنان نه روایت دی هغه فرمایي چې کله ابن المبارک حماد بن زید ته د اول ځل لپاره راغلو پوښتنه یې ترې وکوله د کوم ځای یې ؟ هغه ورته وویل زه د اهل خراسان څخه یم

هغه ورته وویل د کوم خراسان ؟

ابن المبارک ورته وویل د مرو .

هغه ورته وویل : هلته یو کس دی عبد الله ابن المبارک ته هغه پېژنې؟

ده ورته وویل : هو هغه پېژنم

هغه ورته وویل: اوس څه کوي؟

ابن مبارک ورته وویل : هغه کس همدا دی چې اوس لتا سره خبرې کوي .

بیا یې ورسره په ښه طریقه سره روغبړ وکولو او د هغه هرکلی یې وکولو .

حضرت حسن بن عیسی فرمایي یو ځل د ابن مبارک څه ملګري سره را ټول شول او ویې ویل راځی چې د ابن مبارک نېک صفات حساب کړو نو دوی وویل ښه علم ورسره دی، په فقه پوهیږي، په عربي ادب کې تکړه دی ، علم النحو او علم اللغة یې زده دي ، په شعر کې مهارت لري ، فصیح دی ، تقوی دار دی ، بزرګ دی ، انصاف لري ، د شپې مونځ کوي ، ښه عبادت کوي ، حج یې کړی دی ، جهاد کوي ، شجاعت لري ، ښه د آس سپرلي یې زده ده ، بدن یې ښکلی دی (عضلات یې ښایسته دي) چې ضرورت یې نه وي خبرې نه کوي ، د ملګرو سره مخالفت او جګړې نه کوي لنډه دا چې دده خپلو ملګرو په ده کې ټول نېک صفات جمع کړل .

ددې ټولو صفاتو سره یې د خپل وخت داسې ساتنه کوله لکه څنګه چې د هغه سره لا ئقه وه او نه یې غوښتل چې یوه ثانیه او دقیقه یې بې ځایه تېره شي او پدې مشهور وو چې دده په وخت کې تر ده زیات خواري او کوښښ کونکی بل کس نه وو او

د علم په طلب کې یې یمن، مصر ، شام ، بصرې، کوفې ته سفرونه کړې وو او د هغه کسانو څخه وو چې ډېر علمي قواعد او مسائل یې روایت کړي او نقل کړي وو او ده به چې کله روایت کاوه نو ټول عمر به یې له کتاب نه کاوه او هغه کس چې د کتاب نه څه خبره کوي نو د هغه د غلطي احتمال لږ وي او دا په دیني مسئلو کې دده د احتیاط نښه وه او ده نه غوښتل چې چا ته دیني مسئله له خپله یاده او ذهن نه ورکړي .

دده په اړه یوه خبره مخکې هم تېره شوه چې چا له ده نه پوښتنه وکوله چې ته به تر څه وخته د علم طلب کوې؟

هلته تېر شول چې ده ورته وویل : تر مرګه پورې ان شاء الله .

یو لوی عالم ابو خراش له ده نه پوښتنه کوله (پداسې حال کې چې جامع العلوم یې) ته به تر څه وخته پورې د علم طلب کوې؟

ده ورته وویل : کېدای شي یوه داسې کلمه وي چې زما نجات په هغه کې وي او هغه تر اوسه پورې ما نه وي آورېدلې.

لوی عالم محمد بن النضر فرمایي ما یوه ورځ ابن مبارک ته وویل : ای ابا عبد الرحمن تا کوم حدیث یاد کړی دی؟

ددې سوال سره د هغه رنګ تغير شو (لکه زما پوښتنه چې وربانديې ښه ونه لګېده او بيا يې راته وويل :

ما تر اوسه پورې حديث نه دی ياد کړی زه کتاب راواخلم او ګورم يې چې په حديث تېرېږم هغه مې ځينې زړه ته ننوزي .

د حضرت حسين بن عيسى نه روايت دی چې يوه ورځ صخر (د ابن مبارک) نېږدې ملګری راته قصه وکوله چې مونږ يو وخت په يو ځای تېرېدلو هلته يو خطيب ډېره اوږده خطبه وويله کله چې ختمه شوه ماته ابن مبارک وويل :

دا خطبه ما ټوله ياده کړه .

په مجلس کې چا دا خبره واورېده هغه ورته وويل : ته ووايه.

ابن مبارک هغه ټوله خطبه دې کس ته ور واوروله او ياده کړې يې وه .

حضرت شفيق بن ابراهيم فرمايي يوه ورځ ابن مبارک ته وويل شول :

کله چې ته مونځ وکوې بيا ځې له مونږ سره نه کينې؟ ده وويل زه د صحابه وو او تابعينو سره ځم مونږ ورته وويل صحابه او تابعين چېرته دي؟

ده وویل : زه ځم په خپل علم کې ګورم د هغوی آثار او اعمال پکې ګورم او مطالعه کوم لتاسې سره کینم څه به وکوم تاسې خو د خلکو غیبت کوئ؟

د حضرت نعیم بن حماد نه روایت شوی دی هغه فرمایي ابن مبارک به اکثر په کور کې ناست وو چا ورته وویل : ته په کور کې په تنګ کیږې نه؟

ده وویل زه د رسول الله سره ناست وم ولې په تنګ شم؟

ده مبارک خپل ټول عمر یا په ز ده کړه کې تېر کړی دی او یا په عبادت کې محمد ابن وزیر چې دده ډېر نیږدې دوست او ملګری وو هغه فرمایي یو ځل زه د ابن مبارک سره په سفر چېرته روان وم یو ځای ته د شپې ورسېدو په مخه کې نهر راغلو مونږ اراده وکوله چې دلته لږ دمه کیږو زه لاړم تکیه مې وکوله چې دمه شم دی به پاڅېدو اودس به یې وکولو بیا به په مانځه و دریدو تردې چې په همدې ډول سبا شو په ما یې اواز وکولو ویل یې : پاڅېږه اودس وکوه ما ورته وویل : زما اودس شته ....

پدې خبر سره هغه ډېر زیات خفه شو ځکه هغه پدې خفه شو چې ما دی لیدلی دی چې ټوله شپه یې په مانځه تېره کړه نو ددې خفګان له امله یې را

سره خبرې بندې کړې او د ورځې تر نيمايي پورې يې لما سره خبرې نه کولې ترڅو چې د ورځې په نيمايي کې مونږ هغه سفر پای ته ورسولو او سفر ختم شو کوم ځای ته چې روان وو ورسېدلو .

د حضرت قاسم بن محمد نه روايت دی هغه فرمايي مونږ د ابن مبارک سره په يو سفر کې ملګري وو اکثر به زما په زړه کې را تاوېدل : دا کس له مونږ نه په څه کې غوره دی چې داسې په ټولو خلکو کې مشهور شوی دی خو چې هغه مونځ کوي مونږ هم مونځ کوو، چې هغه روژه نيسي مونږ هم روژه نيسو، او هغه چې جهاد کوي خو مونږ يې هم کوو او که هغه حج کوي نو مونږ هم حج کوو آخر دده دا شهرت ولې؟

په همدې سفر کې مونږ د شام په لاره روان وو په يو کور کې مو شپه شوه چې چراغ ګل شو زمونږ يو ملګري چراغ له ځان سره بهر ته ويوست ترڅو هغه ولګوي او بېرته يې راوړي نو پدې وخت کې لږ وخت تېر شو چې کله رڼا شوه نو ما د ابن مبارک مخ ته وکتل چې ږيره يې په اوښکو لنده وه او ژړلې يې وو او د سترګو نه يې اوښکې راغلې وې هغه ددې امله چې ده دا تياره ولېده نو د قيامت د ورځې سخته تياره ور په زړه شوې وه ...

نو زه د هغې نه وروسته پوه شوم چې په ده کې دا څومره ویره ده پدې سره الله ده ته غوره والی ورکړی دی .

❁❁❁

د امام معروف الکرخي سره څه مېلمانه کېناستل او ډېر يې مجلس اوږد کړو او اوږدې اوږدې خبرې يې شروع کړې نو معروف کرخي چې له يوه پلوه يې د خپل وخت د ضائع کېدلو غم د زړه په سر پروت وو او له بلې خوا يې د راغلو مېلمنو خفه کول نه غوښتل نو په دواړو کې حيران وو آخر يې ورته وويل :

هغه ملکه چې لمر د مشرق نه مغرب ته بيايي هغه هېڅ سستيا نه کوي او په مسلسله توګه لمر د مغرب لور ته کش کوي (وخت خو په مسلسله توګه تېرېږي) تاسې آخر څه وخت پاڅيږئ؟

❁❁❁

پخوانيو علماوو ټولو د خپلو وختونو ساتنه کړېده او دا ساتنه د دوی له لويو لويو تصنيفاتو څخه ښکاره کيږي کوم چې د دوی د عمرونو خوږې مېوې دي سره ددې چې د دوی اکثر تصنيفات ضائع شوي دي ځکه دوی به زياته خواري او کوښښ کولو چې په يوه خبره باندې د خپل کتاب لوستونکو ته پوره تفصيل وړاندې کړي نو ددې امله به کتاب لوی شو او د وخت په تېرېدلو سره د خلکو همتونه سست شول او هغوی اوږده بحثونه يادول نه غوښتل نو ځکه به يې د مختصرو

کتابونو لټون کاوه نو اکثر مختصر او لنډ کتابونه چې دوی به لیکل پاتې شول او مطولات (اوږده کتابونه) ضائع شول او په ځینې ځایونو کې د هغه کتابونو یوازې نمونې ښکاره کیږي خو چې هغه کتابونه څوک وګوري ورته ښکاره کیږي چې په رښتیا مخکنیو علماوو خپل وخت څومره په ښه ډول مصرف کړی دی چې په اوس وخت کې خلک په ټول عمر کې دومره کارونه نشي کولی لکه پخوانیو ځینې علماوو چې هغه کار په یوه کال کې کړی دی زه هر وخت خپلو ملګرو او متعلقینو ته مشوره ورکوم چې تاسې د پخوانیو علماوو تاریخونه لږ مطالعه کړئ چې همتونه مو را ویښ کړي او غیرت درکې پیدا کړي کېدای شي د هغې نه وروسته د خپل وخت نه فایده پورته کړئ او خپل وخت په داسې څه کې مصرف کړئ چې ستاسې د دنیا او یا د آخرت په ګټه وي .

❁❁❁

امام عبدالرحمن ابن الجوزي خپل زوی ته په نصیحت کې یوه مکمله رساله لیکلې ده او په هغې باندې یې نوم ایښی دی **لفتة الكبد في نصيحة الولد** او پدې رساله کې یې خپل زوی ته نصیحت کړی دی چې هغه د د وخت قدر وکوي او خپل وخت د له ضائع کېدلو نه وساتي هغه پدې رساله کې په یو ځای کې فرمایي :

ای بچیه ! پدې پوه شه چې په ورځ کې ساعتونه دي او په ساعتونو کې نفسونه دي او هر یو نفس یو ډول خزانه ده او ددې نه په سختي سره ځان وساته چې دا یوه یوه خزانه لتا څخه خالي تېره شي او په قیامت کې چې د خلکو خزانې په یو شي باندې ډکې وي ستا خزانې په داسې حال کې تاته په لاس درشي چې هغه خالي وي او هیڅ شی پکې نه وي بیا به ډېر پښېمانه وي . په ساعتونو کې دې وګوره چې ستا ساعت په څه شي تیریږي او تر هغه وخته پورې خپل ساعت تېریدلو ته مه پرېږده ترڅو چې په کوم ښه شي کې تېر شوی نه وي او خپل نفس خپل اختیار ته مه پرېږده بلکه په هغه څه یې مصروف ساته چې ډېر غوره وي او د قبر صندوق ته هغه شی ولېږه چې تاته هلته په لاس درشي ته ورته خوشحال شي[1]

❁❁❁

ابو المضفر د عبد الرحمن ابن جوزي لمسی دی هغه وایي چې زمونږ نیکه ابن جوزي به خپل وخت بالکل بې ځایه نه تېرولو او تر ممکنه حده پورې به یې د خپل وخت ساتنه کوله او زمونږ د نیکه په آخر وخت کې مې یو ځل له هغه څخه

1 . لفتة الکبد في نصیحة الولد

واوريدل چې په منبر يې ويل : ما په دې دوو ګوتو دوه زره جلده کتابونه ليکلي دي .[1]

دا دوه زره جلدونه داسې وړې رسالې هم نه دي چې په ورځ کې يوه ليکل کيږي بلکه کتابونه دي نو که دده د عمر سره دده ليکل شوى كار مقايسه کړو نو دده هرې ورځې ته دومره ليکل ورسيږي چې انسان حيرانوي.

❁❁❁

امام عبد الرحمن ابن الجوزي ډېر زيات احاديث ليکلي دي چې ده به د خپلو استاذانو څخه زده کول نو هغه به يې ليکل او کله به يې چې قلم جوړولو (نى به يې پرې کولو) نو هغه فضله شى به چې تريښه وتل هغه به يې جمع کول او بيا يې وصيت وکولو چې کله زه مړ شم نو زما غسل ته به اوبه پدې شيانو باندې ګرمې کړئ چې زما د قلمونو د جوړولو نه وتلي دي نو چې کله وفات شو خلکو همداسې وکول او يوازې په هماغه فُضله شيانو باندې هغه اوبه ګرمې شوې او څه تريښه زيات هم شول.[2]

نو ددې نه به اندازه ولګوو چې ده څومره قلمونه جوړ کړي وو او بيا به ددې نه اندازه

---

1 تذكرة الحفاظ

2 **الكنى و الالقاب**

ولګوو چې ده ځومره لیکل کړي دي ځکه خو یو استاذ عبد الحمید العلوجي العراقي یو کتاب لیکلی دی (مولفات ابن الجوزي) او پدې کتاب کې هغه یوازې د ابن جوزي صاحب تصنیفات را ټول کړي دي نو هغه ٥١٩ کتابونه شوي دي چې په هغوی کې لوی کتاب تر لسو جلدونو پورې دی او وړوکی هم پکې شته چې یو څو صفحې دی .

امام نووي په مسلم باندې یوه شرح لیکلې ده د هغې په مقدمه کې یې د ابي عبد الله الفراوي محمد بن الفضل النیسابوري په اړه لیکلي دي : یو تقوی دار عالم وو په فقه او اصولو کې یې د امام حیثیت درلود همدارنګه په علم حدیث او نورو فنونو کې یې ښه مهارت وو په ٤٤١ هجري کې تولد شوی وو او په ٥٣٠ هجري کې وفات شوی دی د دنیا د هر لوري نه به طالبان ده ته ورتلل او دده نه په لرې او نیږدې ښارونو کې روایات شوي دي تردې چې خلکو به ویل **للفراوي الف راوي** (د فراوي نه زر راویان دي یعني ډېرو زیاتو خلکو له ده څخه روایت کړی دی) ده ته به فقیه الحرم ویل کېدل ځکه ده ډېر علم په مکه مکرمه کې خپور کړی دی امام حافظ ابو القاسم الدمشقي چې په ابن العساکر باندې شهرت لري

هغه فرمایي چې زه ده ته په خپل دوهم سفر کې ورغلم ځکه په هغه ساحه کې به سفر همده ته کېدو ځکه له ده سره په ښه پېمانه علوم الاسناد وو او فراخ علم ، ښکلې عقیده ، ښه اخلاق ، نرمي او یوه مسافر طالب ته ښه توجه یې درلودل زه له ده سره یو کال پاتې شوم او ډېر څه مې تر حاصل کړل څه وخت چې زه له ده سره وم دی بېمار شو طبیب ورته ویلي وو چې ته به اوس طالبانو ته اجازه نه ورکوې چې تاته خبرې وکوي او تاته حدیثونه تکرار کړي او که ته ددې نه پرهېز نشې کولی نو ددې سره به ستا دردونه نور هم زیاتیږي او ستا په بېماري کې به زیادت راځي لکن ده وویل چې نه زه طالبان لدې څخه نه شم منع کولی که زما بیماري زیاتیږي نو خیر دی طالبان دې ماته تکرار کوي او زه به له دوی نه احادیث آورم او ماته دا ښه نه ښکاره کیږي چې زه د خپلې بیماري له امله هغوی لدې نه منع کړم چې ماته د تکرار نه کوي څه معلومه ده کېدای شي زه په دنیا کې د همدوی لپاره پاتې وم.

ما به ورته تکرار کاوه او ده ته به مې احادیث ور آورول دی به په هماغه بیماري کې په بستره باندې شا په تخته پروت وو او زمونږ نه به یې سمع کوله بیا یو څه ښه شو ما ترینه رخصت واخیست او د هرات لور ته روان شوم کله چې ما

ورسره خدای په اماني کوله او اجازه مې ترې اخیسته ده راته وروسته ددې چې زما په تلو یې خفګان ښکاره کړو وویل : کېدای شي مونږ بیا سره ونه ګورو دده خبره رښتیا وه زه په هرات کې وم چې دده د وفات خبر را ورسېدو د ۵۳۰ هجري کال د شوال په آخرو لسو شپو کې وفات شو .

نو فراوي سره ددې چې د طبیب خبره واورېده چې د ډېر اواز آورېدو سره به ستا په بیماري کې زیادت راځي او ستا تکلیف او دردونه به زیاتیږي ته به ددې نه د یو څه وخت لپاره پرهېز کوې لکن ده بیا هم صرف ددې لپاره چې ده نه غوښتل چې د لرې نه د راغلیو طالبانو وخت ضائع کړي د خپلې بیماري پروا یې نه کوله او هغوی ته یې اجازه ورکړې وه چې هغوی د خپل تکرار دده په وړاندې وکوي او په بستره باندې به پروت وو او د طالبانو څخه به یې سمع کوله .

❋❋❋

اکثر داسې کیږي چې په ښکاره کې د انسان د ژوند حالتونه بدل شي نو انسان ته داسې ښکاره کیږي چې دده وخت به نور ضائع کیږي ځکه کله انسان له خپل اختیار نه وزي او دی فکر کوي چې اوس زما سره کتاب نشته ، قلم را سره نشته ،

کتاب نه لرم نو زه څه وکوم ... دا ټولې د عامو خلکو خبرې دي لکن هغه څوک چې په رښتیا سره یې شوق وي چې د خپل وخت نه فایده پورته کړي هغه سم د لاسه ټولې خبرې شا ته کړي او د الله په ذکر چې د هېڅ ډول اسبابو ضرورت ورته نشته شروع وکوي او خپلې قیمتي لحظې له ضائع کېدلو نه وساتي او که په ښکاره ده ته ښکاره کیږي چې ده له وخت نه کار وانه خیست دی باید دا فکر ونه کوي بلکه دی باید پدې یقین وي چې په سمه توګه کار صرف ده له وخت نه واخیست او د الله په ذکر کې چې کوم وخت مصرف شي اصلي کار همدا دی او دا له هغه وخت نه غوره دی چې د دنیا په کوم کار کې مصرف شي او ددینه علاوه که څوک وغواړي نو په هر ډول حالاتو کې د ژوند نه نورې ګټې هم اخستلی شي دلته راته د یو عالم واقعه را یادیږي لتاسې سره یې شریکوم .

❋❋❋

شیخ الامام العالم، عادل ، تقوی دار قاضي ابو بکر محمد بن عبد الباقي الخزرجي السلمي الانصاري البغدادي الحنبلي وو چې په قاضي المرستان باندې یې شهرت درلود په ډېرو فنونو کې یې د امام حیثیت درلود او عبور یې وربانډې حاصل وو ده به فرمایل چې ما قرآن کریم په هغه وخت کې یاد کړی دی چې زه د اوو کلونو وم داسې

علم نشته چې ما پکې مطالعه نه ده کړې بیا مې له هغه علم نه یا ډېر څه اخیستي دي او یا لږ صرف دا علم نحو چې ده پدې کې زه ډېر کمزوری یم. او ماته په خپل ټول عمر کې نه یادیږي چې ما د یو ساعت له خپل عمر نه په عبثیاتو کې تېر کړی وي دی مبارک په یو سفر باندې روان وو رومیانو ته په لاس ورغلو او بندي شو هغوی دی د کفر کلمې ته مجبور کولو لکن ده ورڅخه انکار وکولو او په خپله اسلامي کلمه باندې ټینګ پاتې شو نو ددې امله دی په بندیخانه کې واچول شو او یو نیم کال هلته پاتې شو کله چې له بندیخانې نه را ووتلو نو په صفا لهجه رومي خبرې یې کولې او هم یې په رومي ژبه لیکل کولی شول او دا یې هرشی په بندیخانه کې له خلکو نه زده کړي وو.[1]

❁❁❁

ابو موسی المدیني دده په اړه فرمایي چې ما قاضي المرستان په ۹۳ کلنۍ کې ولیدو دده ټول حواس په ځای وو او د ښه فکر او سالمې نظریې خاوند وو او د دومره عمر د تېریدلو سره دده په حواسو کې هېڅ کمزوري نه وه راغلې او د سترګو نظر یې دومره ښه وو چې نری لیکنه به یې

---

[1] سیر اعلام النبلاء للذهبي

لـه لـرې نـه لـوستله یـو څه وخت وروسته بېمار شو درى ورځې سخت بېمار وو پدې ورځو کې تلاوت ورځخه پاتې نه شو بیا د رجب په دوهمه په ٥٣٥ هجري کال کې وفات شو .

دده په اړه امام السمعاني فرمایي :

ما بل داسې څوک ونه لیدل چې له ده نه یې زیات فنون جمع کړي وي ، په هر علم کې یې مطالعه کړې وه لکن په حساب او میراث کې یې ښه مهارت درلود ده به ویل چې ما کوم علم حاصل کړى او مطالعه مې پکې کړې او زده کړى مې دى له ټولو نه مې توبه ویستلې ده بغیر د علم حدیث او ددې سره اړوند علومو نه ما ورسره پداسې وخت کې ملاقات وکولو چې دى د زیات عمر خاوند وو لکن د عمر په تېرېدلو سره دده حواسو بالکل فرق نه وو کړى او نه کمزور شوي وو ډېرباریک لیکل یې له لرې نه لوستلى شواى ، په لیکلو کې ډېر تېز وو او ډېر ښکلي لیکل به یې کول او لما سره چې کومې لیکنې وې دا به یې لوستلې په اتفاقي ډول سره زما په لیکنو کې یوه د حدیثو برخه را ووتله چې په کوفه کې د عمر بن ابراهیم العلوي نه لیکل شوي وو او د هغه په اجازه مې د محمد بن علي بن عبد الرحمن العلوي نه ویلي وو او ښکلې قصې پکې وي ده راته وویل چې دا ماته پرېږده .. ما ورته پرېښوده سبا چې ورغلم زما هغه کتاب (د حدیثو برخه) یې ماته راکړو او ده

ترینه ټول لیکلی وو او ماته یې وویل دا ته ولوله چې زه یې واورم ما چې ولیدل ورته حیران شوم ما ویل یا سیدي دا څنګه کېدای شي په یوه شپه کې تا ټول ولیکل؟ بیا ما ورته تلاوت کولو او ده راته غوږ ایښی وو .

❁❁❁

امام ابن رشد دوه کسان دي یو نیکه دی په همدې نوم یې لمسی هم دی نو چې کله یې لمسی یادیږي نو ابن رشد الحفید (لمسی) ورسره یادیږي دواړه لوی لوی عالمان دي لکن دا لمسی امام ابن رشد الحفید محمد بن احمد بن محمد بن احمد ابن رشد

دی په ۵۲۰ هجري کې پیدا شوی وو او په ۵۹۵ هجري کې وفات شوی دی په خپل ژوند کې یې د دیني علومو سره ډیره زیاته مینه وه او هیڅ وخت به یې نه پریښودو چې دده نه عبث تیر شي او د شپې به یې اکثر برخه په مطالعه باندې تیروله او ده په خپل ژوند کې له هغه وخت نه چې په ده کې عقل راغلی دی او د علومو زده کړه یې شروع کړیده صرف دوه شپې په ده داسې راغلې وې چې ده پکې مطالعه نه وه کړې .

لمړۍ دده د والد محترم د وفات شپه او دوهمه دده دواده شپه .[1]

❁❁❁

قاضي الفاضل البيساني دا قاضي عبد الرحیم بن الحسن بن احمد بن الفرج بن احمد الفاضل محییي الدين ابي علي القاضي الاشضرف اللخمي العسقلاني البيساني المصري دی ډیري زیاتې لیکنې یې

1 الدیباج المذهب لابن فرحون

کړي دي او کتابونه لري د سلطان صلاح الدين يوسف بن ايوب په نيږدې ملګرو کې وو او په هر کار کې د هغه مرستندوی وو او هغه ته به يې د هغه د ضرورت اړوند ليکنې کولې په ٥٢٩ هجري کې تولد شوی وو امام سلفي او ابن عساکر يې په استاذانو کې دي او پلار يې په يوه علاقه باندې قاضي وو چې البيسان ورته ويل کېدل او ددې امله دده په القابو کې هم دا تکی مشهور شو او په ليک او انشاء (مضمون جوړولو) کې ځانګړی نوم لري ده به چې څرنګه مضمون جوړولو لوستونکي او آورېدونکي به يې حيرانول امام عسقلاني دده په اړه فرمايي ده په انشاء او مضمون جوړولو کې داسې يو حيثيت درلود لکه د حضرت امام شافعي او د حضرت امام ابي حنيفه چې په فقه کې کوم حيثيت دی بلکه لدې نه هم ځکه لوړ دی چې امامان هم کله په يوه مسئله کې د يو بل سره رايه نه مني او دده سره داسې څوک نه وو چې دی به يې نه منلو بلکه زه به دا ووايم چې داسې يو حيثيت وو لکه په مصر کې چې د امام النحو سيبويه حيثيت وو چې هيڅ ثاني او منازع يې نه درلود ددې هرڅه سره ، سلطان ته د نزديکت سره او د يو عجيب کمال سره او نا اشنا ملکې سره سره هغه ډېر زيات تقوی دار انسان وو او هر وخت به يې کوښښ کاوه چې خپل فارغ وخت د ﷲ په ذکر او عبادت کې مصرف کړي حافظ عماد

الدین ابن کثیر دده په اړه فرمایي : دی د فصحاوو او بلغاوو امام وو دی وایي چې خپل پلار یې د دولت فاطمي په وخت کې د مصر علاقې ته ولېږلو او هلته یې د لیکني او انشاء کار کولو کله چې هلته د ملک صلاح الدین حکومت راغلو دی یې خپل وزیر کړو ، دی یې مشاور وو او د همده سره به یې ډېرې د راز خبرې کولې او هغه ته د خپل اولاد او کور خلکو نه هم زیات ګران وو پدې ټولو حالتونو کې او مصروفیاتو کې یې د خپل وخت داسې ساتنه کوله چې یوه لحظه یې هم نه پرېښوده چې بې فایدې تېره شي چې کله به هم څوک ورغلل نو دده به یا لوست کولو او یا به یې څه لیکل او یا به یې عبادت او ذکر کاوه عبد اللطیف البغدادي یو عالم دی هغه فرمایي چې زه یوه ورځ ور ننوتلم چې دی مې ولیدو له یوه اړخه خپله څه لیکل کوي په هغه لګیا دی او له بله پلوه دوه کسان ورته ناست دي هغوی ته څه وایي هغوی دده نه لیکي یعنې هغوی ته یې څه نوټ ورکولو او هغوی لیکلو او چې کله به هغوی په لیکلو بوخت وو نو پدې لږ وخت کې به ده هم څه لیکل .

او دده په اړه ویل کیږي چې په څلور ویشت ساعتونو کې به صرف هغه وخت دده قلم و دریدو چې ده به یا خوراک کولو او یا به یې د خپلې وظیفې متعلق ضروري کار وو او یا به یې په

ورځني ژوند کې څه ډېر ضروري کار وو یا به یې ارام کولو د ژوند په راحتونو او مزو پسې نه ګرځېدو نېک کارونه به یې زیات کول ، د تهجد مونځ به یې هر وخت کاوه او چې څومره کم وخت به هم ورته فارغ شو سم د لاسه به یې ذکر شروع کړو دا یې نه ویل چې پدې لږ وخت کې به څه وشي .

امام عماد لیکوال وایي چې دده د دومره مصروفیت سره سره بیا هم ده په ۲٤ ساعتونو کې یو ځل قرآن کریم ختم کولو او د سلطان سره د نزدیکت سره سره به ده یوازې سپینه جامه آغوسته چې ټوله جامه به یې د دوو دینارونو څخه په قېمت کې کمه وه چېرته به چې تلو صرف یو غلام به یې ورسره کولو او بل چا ته یې هم اجازه نه ورکوله چې دده بدرګه وکوي او یا له ده سره په لاره ملګري وکوي او ددې ټولو مصروفیاتو سره سره به مقبرې ته زیات تلو ، د جنازې نه به چې خبر شو په کور نه کېناستلو بلکه ورتلو به ، د چا د بیماري نه به چې خبر شو پوښتنه به یې کوله .

❁❁❁

امام عبد الغني المقدسي د لویو علماوو او د احادیثو له حافظانو څخه وو په تذکرة الحفاظ کې دده په اړه لیکل شوي دي چې دی په ٥٤١ هجري

کې تولد شوی وو او په ۶۰۰ هجري کې وفات شوی دی د احادیثو حافظ، عابد، تقوی دار، بزرگ، عالم سړی وو او الله ورته ډېر غوره صفات ورکړي وو دده یو شاګرد حافظ ضیاء الدین المقدسي دده په اړه فرمایي چې ده مبارک به کله د سحر مونځ وکولو نو بیا به درس ته کېناستلو او خلکو ته به یې د احادیثو او یا د قرآن کریم د علومو درس ورکاوه چې کله به شاګردان ختم شول نو په مانځه به یې شروع وکوله او د ماسپښین د مانځه نه لږ وخت وړاندې (چې د مانځه مکروه وخت به داخلیېدلو) مونځ به یې بس کړو بیا به یې قیلولة کوله او بیا به یې د ماسپښین مونځ وکولو د ماسپښین د مانځه نه وروسته به یې د شاګردانو څخه احادیث آورېدل او هغوی به ده ته تکرار کاوه او که به شاګردان نه وو او یا به د دوی په مینځ کې ده ته موقع په لاس ورتله نو لیکل به یې کول تر ماښام پورې به ناست وو اکثر وخت به یې روژه وه نو د ماښام په وخت کې به یې روژه ماتي ته رخصتي وکوله او که به یې روژه نه وه نو د ماښام د مانځه نه وروسته به یې مسلسل مونځ کاوه تر ماسخوتن پورې څنګه به یې چې د ماسخوتن مونځ وکاوه نو ویده به شو تر نیمې شپې پورې او بیا به په داسې وخت را پاڅېدلو لکه چا چې را پاڅولی وي اودس به یې وکاوه او په مانځه به ودرېدو او چې لږ وخت به

تېر شو بيا به يې اودس وكولو كله به يې اوه ځله اودس وكولو او فرمايل به يې چې ترڅو مې اندامونه لانده وي ماته مونځ ډېر خوند راكوي بيا چې به پوه شو چې سحر ته لږ وخت پاتې دی نو د مختصر وخت لپاره به ويده شو او د سحر مانځه ته به بيا را ويښ شو نو پدې توګه يې ٢٤ ساعتونه تېرول او لكه چې تاسې ته ښكاره كيږي چې په ٢٤ ساعتونو كې دده په تقسيم اوقات كې داسې وخت نه وو چې هغه له ده څخه بې فايدې تېريدو .[1]

❁❁❁

امام رازي چې لوی طبيب، مفسر، متكلم، وو دا محمد بن عمرفخر الدين الرازي وو چې په ٥٤٣ هجري كې پيدا شوی وو او په ٦٠٦ هجري كې وفات شوی دی ﷲ ورته ٦٣ كاله عمر وركړی وو او پدې عمر كې ده ډېر زيات كارونه كړي دي او دوه سوه كتابونه يې ليكلي دي چې ځينې يې لكه تفسير كبير په متعددو جلدونو كې دي او ځينې يې په يو جلد كې كتابونه دي چې په صفحاتو دي دده يو شاګرد القاضي شمس الدين الخوئي دده يو قول نقل كړی دی چې ده فرمايل : زما د قسم وي زه د خوراک په وخت كې د وخت په ضائع كېدلو خفه

[1] ذيل طبقات الحنابلة لابن رجب

کیږم ځکه دا وخت ډېر زیات قیمتي شی دی دا باید ضائع نه شي.

❀❀❀

امام رازي صاحب چې د لوی حکمت او علم خاوند وو هغه پدې پوه وو چې وخت ډېر قیمتي دی او په دنیا کې هرشی په وخت سره پیدا کیږي هغه کسان چې د وخت ساتنه او په ښه توګه استعمال وکوي هرشی د هغه په خدمت کې دي او هغه کسان چې وخت ضائع کړي هغه هرشی ضائع کړل سره ددې چې امام رازي صاحب هم د وخت په ساتنه کې یو مثال دی لکن دی په خپله د هغه وخت په اړه افسوس کوي چې له ده څخه د خوراک په کولو باندې تیریږي سره ددې چې هغه به لنډ هم وو خو بیا هم دی وربانديې افسوس او خفګان ښکاره کوي او که امام رازي صاحب اوس زمونږ حالتونه کتلی وای چې مونږ په انټرنېټ په موبایل په ګېمونو او په محفلونو کې څومره وخت بې فایدې تېروو نو دی به هم زمونږ حالت ته حیران شوی وو .

❀❀❀

که تاسې مفاتیح الغیب تفسیر کتلی وي کله چې سورة یوسف ختم شي نو هلته مصنف لیکلي دي چې د الله شکر دی چې ددې سورة تفسیر په خیر سره د شعبان په اومه په کال ٦٠١ هجري کې ختم شو سره ددې چې زه ډېر زیات تنګ وم چې یو نېک زوی محمد (الله د وربانديې رحم وکوي) وفات شوی دی

.... په هغه ځای کې چې د انسان دماغ جام شي چې مفسر سره ددومره مصیبت چې دده په زړه پروت وو بیا هم خپل تصنیف او کار ته دوام ورکړی وو او دا یې ونه ویل چې څه نن به ارام وکوم طبیعت مې خراب دی سبا به یې مخکې بوزم ځکه چې هغه پدې پوه وو چې سبا خو به زما د ژوند نه یوه بله نوې ورځ وي او دا نن ورځ خو سبا بیا نه راځي دا خو به نن تېره شي که زه پکې څه کار کوم او که نه کومه ورځ خو چاته نه ګوري او نه چا ته انتظار کوي وخت خو داسې شی دی که ته یې استعمالوي هم ختمیږي او که یې نه استعمالوي هم ختمیږي او تیریږي هره دقیقه چې اوس تیریږي ورپسې دقیقه زمونږ د عمر نه یوه بله برخه ده همدا تېره شوې دقیقه بیا نه راځي .

✵✵✵

اما رازي صاحب ته چې الله په مختلفو فنونو کې ښه مهارت ورکړی وو د وخت یې زیات قدر کاوه او په ډېر دقت سره به یې خپل وخت تېرولو او کوښښ به یې کولو چې وخت ورڅخه بې فایدې تېر نه شي او چې کله به هم موقع په لاس ورغله نو د خپل وخت نه په استفادې سره به یې د کوم نوي شي د زده کولو کوښښ کاوه دده په اړه علامه

یاقوت الحموي چې په مرو نومي ځای کې یې دده سره ملاقات شوی وو دده په اړه فرمایي :

کله چې امام رازي مرو ته لاړو ده ښه لوی نوم او په اهل علم کې لوړه مرتبه درلوده او مرو ته له تللو مخکې هم هلته ټولو خلکو پېژندلو او ښه د احترام په نظر یې ورته کتل زه هم ورغلم او غوښتل مې چې له ده نه څه زده کړم او څه ترې ووایم نو پداسې حالت کې چې زه دده شاګرد او دی زما استاذ وو ده راته وویل چې ته د طالبینو په انسابو کې معلومات لرې که ماته پدې اړه یو کتاب ولیکې زه به یې وګورم او پدې اړه زه معلومات زده کول غواړم ځکه زه نه غواړم چې پداسې حالت کې مړ شم چې پدې نه وم خبر (امام رازي صاحب په انسابو او تاریخ کې ښه مهارت درلود) نو ما ورته وویل کتاب په څه ډول درته ولیکم مشجر (لکه د شجرې په ډول) او که منثور ؟ ده راته وویل : نه مشجر نه یادیږي منثور یې ولیکه زه غواړم چې څه ترې یاد کړم ما ورته وویل : **السمع و الطاعة** (خبره مې واوریده او عمل به پرې وکړم)

او زه ترې ولاړم کتاب مې ورته تیار کړو نوم مې ورباندې کېښود الفخري (فخر الدین ته یې نسبت شوی دی) دا کتاب مې ده ته راوړو کله چې یې کتاب له ما څخه په لاس کې واخیست له خپلې ګدۍ (هغه توشکه چې دی به درس ته ورباندې

کېناستلو) را ښکته شو او په خالي پوزي باندې (چې شاگردان به وربانده کېناستل) کېناستو او ماته يې وويل اوس پدې گدۍ ته کېنه ! ماته دا خبره ډېره لويه ښکاره شوه چې دی به په پوزي ناست وي او زه به د مدرس په گدۍ دده په مخکې کېنم نو ما انکار وکولو نو ده راباندې يو هيبت ناک اواز وکولو او راته يې وويل چې زه درته وايم کينه پدې گدۍ باندې ځرنگه چې ده يو عجيب هيبت درلود نو زه ترې وډار شوم او په گدۍ باندې کېناستم دی راته لکه شاگرد داسې کېناستلو او زما کتاب يې ماته را اورولو په کوم ځای کې به چې ورته مشکل ښکاره کېدو د هغه به يې لکه شاگرد داسې پوښتنه کوله تردې چې هغه زما رساله يې مکمله ماته تلاوت کړه او په هر مشکل کې يې لما څخه پوښتنه وکوله بيا يې راته وويل چې اوس ستا خوښه ده چې هر چېرته کېنې ځکه دا يو داسې علم دی چې پدې کې زما استاذ ته يې او پدې کې زه لتا نه فايده اخلم او زه پکې ستا شاگردي کوم او زه چې دا خبرې لتا نه زده کوم زه ستا شاگرد يم او ماته داسې ښه ښکاره کيږي چې شاگرد د خپل استاذ په مخکې په ادب کيني.

بيا زه له گدۍ نه را ښکته شوم دی کېناستلو بېرته زه لکه شاگرد داسې ورته په مخه کې ناست وم او له ده نه مې اخذ کاوه .

امام رازي سره ددې چې لوی عالم او استاذ کل وو او هرچا په استاذي سره منلی وو خو بیا یې هم چې د خپل شاګرد سره یو نوی مهارت ولیدو نو فوراً یې د وخت نه په استفادې سره له هغه نه وغوښتل چې دده لپاره څه لیکنه وکوي او بیا یې ځان په صحیح معنی کې د هغه لپاره شاګرد کړو او خپل شاګرد یې د ځان لپاره د استاذ په ځای کېنولو او هغه نوی فن او مهارت یې له هغه څخه حاصل کړو دیته وایي په سمه توګه له وخت نه فایده پورته کول او د هغه نه وروسته امام رازي په علم انساب کې ښه مطالعه کړې وه او ښه مهارت الله پکې ورکړی وو نو ددې امله که ده خپل ځان خپل شاګرد ته کم وباله پدې سره دده قدر او مرتبه په رښتیا سره کم نه شول بلکه لا پسې زیات شول او دده په فنونو کې یو بل فن زیات شو نو ځکه په تواضع سره خلک ښکته کیږي نه بلکه پورته کیږي .

❁❁❁

حضرت ضیاء الدین ابو احمد عبد الوهاب بن علي ابن سُکینة البغدادي الصوفي الشافعي په ٥١٩ هجري کې تولد شوی وو او په ٦٠٧ هجري کې وفات شوی دی

په خپل وخت کې یو شیخ وو په تصوف، اسناد ، تقوی بزرګي او د سنتو په متابعت کې یې ځانګړی نوم درلود له لرې لرې نه به طالبان ورته راتلل او له ده څخه به یې زده کړه کوله ده به چې کله درس ورکاوه او یا به یې خبرې کولې کوښښ به یې کاوه چې د خپل وخت ساتنه وکوي او خبرې محدودې کړي او هروخت به چې دی لیدل کېدو یا به یې درس ورکاوه یا به یې چاته غوږ نیولی وو هغوی به ورته تکرار کاوه او یا به یې تلاوت کاوه ده په خپل مجلس کې څوک هم بې ځایه خبرو ته نه پرېښودل دده په مجلس کې به چې چا هم خبره کوله نو علمي خبره به یې کوله د بلې خبرې اجازه نه وه ځکه دده عقیده وه چې هغه خبر چې د علمي خبرې او یا دیني نکتې نه بغیر بله خبره وي دا کول او یا ورته غوږ ایستل هسې د قیمتي وخت خرابول دي دی به چې له چا سره کېناستلو یا به یې هغه ته درس ویلو او یا به یې له هغه نه څه شی زده کول او یا به په بل دیني کار کې کېناستلو او له خپله کوره به چې راوتلو نو یا به جومات ته تلو ، یا به جنازې ته تلو او یا به د اختر په ورځ راوتلو عیدګاه ته به روان وو او یا به په بل کوم دیني کار پسې را وتلی وو دده یو شاګرد ابن النجار فرمایي زه په دنیا کې شرق او غرب لوري ته ګرځېدلی یم او امامان علماء او بزرګان مې لیدلي دي دده نه کامل سړی ما نه دی لیدلی او

دده نه زيات عبادت كونكى ما نه دى ليدلى او له ده سره ما نيېږدې شل كاله تېر كړل او شپه ورځ به له ده سره يو ځاى وم دده نه مې هر ډول ادبونه زده كړل دده خدمت مې وكولو او دده په ټولو رواياتو سره مې په ده باندې قرآن تلاوت كړو (ما به تلاوت كولو ده به راته غوږ ايښى وو چې څه غلطي پكې نه وي) او دده نه ما لوى لوى كتابونه ولوستل او ډېر څه مې ترې زده كړل .[1]

❀❀❀

حضرت يحيى بن قاسم د النظامية مدرسې مدرس وو هغه دده په اړه فرمايي ابن سُكينة لوى عالم او عامل وو د خپل وخت به يې ډېره په سختي سره ساتنه كوله او مونږ به يې چې مجلس ته ورتلو مونږ ته به يې ويل د (سلام عليكم) نه نوره خبره مه اوږدوى يعني خبرې او نور مناسبات او ستړي مشي پريږدئ راساً خپلې موضوع او ديني درس ته راځي او شروع كوئ او په سلام كې يې هم تر ممكنه حده پورې اختصار كړى دى داسې يې هم ورته نه ويل چې يوازې السلام عليكم واياست هغه يې هم ورته سلام عليكم كړى دى مطلب

[1] ذيل تاريخ بغداد

یې دادی چې څومره کېدای شي دومره د سر خبرې او پوښتنې لنډوئ .

❁❁❁

حضرت ابن سعید الاندلسي لوی عالم وو بیا وروسته دده زوی ابي الحسن علي بن موسی بن محمد بن عبد الملک بن سعید الاندلسي ښه نومیالی عالم وو هغه په خپله د خپل والد محترم په اړه لیکنې کړې دي او دی وایي که دا کس زما والد نه وای ما به دده په صفاتو باندې خپله ژبه او قلم ستړي کړې وو (ډېره ستاینه به مې ورته کړې وه ځکه دی د ډېرې ستاینې لا ئق وو لکن که اوس زه دده ډېر صفات کوم ځینې خلک به وایي چې د خپل پلار دومره زیات صفت کوي) خو زه به دومره ووایم چې ده ٦٧ کاله عمر تېر کړی دی او زما چې څومره یادیږي یوه ورځ هم مونږ دی د کتاب او مطالعې نه بغیر نه دی پیدا کړی حتی چې د اختر په ورځ به هم ده مطالعه کوله او یوه ورځ چې د اختر ورځ وه زه ورغلم ومې کتل چې دی په کتابونو کې ډېر زیات مصروف دی ما ورته وویل : پدې ورځ هم تاسې دومره تکلیف کوئ ارام نه کوئ؟ ده ماته داسې وکتل لکه دی چې غصه وي او راته یې وویل : فکر کوم ته به کله هم کامیاب نه شې ، ته ددینه بغیر په بل څه کې راحت غواړې ؟ زما د قسم وي زه فکر نه کوم

چې بل راحت به دې راحت ته ورسیږي او زه خوښوم چې الله زما عمر دوه چنده کړي ترڅو زه کتاب (المُغرب) په خپل مطلب ختم کړم .

❁❁❁

حضرت امام نووي د خپل کتاب بستان العارفین په آخر کې یو عنوان ایښی دی **باب في حكايات مستطرفة** په هغه باب کې یې د خپل استاذ چې عبد العظیم المنذري دی په قاهره مصر کې په ۵۸۱ هجري کې پیدا شوی وو او په کال ٦۵٦ هجري کې وفات شوی دی ذکر کړي دي هغه وایي چې زما استاذ فرمایل :

ما له خپل شیخ استاذ علامه ضیاء الدین ابو اسحق ابراهیم بن عیسی المرادي نه واوریدل چې هغه مونږ ته د خپلو تصنیفاتو په اړه خبرې کولې هغه هغه ویل ما په خپل لاس ۹۰ لوی مجلد کتابونه لیکلي دي او ۷۰۰ مې رسالې لیکلي دي (واړه کتابونه) دا ټول د علم حدیث او نورو دیني موضوع ګانو په اړه دي نو پدې خبر کې که مونږ لږ ژور فکر وکوو او د هغه وخت اسبابو ته وګورو نو زمونږ عقلونه به وایي چې حافظ صاحب خو بل هیڅ هم نه دي کړي ځکه په هغه وخت کې په ساده قلم سره دومره کتابونه لیکل څنګه کیدای شوای ؟ خو هغه کسان چې دخپل وخت ساتنه وکوي

او کوښښ وکوي چې هغه په داسې ځای کې مصرف کړي چې فایده پکې وي بیا الله د هغه کسانو په عمرونو کې برکت اچوي او هغوی په لږ وخت کې هغه کارونه کولی شي چې نور خلک یې په ډېر وخت کې نشي کولی .

❋❋❋

د حضرت امام نووي استاذ دی حافظ عبد العظیم المنذري په مصر قاهره کې په مدرسة البادرائیة کې مدرس وو په خپل وخت کې هغه په زیات کوښښ کې مشهور وو دده شاګردان نقل کوي چې مونږ له ده سره د قاهرې په مدرسه کې ۱۲ کاله په یو ځای اوسېدو او چې د شپې په څه وخت کې به هم مونږ را ویښ شوو نو دده له کوټې نه به د چراغ رڼا راوتله او په علمي مطالعه باندې به مصروف وو حتی چې ده به کله خوراک کولو په خوا کې به ورسره کتاب ایښی وو په هغه کې به یې کتل او خوراک به یې کولو دی به همېشه په مدرسه کې وو چې نه د چا تعزیت ته تلو نه د چا مبارکۍ ته راوتلو نه بلې د غم او خوشحالي خبرې ته په عامو حالاتو کې به صرف د جُمعې د مانځه لپاره له مدرسې نه راووتلو او د جُمعې جومات ته به لاړو .

د حافظ صاحب په ژوند کې هغه واقعه ډېره مشهوره ده چې کله دده یو نېک حافظ او عالم زوی حافظ رشید الدین ابو بکر محمد په ٦٤٣ هجري کال کې په حق ورسېدو او په خپل وخت کې یو له هغه کسانو څخه وو چې هر چا د هغه په ذکاوت او تکړه والي باندې اقرار کاوه په هغه باندې یې په مدرسه کې د جنازې مونځ اداء کړو او بیا چې خلکو جنازه را پورته کړه حافظ صاحب د مدرسې تر دروازې پورې ورسره را روان شو او په دروازه کې یې سترګو اوښکې وکولې هلته ودرېدو او ویې ویل ځه بچیه په الله مې سپارلی یې او خپله بېرته د مطالعې ځای ته ترینه ستون شو .[1]

[1] طبقات الشافعية الكبرى

❁❁❁

امام الطب ابن نفيس د لويو علماوو او مشهورو اطباوو له جملې څخه وو په ٦١٠ هجري كې تولد شوى وو او په ٦٨٧ هجري كې وفات شوى دى په علم طلب كې د امام حيثيت لري او داسې تصانيف يې كړي دي چې وروستنيو د علم طب ماهرينو ورڅخه ډيرې زده كړې كړي دي د مثال په ډول په علم الطب كې دده تصنيف دى الشامل همدارنګه يو بل كتاب يې دى المهذب في الكحل شرح القانون لابن سينا او داسې نور په منطق ، اصول فقه ، فقه او مختلفو فنونو كې تصنيفات لري لكن په علم طب كې خلك وايي چې د حكيم ابن سيناء نه وروسته بل له ده نه تكړه څوك نه دي راغلي او علماء وايي چې په علاج كې تر ابن سيناء څخه هم غوره او تكړه وو د وخت په ساتنه كې يې سارى نه درلود او هر كار به يې چې كولو له مخكې نه به يې ورته فكر كاوه چې پداسې ډول سره يې وكوي چې وخت وربانديې لږ مصرف شي امام برهان الدين ابراهيم الرشيدي دده د تصانيفو په اړه فرمايي كله به چې ده په كومه موضوع بانديې ليكنه كوله نو له مخكې نه به يې تيار جوړ قلمونه مخې ته ښه ډير كېښودل مخ به يې ديوال ته واړولو او بيا به يې په ليكنه بانديې شروع وكوله او په داسې توګه ليكل به يې كول

لکه سیل چې روان وي او چې کوم قلم به کار پرېښودو نو هغه به یې وغورځاوه او بل به یې را پورته کړو او نه یې غوښتل چې د قلم په اصلاح (د نی په پرې کولو) کې یوه دقیقه تېره کړي او هغه د معلوماتو سیل چې دده په دماغو کې را روان دی ودریږي په همدې ډول ده به چې تصنیف ته شروع کوله له هغه وړاندې به یې مطالعه کوله او کله به یې چې تصنیف شروع کړو نو بیا یې د تصنیف په دوران کې په مطالعه باندې وخت نه ضائع کولو او چې شروع به یې وکوله څومره لیکل به یې چې کول غوښتل هغه به یې ختم کړل بیا به یې که څه بل کار پکې کول غوښتل هغه به یې وکولو.[1]

✵✵✵

د ابن نفیس په اړه د هغه یو شاګرد حضرت سدید الدمیاطي (حکیم القاهره) فرمایي چې په یوه شپه کې زه د جمال الدین بن واصل او د ابن نفیس سره وم چې دوی د ماسخوتن د مانځه نه وروسته په یوه علمي خبره باندې بحث شروع کړو او په خپل بحث کې له یو علم نه بل ته نقل کېدل او بحث یې روان وو حضرت ابن نفیس بحث په ډېره نرمه طریقه کولو او په بحث کې نه جدي

1 طبقات الشافعية الكبرى

کېدو او ابن واصل به کله کله په خبرو کې جدي شو اواز به یې پورته شو سترګې به یې سرې او د مرۍ رګونه به یې لوړ لوړ ودرېدل دوی په همدې خبرو کې وو چې شپه وربانديې صبا شوه خو کله چې د بحث آخر شو امام ابن واصل د ابن نفیس په علمیت باندې د اقرار او اعتراف کولو سره وویل : ای شیخ بېشکه له مونږ سره مسائل ، نکتې او قواعد دي او لتا سره د علومو خزانې دي . ابن نفیس به کله کله یو دم په یوه موضوع کې شروع وکوله او په ډېره عاجله توګه به یې وربانديې لیکنه وکوله حتی چې یو ځل هغه حمام ته لاړو نو چې ځان یې غسل ته تیار کړو هغه ځای ته لاړو چې هلته خلک جامې بدلوي کېناستو څه فکر یې وکولو او بیا یې کاغذ او قلم وغوښتل او د نبض په اړه یې په علم الطب کې یوه رساله ولیکله چې کله یې ختمه کړه نو بیا لاړو غسل یې وکولو .

❋❋❋

ابن نفیس چې بېمار شو او بیماري یې سخته شوه نو د علم طب ځینې دده خاص ملګري ورته را ټول شول او ده ته یې مشوره ورکړه چې ستا د بیماري لپاره فایده من دي لږ شراب وڅښه او دا به داسې ضرورت وګڼو چې ستا د مرګ او ژوند

خبره وړپوړې تړلې ده او ستا ضروري علاج دی ده ورته وفرمایل چې هېڅکله داسې نشي کېدلی چې زه د الله سره پداسې حالت کې مخامخ شم چې زما د ننه شراب وي کله چې وفات کېدو ډېر زیات مال او دولت ترې پاتې شو او وروسته یې څوک اولادونه او نور خپلوان نه درلودل زیات د علم طب کتابونه یې درلودل او یو یې شکلی کور درلود دا یې ټول په هغه وخت کې یوې شفا خانې (بیمارستان المنصوري) ته وقف کړل او هلته به خلکو ترینه استفاده کوله او کور هم د شفاخانې په مفاداتو کې کارول کېدو .

او د همدې کوښښونو او دوخت د ساتنې او زیار نتیجه یې ده چې د علم الطب د انصاف نه ډکو ټولو ماهرینو د خپل امام په حیث منلی دی او په علم الطب کې دده مطالعې او لیکنې د زیات قدر او احترام وړ دي او دده په ژوند کې ډېره لویه خبره ده چې په بدن کې د وینې جریان د لمړي ځل لپاره ده کشف کړی دی او دا لوی کشف اوه پېړۍ وړاندې ده په هغه وخت کې کړی دی چې نه ماشینونه ، نه کمپیوټري سیستم او نور آلات وو یوازې دا نه بلکه په علم الطب کې یې ډېرې کلي قاعدې ایښي دي چې تر ننه پورې د علم الطب ماهرین ورڅخه استفاده کوي خو بنیاد یې ورته هم ده ایښی دی .

❁❁❁

فقیه امام ابن الرفعة د امام شافعي د مذهب په لویو فقهاوو کې شمارل کیږي په خپله زمانه کې د فقهې لوی امام ګڼل کېدو په ٦٤٥ هجري کې پیدا شوی وو او په ٧١٠ کې وفات شوی دی دده په اړه ویل کیږي چې دی به تول ورځ په مطالعه بوخت وو او له کتاب به بالکل نه ستړی کېدو او اکثر به چې دی ویده کېدو نو په خپل کتاب به ور ویده شوی وو بیا به یې کتاب کېښود او سم به ویده شو د عمر په آخر کې داسې بیماري ورته پیدا شوه چې خپلې جامې به یې په بدن لګېدلې نو هم ورته تکلیف به وو او بدن به یې ورسره خوږېدو خو ددې سره به هم کله هم د کتاب نه بغیر نه وو هر وخت به یې یو کتاب په لاس کې وو پکې کتل به یې او په بیمارۍ کې چې آخر داسې حد ته ورسېدو چې انسان به دده بیماري ته کتل او بیا به یې دده نه ستړي کېدونکې او مسلسلې مطالعې ته کتل نو انسان به دده حال ته حیرانېدو .[1]

❁❁❁

امام ابن شحنة الحجار الدمشقي الصالحي الحنفي په شاوخوا ٦٢٢ هجري کې تولد شوی وو او الله

[1] البدر الطالع للشوکاني

ورته اوږد عمر ورکړی وو تر سل کلنۍ تېر شوی وو بیا وفات شوی وو خو دده په ژوند کې دده لمسي نیکونه شوي وو په علم حدیث کې یې ځانګړی مهارت درلود او د احادیثو په حافظ سره یادېدو او خلک به له لرې لرې نه راتلل له ده څخه به یې په احادیثو کې زده کړه کوله او حافظان به راتلل ده ته به یې د احادیثو تکرار کاوه او ده به ورته غوږ ایښودو او د هغوی تصحیح به یې کوله سره ددې چې دی د ډېر زیات عمر خاوند وو بیا هم طالبانو به لرې لرې نه کوښښ کاوه چې له ده سره ووینې او څه شی ورڅخه زده کړي او ده هم د خپل زیات عمر سره سره دهغوی سره پوره خواري کوله او هغوی ته یې پوره توجه ورکوله امام محب الدین بن المحب لوی عالم دی هغه دده له شاګردانو څخه دی او هغه دده شاګردي دده تر وفات یوه ورځ وړاندې شروع کړه په اوله ورځ یې ورڅخه ډېر احادیث وویل او هغه ته یې ور واورول او په دوهمه ورځ یې د ځاښت تر وخت پورې ورڅخه زده کړه وکوله او بیا تر ماسپښین وړاندې دی په حق ورسېدو او وفات یې په کال ۷۳۰ هجر کې وو.[1]

امام جلال الدین سیوطي

[1] الدرر الکامنة

کنیه نوم یې ابو الفضل لقب یې جلال الدین او نوم یې عبد الرحمن بن الکمال الخضري السیوطي الشافعي دی په ۸٤۹ هجري کې د رجب په اول د ماسخوتن د مانځه نه وروسته پیدا شوی وو په دیني کورنۍ کې تولد شوی وو ده ته ابن الکتب هم وایي ځکه چې دده والد ګرامي لوی عالم او هروخت په مطالعه باندې مصروف وو پدې وخت کې یې د کتاب خانې نه د پلار کوم کتاب ته ضرورت شو نو دده په مور پسې یې اواز وکولو چې هغه کتاب راوړي مور یې چې کله لاړه نو په کتاب خانه کې تکلیف شوه او هماغلته د کتابونو په ځای کې دا ماشوم پیدا شو پلار یې چې د شافعي مذهب د نامورو علماوو په جمله کې شمارل کېدو په ۸۵۵ هجري کې وفات شوی وو او پدې وخت کې د امام سیوطي عمر پنځه کاله او اوه میاشتې وو او قرآن کریم یې تر سورة تحریم پورې یاد کړی وو او دهغې نه وروسته یې د یتیمي په حالت کې ټول عمر او تعلیم مخکې بیولی دی د مشهور کتاب فتح القدیر مصنف حضرت الکمال بن الهمام الحنفي ته چې په شیخونیه مدرسه کې د فقهې استاد وو دده پلار وصیت کړی وو چې د جلال الدین تربیت او ساتنه وکوي او په ده باندې فکر وکوي .

امام صاحب چې د آتو کلونو شو نو قرآن کریم یې په سمه توګه یاد وو د هغې نه وروسته یې څه

ضروري کتابونه لکه العمدة، المنهاج الفقهي ، المنهاج الاصولي او د امام مالک الفیه یې یاد کړل او په ۸٦٤ هجري کې یې په منظمه توګه د علم په زده کړه او تحصیل کې مصروف شو او په خپل وخت کې د ماهرینو کسانو څخه یې زده کړه وکوله او د هغوی په خدمت کې یې وخت تېر کړو لکه د مثال په ډول په هغه وخت کې د مشهور فقهي عالم سراج الدین البلقیني چې په هغه وخت کې یې په علم فقه کې د امام حیثیت درلود له هغه نه یې فقه زده کړه او د هغه تر وفات پورې د هغه په خدمت کې پاتې شوی وو .

او د هغه د وفات نه وروسته د هغه د خلف صالح نېک زوی علم الدین بلقیني په خدمت کې پاتې شو او د هغه نه یې هم ډېر کتابونه وویل د حضرت شهاب الدین الشار مساحي نه یې علم میراث زده کړو د امام التفسیر الشرف المناوی ابوزکریا یحیىٰ بن محمد نه یې تفسیر بیضاوي ولوستلو د تقي الدین الثمني الحنفي نه یې عربي لغت زده کړو او په علم حدیث کې ورڅخه څه زده کړه وکوله او د شیخ محي الدین محمد بن سلیمان رومي حنفي سره یې ۱٤ کلونه تېر کړل او د هغه نه یې تفسیر ، اصول عربي او علم معاني زده کړل د سیف الدین حنفي نه یې کشاف ، توضیح ، تلخیص المفتاح او شرح العضد درسونه وویل جلال الدین محلي ، احمد بن ابراهیم

حنبلي ، العز، الکناني ، الزین العقبي ، البرهان ابراهیم بن عمر البقاعي الشافعي ، الشمن السیرامي او نور ګڼ شمېر علماء یې په استاذانو کې راځي او ده ورڅخه زده کړې کړي دي .

په ۸٦٦ هجري کال کې ورته د تدریس اجازه وشوه او د عربي لغت له درس نه یې شروع وکوله او په همدې کال کې یې یو کتاب هم ولیکلو چې ریاض الطالبین نوم یې ورباندې کېښود چې د مختلفو علومو په رڼا کې په بسم الله او اعوذ بالله باندې بحث شوی وو او پدې کتاب کې یوه په زړه پورې خبره داده چې دده استاذ علم الدین البلقیني ورباندې تقریض لیکلی وو .

ده مبارک به خپل وخت په ډېره توجه سره مصرف کولو او هروخت به په مطالعه یا په لیکنه باندې مصروف لیدل کېدو ددې امله الله ورته زیات کمالات ورکړي وو او دی پخپله د خپلو مهارتونو په اړه فرمایي چې الله ده ته په تفسیر، حدیث، فقه، نحو، معانی، بدیع کې زیات مهارت ورکړی دی .

علماء دده په اړه لیکي کله چې دی د څلویښتو کلونو شو نو ددنیا او دخلکو نه یې رابطه پداسې توګه سره قطع کړه لکه چې ده څوک بالکل پېژندلي نه وي او د درس او تدریس سلسله یې هم

پرېښوده او یوازې د الله عبادت او تالیف ته یې ځان ور خلاص کړو او دده یو کتاب دی التنفیس په نوم په هغه کې یې د نور درس او تدریس او له خلکو سره د زیات تعلق نه عذر ویلی دی مشران او مشهور خلک به دده ملاقات ته راتلل او تحفې به یې ورته راوړې لکن ده د هېڅ تحفې هم نه قبلولې او ډېر ځله د وخت بادشاه دی خپل دربار ته ور غوښتی وو لکن ده له ورتلو څخه انکار کړی وو او نه یې خوښول چې علماء د د امیرانو په مجلس کې ناست وي او پدې اړه ده یو کتاب هم لیکلی دی نوم یې وربانديې **(ما رواه الاساطین في عدم التردد الی السلاطین)** ایښی دی .

❁❁❁

ناصر الدین الالباني له وروستیو علماوو څخه دی الله ورته ډېر ښه مهارت کلک ذهن او ښه استعداد ورکړی وو لکن دومره کوښښ یې هم کاوه چې اکثر به کتابخانې ته ننوت خوراک او څښاک به ورڅخه هېر شول ډېر وخت به داسې کېدل چې ده ته به خوراک کېښودل شو دی به دهغې خوراک ته ور خلاص نه شو او د بل وخت خوراک به راوړل شو هغه به ورته کېښودل شو او مخکنی خوراک به همداسې نه خوړل شوی ورڅخه پورته کړل شو بغیر د الله د عبادت ، دیني مطالعې نه یې بل په هېڅ

شی کې هم خپل وخت نه مصرف کاوه او دده په اړه عجیبه خبره دا وه چې هغه کسان چې دده سره نږدې وو هغوی به ویل چې دده د ځوانۍ او دده د آخري بیماري نه وړاندې په دیني علومو کې شوق او زیار بالکل سره بدل نه وو په کومو جذباتو سره چې ده په ځوانۍ کې مطالعه کوله په هماغه جذباتو یې د خپل عمر په آخر کې هم کوله چې کله دی بیمار شو نو چې ښه به وو لیکنه به یې کوله که به یې لیکنه نشوای کولی نو مطالعه به یې کوله او کله چې له مطالعې نه هم عاجز شو نو یو چا ته به یې ویل چې دا کتاب ماته وایه ده مبارک به ورته غوږ ایښی وو بل چا به ورته ویل .

دده د بیماري په حالت کې چا ورته وویل چې لږ ارام کوئ تاسې په تکلیف کې یاست ده به ورته ویل زما ارام په بیان او کلام او زده کړه کې دی په چپ کېناستلو او سکوت کې زما ارام نشته .

❋❋❋

امام محمد عابد السندي الانصاري په ۱۱۹۰ هجري کې تولد شوی وو او په ۱۲۵۷ هجري کې وفات شوی دی هغه به په سفر باندې روان وو او د یو کتاب لیکل به یې شروع کړل او چې کله به د دمې یا آرام لپاره کېناستل په هغه وخت کې چې ملګرو

به ارام کولو ده به لیکل کول او چې کله به یو ځای ته رسېدل او سفر به یې ختمېدلو نو ده به ډېر څه کړي وو هغه یو کتاب لیکلی دی (ترتیب مسند الامام شافعي) دهغه په آخر کې ده لیکلي دي :

ددې کتاب شروع ما د ذی القعدې پ میاشت کې وکوله په ۱۲۲۹ هجري کې وروسته ددې چې ما د حج په سفر باندې شروع وکوله او د مازیګر د مانځه نه وروسته ورځخه فارغ شوم د پنجشنبې په ورځ د ربیع الاول په شلمه په کال ۱۲۳۰ هجري کې او دا هغه وخت دی چې زه د حرمینو د زمکې نه بېرته راغلی یم او ما دا کتاب صرف په هغه وخت کې لیکلی دی چې کله به مونږ په کوم ځای کې د یو څه وخت دمې لپاره حصار شوو او دا په ما باندې د الله یو لوی نعمت وو چې په هغه وخت کې یې زه د رسول ﷺ د احادیثو په ترتیب او لیکنه باندې مصروف کړی وم او دا داسې وختونه وو چې ددې کار لپاره به برابر نه وو .

په همدې ډول ده یو بل کتاب د عمرې په سفر کې لیکلو دده کتاب دی لسان المیزان هغه وخت یې لیکلی وو چې دی له مدینې منورې نه مکې مکرمې ته د عمرې کولو لپاره روان وو او هغه نسخه چې ده په خپل لاس لیکلي ده په مکتبه محمودیة (مدینه منوره) کې اوس هم ساتل شوېده د هغه په آخر کې ده لیکلي دي :

اوله برخه د شعبان په ۲۸ په کال ۱۲۵۱ هجري کې پداسې حالت کې پای ته ورسېده چې مونږ په مستورة نومي ځای کې دمه کړېده په رمضان کې د عمرې کولو په موخه روان یو او پدې پسې دوهمه برخه هم را روانه ده .

چې انسان دومره فکر وکوي چې په هغه وخت کې په پښو باندې سفرونه کول څومره مشکل وو او په هغه وخت کې دوی څنګه سفر کولو نو انسان پوه شي چې رښتیا هم دې علماووخپل وخت په څه ډول ساتلو او څومره ښه فایده یې ورڅخه پورته کوله الله د دوی ته د خپلو خدمتونو اجرونه ورکړي .

❁❁❁

استاذ المفسرین شیخ آلوسي دا ابو الثناء شهاب الدین محمود بن عبد الله الالوسي دی ده ته مفتي بغداد، خاتمة المفسرین ویل کیږي د هجرت په ۱۲۱۷ کال کې پیدا شوی وو او په ۱۲۷۰ کې وفات شوی دی دده تفسیر د علم یوه خزانه ده او دده د تکړه والي ، ذهانت ، محنت یو ژوندی دلیل او نمونه ده ده مبارک دا تفسیر ټول د شپې په داسې حالت کې لیکلی دی چې ټوله ورځ به یې په تدریس تېرېدله او د شپې به یې لیکل کول ده خپل وخت داسې تقسیم کړی وو چې د ورځې یې ۱۳ درسونه ورکول او د شپې په سر کې به یې مطالعه کوله او د شپې په دوهمه برخه کې لږ خوب او د شپې په آخر کې به یې لیکل کول سحر وختي به یې هغه کاتب (خطاط) ته ورکړل چې ده په خپل کور کې کینولی وو او هغه به دده د څو ساعتونو لیکل د ورځې تر آخره پورې (چې ده به تدریس کاوه) نشوای ختمولی او پدې ډول د تفسیر د لیکلو کار مخکې تلو او ټول تفسیر د شپې لیکل شوی دی د خپل ژوند په آخرو مرحلو مرض الموت (د وفات په بیماري) کې هم لیکنه او تالیف ورځخه پاتې نه شو .[1]

---

[1] **کتاب الالوسي مفسرا للدکتور محسن عبد الحمید**

❀❀❀

په وروستنيو علماوو کې اما عبد الحی اللکنو الهندي دی الله ورته لنډ عمر ورکړی وو تر ځلويښتو کلونو پورې ونه رسېدلو بيا يې هم دا خپل وخت داسې مصرف کړی دی او داسې کارونه يې پکې کړي دي چې خلک يې په سلو کلونو کې نشي کولی پدې لنډ عمر کې يې په مختلفو سختو موضوع ګانو او فايده منو بحثونو باندې ليکنې کړې دي او ۱۱۰ يې داسې کتابونه مونږ ته پريښي دي چې په هغې کې داسې کتابونه هم شته چې يو يو کتاب يې څو جلدونه لري او داسې کتاب هم پکې شته چې يوه رساله وي او څو صفحې لري .

❀❀❀

جمال الدين القاسمي دا محمد جمال الدين بن محمد سعيد القاسمي الدمشقي دی په ۱۲۸۳ هجري کې پيدا شوی وو او په ۱۳۳۲ هجري کې وفات شوی دی چې ټول عمر يې ٤۹ کاله وو لکن دا کلونه ده مبارک پداسې توګه مصرف کړي دي چې ښه فايده يې ورڅخه پورته کړېده او ښه کار يې ورڅخه اخيستی دی او پدې عمر کې يې ۱۰۰ تصنيفات پوره کړي دي چې د وړې رسالې نه واخله تر لويو کتابونو پورې پکې داخل دي .

ده مبارک د ديني علومو تدريس هغه وخت شروع کړو چې دی د ١٤ کلونو وو او بيا يې د خپل ژوند تر آخره پورې پرې نه ښودو او روان يې وساتلو او په ټوله ورځ کې يې خپل وخت شاګردانو ته ور تقسيم کړی وو او تر ناوخته پورې به يې د شاګردانو سره د هغوی په مشکلاتو کې مرسته کوله او هغوی ته به يې درس ورکاوه او نه به يې پرېښوده چې يوه دقيقه يې هم بې ځايه تېره شي .[1]

دی مبارک يوه ورځ په يو ځای کې ولاړ وو ډېر خلک يې وليدل چې په عبثياتو باندې آخته وو په خوا کې يې ملګري وو هغوی ته يې وويل کاش چې دا وخت خرڅېدلی ما به څه وخت له دې خلکو نه اخيستی وو (ځکه دوی يې هسې هم په عبثياتو کې تېروي) .

دده مبارک خبره رښتيا ده اکثر خلک داسې وي چې په هغوی باندې وخت نه تريږي او هغوی د داسې څه په لټون کې وي چې خپل وخت وربانديې تېر کړي او هغه کسان چې د وخت په اهميت خبر وي هغوی ددوی په حال افسوس کوي .

---

[1] الضل المبين على عقد الجوهر الثمين

❁❁❁

جمال الدین قاسمي په خپل ځان باندې د الله احسان ګڼي چې ده ته یې هدایت کړی دی چې د خپل وخت ساتنه وکوي دی پخپله فرمایي :

الله ماته را محبوب کړي دي چې زه تلاوت وکوم درس ووایم او مطالعه وکوم او لیکنه وکوم او رسالې او کتابونه جوړ کړم دا د الله فضل دی چې لما څخه یې د لوبو او بې ځایه وخت تېرولو مینه اخیستې ده او ددې له برکته یې ماته د دومره کتابونو مطالعه نصیب کړېده چې ما ته یې شمېره نه ده یاده .

د الفضل المبین په مقدمه کې (صفحه ٥٣) کې د جمال الدین قاسمي په اړه لیکل شوي چې ده به د خپل وخت ډېره په غور او فکر سره ساتنه کوله او د همدې بې ساري کوښښونو او زیار نتیجه وه چې ده به کتاب ته شروع وکوله ډېر زر به یې ختمولو او په هغه کې شته مواد به یې اکثر په ذهن کې ناست وو او مطالعه به یې په ډېر شوق او پوره توجه سره کوله ده مبارک صحیح مسلم مکمل په ٤٠ ورځو کې لوستلی دی ابن ماجه یې په ٢١ ورځو کې او الموطا یې په ١٩ کې او تقریب التهذیب پداسې حالت کې چې قلم به ورسره وو په هغه کې چې د لیکوال نه کومې غلطي

شوې وې هغه به يې هم اصلاح کولې نو هغه يې په لسوورځو کې ختم کړو.

❁❁❁

امام غزالي په خپل کتاب بداية الهداية کې فرمايي :

و اوقاتک عمرک ، و عمرک راس مالک ، و عليه تجارتک، و به وصولک الى نعيم الابدي في جوار الله تعالى فكل نفس من انفاسک جوهر لا قيمة له ، اذ لا بدل له ، فاذا فات فلا عودة له . فلا تكن كا الحمقى الذين يفرحون في كل يوم بيزادة اموالهم مع نقصان اعمارهم . فاى خير في مال تزيد و عمر ينقص؟

فلا تفرح الا بزيادة علم او عمل ، فانهما رفيقاک يصحبانک في القبر حيث يتخلف عنک اهلک و مالک و ولدک و اصدقاؤک .

ترجمه : وختونه ستا عمر دی او ستا عمر ستا سرمايه ده او په همدې سرمايه باندې ستا تجارت دی او په همدې باندې به ته د الله په خوا کې ابدي او همېشه نعمتونو ته ور رسېږې نو ستا له تنفساتو څخه هر يو تنفس يو جوهر دی چې قيمت نلري ځکه ددې بدل نشته چې کله دا فوت شي (ته تنفس وکوې او هغه ختم شي) بېرته نه را ګرځي

د هغه کم عقلانو په څېر مه کیږه چې هغوی هره ورځ دېته خوشحالیږي چې عمر یې کم شو او مال یې زیات شو .

په هغه مال کې چې پداسې حالت کې زیات شي چې عمر کم شي څه خیر دی؟

بغیر د علم او عمل د زیاتېدو نه د بل شي په زیادت مه خوشحالیږه ځکه همدا دواړه په قبر کې ستا ملګري دي په هغه ځای کې چې ستا اهل او مال اولادونه او ملګري به لتا څخه بېرته را ستانه شي .

❋❋❋

پدې اړه السري بن مغلس هم فرمایي : ان اغتممت بما ینقص من مالک ابک علی ما ینقص من عمرک .[1]

ترجمه که ته چېرته د مال په کمېدلو باندې خفه کیږي نو باید د عمر په کمېدلو باندې وژاړې .

[1] صفة الصفوة جلد ۲ صفحه ۳۷٦

❁❁❁

شیخ طاهر الجزائري دا محدث فقیه الحنفي شیخ طاهر الجزائري الدمشقي دی چې په ۱۲٦۸ هجري کې تولد شوی وو او په ۱۳۳۸ هجري کې وفات شوی دی دده په اړه یې یو شاګرد استاذ شیخ محمد سعید الباني یو کتاب لیکلی دی چې نوم یې وربانديې تنویر البصائر بسیرة الشیخ طاهر ایښی دی او استاذ محمد کرد علي په خپل کتاب کنوز الاجداد کې ذکر کړی دی چې ده به د دنیا د کارونو سره ډېر کم تعلق ساتلو او د خپلو جامو صفایي او د ژوند سهولیاتو نه یې ډېر لږ لذت اخستلو او خپل ټول وخت به یې په مطالعه او لیکنه کې مصرف کولو او اکثر به ده ټوله شپه په مطالعه او لیکنه کې ویښه تېروله او د سحر د مانځه نه وروسته به یې لږ وخت خوب ته ورکړو هغه به دده د ۲٤ ساعتونو آرام وو او د هغه خوب نه به وروسته بیا په درس او تدریس مصروف شو او دده په طبیعت کې دا خبره وه چې هر کار د وخت په شروع کې ښه کار دی او ده به چې کله هم مونځ کولو نو په اول وخت کې به یې کولو که به دی په سفر کې وو که به په کور کې وو که هر چېرته به وو نو کوښښ به یې کاوه چې د وخت په شروع کې مونځ وکوي داسې هر کار به یې چې کول غوښتل چې په کوم وخت کې به یې کول غوښتل نو د

هغه وخت په شروع کې بې وربانديې پيل کولو دده يو شاګرد العلامة شيخ محمد سعيد البانی دی هغه فرمايي : شيخ صاحب دنيا يي کارونو او لذتونو ته توجه نه کوله او نه يې د هغې لپاره وخت درلود او داسې کس به د دنيايي کارونو لپاره څه وخت ولري چې د شپې ټوله شپه په مطالعه او ليکنه کې ويښه تېروي او د ورځې ټوله ورځ درس او تدريس کوي؟ او ده به هروخت ځينې داسې کتابونه له ځان سره ګرځول چې هغه به په حجم کې واړه وو او چېرته به يې چې ٥ دقيقې هم پيدا کړې نو هغه به يې رااخلاص کړو او ترڅو به يې چې وخت وو په هغه کې به يې وکتل ترڅو دهغه يو څو دقيقې هم بې ځايه تېرې نه شي .

شيخ صاحب به اکثر خپل خدمت هم پخپله کاوه او شين چای يې ډېر زيات خوښ وو لکن خپل وخت يې هم تر چای نه زيات خوښ وو خپل وخت يې وربانديې نه مصرف کاوه نو اکثر به شيخ ځان ته شين چای وکاوه او هغه به يې کېښودو چې کله به يې زړه ورته وشو نو پياله به يې ترې ډکه کړه او هغه چای به کله کله تر دوو ورځو پورې له ده سره وو او همداسې يخ به يې څښلو او مينه به يې پرې ماتوله او ددې فکر يې نه کاوه چې بايد تازه تازه چای جوړ کړم ځکه چې په هغه باندې وخت مصرف کېدلو او ده داسې نه غوښتل .

د شیخ صاحب په طبیعت کې یوه خبره وه چې ده ته به کوم کتاب ښه ولګېدلو نو بیا بیا به یې هغه کتلو او په یو ځل کتلو باندې به یې نه پرېښودو ددې امله به ده چې کوم کتاب کتلی وو په هغه به مکمل پوه وو او په یوه خبره به چې ترڅو په ښه توګه پوه نه شو هغه به یې بیا بیا کتله ترڅو یې ورباندې ښه پوره علم او یقین راشي او دده په ټول عمر کې چا ته نه دي یاد چې ده بې ځایه خبرې او یا ټوکې او عبثیات کړي وي .

یو وخت چې رته په سفر روان وو نو یې غوښتل چې څه مالټې ورسره واخلي نو مالټې یې له بازار نه را وړې او په کوټه کې یې کېښودې سبا چې کله روان شو او له خپل کور نه لږ لرې بازار ته رسېدلی وو ور په زړه شوې چې هغه مالټې خو په کوټه کې پاتې شوې نو چې بېرته را ګرځېدلی یو څو دقیقې لاره وه لکن ده وویل چې نه تر هغه مالټو نه خو وخت ډېر قیمتي دی چې زه یې بېرته په ګرځېدو کې مصرف کوم په بازار کې یې نورې مالټې واخیستې او په سفر مخکې لاړو بېرته ٦ میاشتې وروسته را ورګرځېدلو وئې لیدلې هغه مالټې په کوټه کې وچې شوې وې ده چې ورته وکتل ورته ویې خندل او بیا هم ورباندې خوشحال وو چې ددې مالټو لپاره ما خپل وخت ضائع نه کړو .

اشرف علي التهانوي

یو له هغه کسانو څخه چې په ښه توګه یې د وخت ساتنه کړېده او له خپل عمر او له خپل وخت نه یې ښه فایده پورته کړېده امام اشرف علي تهانوي دی چې د وخت په ساتلو کې یو ځانګړی حیثیت لري او الله ورته د زیات خدمت توفیق ورکړی وو سره ددې چې په دنیا کې ډېر مصنفین تېر شوي دي او ډېرو خلکو لیکنې کړېدي لکن د اکثرو خلکو لیکنې ضائع شوي دي او یا به په بل عبارت سره وواېو چې الله د ځینې خلکو لیکل باقي ساتلي دي او د نورو ځینو هېڅ نوم او نشان نه دی پاتې شوی پدې اړه امام خرشي مالکي هم فرمایي : **كم من تاليف طوي ذكره ولم يستغل ذكره** (یعني ډېر داسې مؤلفین شته چې د هغوی یاد باقي نه دی پاتې شوی او د هغوی یادول څه قیمتي شی نه دی ګڼل شوی) او څوک یې نه یادوي او ځینې خو داسې تالیفات هم شوي دي چې چا ته یې نوم هم نه دی زده او هغه کسان چې د هغوی تصنیفات د فایدې لپاره وروستنیو خلکو ته پاتې دي دا د همدې کتابونو په مصنفینو باندې د الله لوی احسان او انعام دی د حضرت امام مالک په وخت کې یو کس وي د ابن ابي ذئب په نوم سره هغه یو کتاب ولیکلو د موطاء په نوم چې هغه د

امام مالک له مؤطاء نه (چې اوس هم موجود کتاب دی) لوی وو او معلومات پکې ډېر وو لکن یو څه وخت وروسته هغه غیب شو او د شهرت حد ته ونه رسېدو نو چا له امام مالک نه پوښتنه وکوله : **ما الفائدة في تاليفه؟** (یعني دده ددې کتاب په تالیف کې څه فایده؟) امام ملک په لنډه توګه وویل : **ما كان لله بقى** (یعني څه چې د الله لپاره وي هغه پاتې کیږي)

❁❁❁

ددې امله هغه کسانو چې یوازې د الله د رضا او د الله د دین د خدمت په نیت لیکنه کوي الله د هغوی لیکنې ساتي او خلکو ته وربانډې فایدې ورکوي او ځینې نېک بخت خو داسې مصنفین هم وي چې د هغوی کتاب د طالبانو مینه واخلي او په نظامي درس کې شامل شي او د دیني علومو شوقیان یې د درس په ډول وایي دا د هغه کتاب د مصنف د مقبولیت نښه ده الله ورته ځومره لوړه مرتبه ورکوي چې د هغه کتاب خلک داسې خوښ کړي چې په درسي کتابونو کې یې داخل کړي او د هغه مصنف نوم بیا کله هم نه مړ کیږي او د کتاب په ژوند سره به د هغه نوم هم ژوندی وي او د هغه په صدقه جاریه کې به حسابیږي او هروخت به الله

د خلکو د مطالعې په ثواب کې هغه شریکوي نو پدې هرڅه کې زیات کار او مهم رول د اخلاص وي کوم چې په رښتوني ډول د هر عبادت روح دی او هر عبادت بغیر د اخلاص نه د الله په دربار کې د قبول وړ نه وي .

✵✵✵

په اسلامي امت کې بې شمېره علماء کرام دي چې هغوی د خپل وخت نه فایده پورته کړېده او مونږ ته یې موقع راکړې ده چې د هغوی د خدماتو نه فایده پورته کړو دا هغه کسان دي چې دوی خپل خوب کم کړی وو چې مونږ د هغه د وخت نه فایده پورته کړو او هغوی خپل خوراک کم کړی وو چې زمونږ لپاره څه اثر پرېږدي هغه کسان چې د انصاف نه ډک دماغ لري هغوی باید دا مشران سلف او علماء په خپلو دعا ګانو کې شریک کړي چې پخپله یې ارام ددې لپاره کم کړی وو چې مونږ ته څه پرېږدي که زه تاسې ته د اسلامي امت د ستوریو علماوو مثال درکول غواړم نو زه به درته ووایم چې د مثال په توګه : امام محمد بن حسین الشیبانی ، امام أبو جعفر الطحاوي الحنفي ، امام سلیمان بن احمد الطبرانی، امام علی بن عمر ، امام دارقطنی ، امام حاکم ابوعبدالله النیساپوری ، امام احمد بن حسن ابوبکر الشافعی ، امام احمد بن علی بن ثابت

المعروف بالخطيب البغدادی ، امام محمد بن محمد الغزالی ، امام ابو الفرج ابن الجوزی ، امام ابوالبرکات النسفی ، امام محمد بن محمد بن عثمان شمس الدين الذهبي ، امام تقی الدين السبکی ، امام محمود بن عبدالله الآلوسی ، امام ملا علي قاري ، حافظ يحيیٰ بن شرف النووی الشافعی ، حافظ ابن القيم ، حافظ ابن کثير ، حافظ ابن حجر العسقلانی ، حافظ بدرالدين العينی ، حافظ محمد بن عبدالرحمن السخاوی ، حافظ جلال الدين السيوطی ، حافظ محمد عبدالرؤف بن تاج المناوی ، حافظ ابن رجب الحنبلی . او داسې نور الله دې په ټولو باندې رحمت وکوي او زمونږ د طرف نه د الله دوی ته جزاء خير ورکړي دا هسې ما درته مشت نمونه خروار ياد کړل دوی زيات خدمتونه کړل دي الله د مونږ ته توفيق راکړي چې د هغوی د کړيو کوښښونو شکريه اداء کړو او د هغوی د علمونو څخه فايده واخلو او خپله دنيا او آخرت ښائسته کړو زه چې کله د وخت په ساتنه او يا د وخت په اهميت خبرې کوم ډير زيات علماء ماته را ياديږي چې هغوی په ښه ډول باندې خپل وخت مصرف کړی دی او ښه فايده يې ورڅخه پورته کړيده په هغه علماوو کې اکثر چې ماته را ياديږي هغه حضرت حکيم الامة اشرف علي تهانوي هم دی تهانوي ته الله ډير په کم عمر کې د تصنيف او تاليف ملکه ورکړې وه او

له اول نه یې چې کوم تصنیفات کړي دي هغه هم په زړه پورې دي او د هر ډول کس لپاره د ښې پوره فایدې وړ دي او په تفسیر، حدیث، فقه ، کلام ، تجوید ، تصوف او نورو ګڼ شمېر فنونو باندې یې لیکل کړي دي او دده د وخت د ساتنې او د وخت د قدر نتیجه ده چې دده کتابونو تر زرو څخه چې د وړې رسالې نه نیولې تر لویو کتابونو پورې پکې دي زیات شوي دي او چې په کومه موضوع باندې یې قلم را پورته کړی دی نو چې انسان دده لیکل ګوري پخپله فیصله کوي چې رښتیا تهانوي صاحب د هغه موضوع حق ور پوره کړی دی او هغه د هرې موضوع هر اړخیزه څیړنه کوي او په هغه کې هېڅ لوری داسې نه پرېږدي چې د کتاب لوستونکي ته پکې شک پیدا شي د هغه عقلي او نقلي دلائل دومره په زړه پورې وي چې انسان یې له لوستلو نه ستړی کیږي .

✵✵✵

حضرت تهانوي صاحب ﷲ ته د تصنیف او تالیف سره سره مقبولیت عامه هم ورکړی وو اوس هم چې څوک د دیني علومو شوقیان وي د تهانوي لیکنه خوښوي او تر اوسه پورې چا هم ورباندې اعتراض نه دی کړی او ډېر خلک یې له کتابونو څخه فایده پورته کوي .

❁❁❁

د تهانوي صاحب لمړی تصنيف په هغه وخت کې پوره شو چې کله دی يوازې د ۱۸ کلونو وو او يو مثنوي کتاب يې تيار کړو چې (زير و بم) نوم يې ورباندې ايښی وو او کله چې دی د شاګردي په وخت کې د خپل مرشد حضرت امداد الله مهاجر مکي په خدمت کې وو خپل مرشد ورڅخه غوښتي وو چې د حضرت ابن عطاء سکندري کتاب (تنور) اردو ته ترجمه کړي او په هغه وخت کې دی په خپله مطالعه او د هغه کتاب په ترجمه باندې مصروف وو چې هغه کتاب يې د (اکسير في اثبات التقدير) په نوم پوره کړو حضرت امداد الله صاحب چې وليدل ده په ډير لږ وخت کې ډير زيات کار کولو هغه ورته وويل : الله ستا په وخت کې برکت اچولی دی (ستا په وخت کې برکت دی څکه ته په لږ وخت کې ډير کار کولی شې) .

هغه کسان چې په ليکوالي او کتاب ليکنه کې يې تجربه وي هغه دا مني چې څومره کار چې حکيم الامة حضرت تهانوي کړی دی هيڅوک يې هم په دومره وخت کې نشي کولی .

❁❁❁

د حضرت تهانوي د سوانحو په اړه حضرت خواجه عزیز الحسن مجذوب یو کتاب لیکلی دی (اشرف السوانح) په هغه کتا ب کې يې پدې خبره بحث کړی دی چې تهانوي څنګه وکولی شوای چې په لږ وخت کې دومره ډېر تصنیفات وکوي؟ څکه د تهانوي په اړه ویل کیږي چې دده تصنیفات تر زرو کتابونو څخه هم زیات دي .

په هغه کتاب کې لیکلي دي دا چې د علامه تهانوي تصنیفات دومره زیات دي ددې لپاره څو اسباب دي :

لمړی سبب

حضرت تهانوي به چې په کومه مسئله باندې شروع وکوله هغه به دومره په جذبه سره کار کولو ترڅو به يې چې هغه کار ختم کړی نه وو نو دده به هېڅ ډول ارام نه کېدو او سکون او ارام ته به يې هغه وخت زړه کېدو چې کله به يې هغه موضوع او مسئله په پوره توګه ختمه کړه او هماغه وخت به يې کار بس کولو خواجه عزیز الحسن چې د تهانوي په نېږدې شاګردانو کې دی هغه فرمايي چې : ماته په ښه ډول ياد دي چې

کله د کلید مثنوي شرح چې تهانوي کوله ختمېدلو ته نیږدې وه نو د تهانوي په زړه کې د هغې ختم ته شوق ډېر زیات وو آخر کې داسې وخت راغلو چې مکمله ورځ به یې لیکل کول او په آخر کې داسې شو چې د ورځې یې هم ټوله ورځ لیکل وکول او د شپې یې هم لیکل بس نه کړل او په مسلسله توګه لګیا وو او په ټوله شپه کې یې یوه دقیقه هم خوب ونه کولو او د سحر اذان نه وړاندې یې ختم کړو او بیا یې ارام وکولو او ویې فرمایل تر اوسه مې ټوله شپه داسې په مسلسله توګه کار نه وو کړی او د هغې شپې د سخت کار نه ورته تبه شوه او ده به ویل چې په دې تبه کې هم ماته یو اطمنان دی ځکه کار مې ختم شوی دی .

دوهم سبب

کله به چې تهانوي لیکل کول نو داسې به ښکاره کېده چې غیبي مرسته ورسره کیږي اکثر به یې په ډېره مشکله موضوع باندې قلم پورته کړو او بیا به یې لکه رواني اوبه داسې لیکل کول او په لیکنه کې ورته د زیات فکر او سوچ ضرورت نه کېدو او چې کله به یې تصنیف ختم کړو نو په هغه کې به یې چې کله اصلاح کوله نو ډېره لږه غلطي به پکې پیدا کېدله او صحیح لیکنه به شوې وه .

دریم سبب

پـه وخت کې یې برکت وو

او د هغه برکت نښه دا وه چې تهانوي له داسې مشکلاتو نه الله محفوظ ساتلو چې د هغې له امله به کار پاتې کېدلو د مثال په ډول دده د تفسير (بيان القرآن) د لیکلو موده تقریباً یو نیم کال وه او دی فرمايي چې پدې دومره اوږده وخت کې ماته هیڅ مشکل را مخې ته نه شو سره ددې چې پدې وخت کې حالات دلته ډیر خراب وو لکن بیا هم زما د لیکلو مانع الله ماته مخې ته را نه وستلو او پدې وخت کې په علاقه کې وبا بیماري خپره شوه او ډیر زیات خلک پکې مړه شول دی فرمايي چې کله د وبا له امله ډیر خلک مړه شول نو ما دعاء وکوله چې ای الله ترڅو زما دا تفسير پوره شوی نه وي ما مه مړ کوه او همداسې وشول وبا د ډیرو خلکو ژوند واخیست لکن ما خپلې لیکنې ته دوام ورکړو او الله زه وساتلم او تفسير پوره شو .

څلورم سبب

اعتدال او د ضرورت تر حده پورې بحث کول

د تهانوي په کتابونو کې په موضوع باندې د ضرورت نه زياتې خبرې نه وي د هغه بحث صرف تر ضرورت پورې محدود وي لکه يو وخت په يوه موضوع باندې د حضرت مولانا حبيب الرحمن د دار العلوم ديوبند پخواني مهتمم يوه رايه وړاندې کړې وه تهانوي صاحب به کله د هغه رايه نقل کوله او فرمايل به يې ده صحيح ويلي دي او په لنډو الفاظو کې يې موضوع پيش کړېده د زياتو اوږدو خبرو نه هيڅ هم نه جوړيږي او لا د لوستونکي ذهن ورسره ګډ وډ شي او د هغه لپاره مشکل شي چې په سمه توګه ورڅخه فايده پورته کړي په ليکنه کې زما نظر هم صرف په ضرورت باندې وي او زما عبارات اکثر مختصر وي مګر کوښښ کوم چې د مدعا د ښکاره کولو لپاره بالکل کافي وي او زما مطلب په ښه توګه ښکاره کړي مګر په کوم ځای کې چې د خبرې اوږدولو ته ضرورت وي هلته زه خبره اوږدوم .

د تهانوي صاحب په خوا کې به هر وخت پنسل او کاغذ ايښي وو چې کله به يې کومه موضوع په دماغو کې راغله نو فوراً به يې وليکله او ددې وخت يې ځان ته نه ورکولو چې ووايي څه بل وخت

به یې ولیکم او کله به چې ویده کېدو هم پنسل او کاغذ به یې د سر سره ایښي وو کله به یې یو دم د شپې یوه خبره ذهن ته راغله نو په هماغه وخت به یې په هغه موضوع څه لیکل وکول بېرته به ویده شو او په هغې اړه به چې نور تفصیل او یا مطالعې ته ضرروت وو هغه به یې بیا سحر ورپسې پوره کړل .

پنځم سبب

د وخت ساتنه او په ښه طریقه استعمال

د تهانوي د تصنیفاتو او کتابونو د زیات والي یو سبب د ده مبارک د وخت ساتنه ده چې ده په ډېره ښه توګه وخت ساتلو او هر وخت یې د یو منظم تقسیم اوقات لاندې وخت تېرولو او ده به ویل : که ما د خپل وخت لپاره تقسیم اوقات نه وی جوړ کړی او یا مې خپل وخت په سمه توګه استعمال کړی نه وای دا ددین لږ ډېر خدمت چې لما نه کیږي دا به هم لما څخه نه وای شوی .

یوه ورځ دده استاذ حضرت شیخ الهند محمود الحسن صاحب د دوی کور ته راغلو او دده مېلمه شو ده د حضرت شیخ صاحب ډېر زیات خدمت وکولو او د هغه لپاره یې ټول اسباب او د ارام ځای او نور ضرورتونه او سهولتونه برابر کړل چې کله دده په تقسیم اوقات کې دده د لیکنې

وخت شو نو په ډېر ادب سره یې ورڅخه اجازه وغوښته او په خپله لیکنه مصروف شو لکن څرنګه چې د شیخ الهند ملاقات هم د یودرس نه کم نه وو نو په لیکنه کې یې زړه ونه لګېدو او د یو څه لیکنې څخه وروسته بېرته راغلو د شیخ صاحب په مجلس کې شریک شو لکن بیا یې هم هغه ورځ په خپله لیکنه کې بالکل قضایي ونه کوله .

شپږم سبب (اخلاص)

د تهانوي د کتابونو د زیاتوالي شپږم سبب د هغه مینه او اخلاص دی چې ده څومره کتابونه لیکلي دي دا خپل کتابونه یې د خوراک او معاش ذریعه نه دي جوړ کړي بلکه دا یې صرف یو دیني خدمت ګڼلی او په مخ بیولی دی ځکه ده بالکل په ښکاره سره اعلان کړی وو چې دده کوم کتاب هرڅوک هرڅومره غواړي چاپ کولی شي د چاپ او نشر حقوق یې خوندي او محفوظ نه دي او پدې لاره باندې د چاپ خانو مالکانو دده مبارک کتابونه چاپول او هغوی پکې په لکونو روپۍ ګټلې دا صرف ددې امله چې ده یوازې او یوازې ددین د خدمت په نیت لیکنه کوله او کوم دنیاوي غرض او مطلب یې پکې نه وو او که ده غوښتی وای ده د خپلو کتابونو څخه ښې پیسې لاس ته راوړلی شوای.

یوه ورځ یو بهرني لیکوال له ده څخه پوښتنه وکوله چې تا کله تفسیر لیکلو ددې په بدل کې تاته څومره پیسې په لاس درغلې؟

تهانوي صاحب ورته وویل : هېڅ هم نه ...

هغه کس ډېر په تعجب ورڅخه پوښتنه وکوله چې بیا دومره لوی تکلیف تا ولې برداشت کړو؟

تهانوي ورته وویل : زمونږ دا عقیده ده چې ددې ژوند نه وروسته هم یو ژوند شته چې مونږ ورته آخرت وایو ما دا محنت او خواري د هغه ژوند د ښائسته کولو لپاره کړې دی او ددې عوض به ماته هلته راکول کیږي او په دنیا کې زما لپاره همدومره کافي ده چې زه یو مسلمان وروور وینم چې زما د لیکنې څخه فایده پورته کوي او د هغه نه څه زده کړه کوي او په دې دنیا کې همدا زما لپاره بس ده .

د همدې اخلاص له امله چې کله هم تهانوي په خپلو لیکنو کې چېرته ضعف کتلی دی نو د خپلې خبرې نه یې بېرته رجوع کړېده او د ځان لپاره یې دا دشرم خبره نه ده ګڼلې چې زه رجوع ولې وکوم او ده د ډېرو خبرو په اړه چې نظر ثاني کړی دی نو هغه یې را ټولې کړې دي او یو بېل نوم یې ورته ایښی دی (ترجیح الراجح) او دا یوه سلسله وه چې جاري به تصنیف کېده او په کومه خبره کې به چې ده ته زیات معلومات نه وو

او دده په زړه کې به د هغې خبرې په اړه زیات وضاحت نه وو نو په ښکاره ډول به یې ولیکل چې پدې اړه د د نورو علماوو نه زیات معلومات او د هغوی رایې حاصلې کړل شي .

د ترجیح الراجح په اړه حضرت شاه انورشاه صاحب فرمايي ترجیح الراجح ددې زماني يوه نا اشنا تحفه ده او دا د سلف الصالحینو معمول او عمل وو چې کله به په خپله خبره کې ورته ضعف ښکاره شو نو زر به یې په خپله کمزوري اعتراف وکولو او کوم به چې ده ته راجح ښکاره شوی وو خلکو ، خپلو معتقدینو او شاګردانو ته به یې هغه ور ښکاره کړه .

او تهانوي صاحب د همدې لپاره چې که دده په خبرو کې څه کمزوري وي باید ده ته ښکاره شي خپل کتابونه بهشتي زيور ، امداد الفتاوی، تفسیر بیان القرآن به یې بل چاته ورکول چې هغوی وربانديې یو نظر ثاني وکوي او یو ځل یې وګوري که په کوم ځای کې دده رایه صحیح نه وي هغوی یې دې تصحیح وکوي او د یو رښتوني مصنف او مخلص مؤلف لپاره همداسې کول په کار دي الله د مونږ دده له برکاتو څخه برخه من کړي الله دې ده ته دده د کوښښونو اجر ورکړي .

❁❁❁

محمد راغب الطباخ الحلبي په ۱۳۰۰ هجري کې تولد شوی وو او په ۱۳۸۷ هجري کې وفات شوی دی دده په اړه کتابونه فرمايي چې د زياتې مطالعې خاوند وو دده په اړه په کتاب حديث الروح کې علامة محمد رواس قلعجي ليکي :

زه شيخ صاحب ته په هغه ورځ کې ورغلم چې په کومه ورځ دی وفات شو ما وليدل چې له شاوخوا نه ورته بالښتونه را ټول کړل شوي وو چې هغوی ته په تکيه سره دی ددې قابل شوی وو چې کينې (بغير د تکيې نه ددې قابل نه وو چې دی ناست وی) پدې وخت کې يې ژبه درنده شوې وه خبرې يې نشوای کولی او سترګې يې هم درندې شوې وې په تکليف او د زړه په زور به يې خلاصولې کتاب ئې په لاس کې وو څه يې پکې کتل د بيماري زور ورباندې زيات وو نو سر به يې کېښودو بېرته به يې را پورته کړو او کتاب ته به يې کتل ما ورته وويل : شيخ صاحب دا کتاب لږ کېږدئ د يو ساعت لپاره ارام وکوئ تاسې په تکليف کې ياست هغه ماته په څواب کې څه وويل زه ورباندې پوره ددې امله نه پوهېدم چې دده په ژبه کې دروند والی وو خو د ټولې خبرې په مطلب دومره پوه شوم چې ده ويل غوښتل چې دلته په يوه مسئله کې بند يم ځان ورباندې پوه کول غواړم هسې نه چې

مرګ راته پداسې حالت کې راشي چې زه پدې مسئله نه وم پوه ... ما چې دا خبره واورېده نو په سترګو کې مې اوښکې راغلې نو لاس مې ور وړاندې کړو او کتاب مې ورڅخه را واخیست او ورته مې وویل چې بیا کتاب راکړه زه به یې درته ووایم ته ورته غوږ ونیسه ددې خبرې سره هغه هم رضا شو او کتاب یې ماته راکړو ما ویل شروع کړل ده سر په بالښت کېښود او سترګې یې پټې کړې ماته یې غوږ ونیو لږ ساعت وروسته ما ورته وکتل هغه همداس سر ایښی وو زما ګمان وو چې هغه اوس هم ماته غوږ نیولی دی نو ما خپل لوست ته دوام ورکړو پدې وخت کې یې زوی کوټې ته را ننوت هغه پوه شو چې پلار یې په بل ډول حالت کې دی هغه لما نه وغوښتل چې ته د کوټې نه بهر شه زه پاڅېدم چې د کور نه را ووتم د هغه د وفات اواز خپور شو .[1]

معنی دا چې په هغه وخت کې چې ده ورته کتاب لوستلو په هغه وخت کې شیخ صاحب وفات شو پدې معنی چې تر آخري تنفس پورې هغه د زده کړې کوښښ کاوه حتی چې د ځانکدن په بیماري کې هم هغه په زده کړه مصروف وو او پدې وخت کې یې د اجل داعي ته لبیک وویل الله د ورته ددین د پاره دا کوښښونه قبول کړي .

---

[1] حدیث الروح

د پخوانیو علماوو تالیفات او تصنیفات چې انسان ګوري نو پوهیږي چې هغوی د خپل وخت ساتنه څه ډول کړې وه سره دد چې په هغه وخت کې سهولتونه او اسباب د اوس سره په مقایسه کې د نشت برابر وو خو هغوی ډېر څه کړي دي په اوس وخت کې چې د لیکنې او چاپ اسباب ښه په پوره پیمانه پیدا کیږي اوس هغه پخواني مؤلفین او مصنفین نشته لکه د امام ابي الحسن الاشعري تفسیر دی (المختزن) هغه په اویا جلدونو کې دی دا اویا جلدونه هغه څه ډول را ټول کړي او لیکلي ؟ ددې خبرې په ځواب یوازې هغه خلک پوهیږي چې هغه پدې اړه فکر کولی شي چې پدې اویا جلدونو کې به ده د قرآن کریم د معنی ګانو څه ډول باریکي خبرې او نکتې را غونډې کړې وي په همدې ډول د قاضي عبد الجبار الهَمَذاني تفسیر دی (المحیط) په سلو جلدونو کې دی د ابي یوسف عبد السلام القزویني تفسیر دی (حدائق ذات بهجة) د هغه په اړه ویل کیږي چې هغه ۳۰۰ جلده دی په هغه کې اکثر جلدونه بالکل غیب دي وجود نه لري لکن په ځینو تاریخي کتابخانو کې د هغې قلمي نسخې د قیمتي اثر په ډول ساتل شوي دي او د هغې نه علماء وایي چې ۳۰۰ جلد یې هم لیدل شوی دی د قاضي ابي بکر ابن العربي تفسیر دی (انوار الفجر) په ۸۰۰۰۰ اتیا زره ورقو باندې مشتمل دی په

استنبول ترکیه کې په یوه کتابخانه کې د نمونې په ډول ایښودل شوی دی تفسیر (فتح المنان) دی چې تفسیر علامې ورته ویل کیږي نسبت یې علامه قطب الدین الشیرازي ته کیږي په څلویښتو جلدونو کې دی په همدې ډول عقل حیرانونکي نور تصنیفات دي په علم حدیث کې او په نورو فنونو کې چې انسان ورته په انصاف سره فکر وکوي او دا خبره ذهن ته راولي چې هغوی دا کتابونه په څه ډول اسبابو سره لیکل نو انسان حیرانیږي .

حضرت امام محمد بن حسن الشیباني د حضرت امام ابي حنیفه له خاصو شاگردانو څنې وو په ۱۳۲ هجري کې تولد شوی وو او په ۱۸۹ هجري کې وفات شوی دی حضرت محمد بن سلمة دده په حق کې فرمایي چې امام محمد به شپه په دریو برخو تقسیم کړې وه په یوه برخه کې به یې مونځ کاوه په یوه برخه کې به ویده کېدو او په یوه برخه کې به یې مطالعه کوله او درسونه به یې ویل یوه ورځ چا ورځخه پوښتنه وکوله ته ولې د شپې نه ویده کیږې؟ ده ورته وویل زه څنگه ویده شم د مسلمانانو سترگې ویدې شوې دي او په مونږ یې توکل کړی دی (هغوی مطالعې نه کوي پدې گمان چې که په دیني مسئله کې ورته څه مشکل شي نو له مونږ نه به پوښتنه وکوي او له مونږ سره به صحیح ځواب پیدا کړي) نو زه باید ویښ پاتې شم او مطالعه وکوم او که زه ویده شم

پدې کې ددين ضائع کېدل دي او که څوک لما څخه داسې پوښتنه وکوي چې د هغې په اړه لما سره علم نه وي نو د دين ضياع ده .

ده به کله کله داسې کول چې ټوله شپه به يې خوب نه کاوه او د مختلفو موضوع گانو کتابونه به يې شاو خوا ته ايښي وو چې کله به له يوې موضوع نه ستړی شو په بله موضوع کې به يې وکتل او که به خوب ډېر پسې واخيستو نو په خپل مخ مبارک او لاسونو به يې اوبه واچولې او خوب به يې له ځانه لرې کړو او بيا به يې ويل (ان النوم من الحرارة) خوب له گرمي نه دی . [1]

❁❁❁

د امام محمد ددې طريقې چې کله به له يوې موضوع نه ستړی شو په بله موضوع کې به يې مطالعه شروع کړه اما عبد الفتاح فرمايي چې دا ډېر تکړه او ذکي عالم وو او دا يې څومره ښه طريقه وه چې په يوه فن کې به له مطالعې نه ستړی شو نو په بل فن کې به يې مطالعه کوله او همدا طريقه د حضرت عبد الله ابن عباس وه کله به يې چې په علم تفسير کې بحث کاوه او ستومانه به شو نو خپلو ملگرو ته به يې وويل چې دا موضوع د څه وخت لپاره بدلوو نو په شعر

[1] تعليم المتعلم للزرنوجي

او شاعرۍ کې به یې بحث شروع کړو او مجلس به یې ټول پدې سره تازه کړو او په شاګردانو کې به هم که ستوماني او خسته والی راغلی وو نو د موضوع په بدلون سره به ټول بېرته را تازه شول .[1]

او ده مبارک به هر وخت د کور د کارونو لپاره څوک مقرر کول هغه به دده د کور ضرورتونه ورته پوره کول ددې لپاره چې دده ذهن تعلیم او تعلم ته فارغ وي په کتاب (تاریخ بغداد) کې دده په اړه راغلي دي چې ده د خپل کور خلکو ته ویل :

لا تسالوني حاجة من حوائج الدنيا فتشغلوا قلبي و خذوا ما تحتاجون اليه من وكيلي فانه اقل لهمي و افرغ لقلبي .

ترجمه : لما څخه د دنیاوي حاجتونو سوال مه کوئ هغه زما زړه مشغول کوي او کوم شي ته چې تاسې اړ یاست هغه زما له وکیل څخه واخلئ ددې سره زما زړه فارغ وي او زما سره فکرونه نه وي .

[1] النهاية لابن اثير

د مؤلف چاپ شوي آثار

1. د حضرت محمد ﷺ د نبوت معجزې
پښتو

2. ړنګه ځاله
پښتو

3. آشیانه سوخته
فارسي

4. په اسلام کې د انسان حقوق
انګلیسي

5. دین یې دام دی ددنیا په لار کې اېښی
پښتو

6. فرار از کزار
فارسي

7. له کزاره تېښته
پښتو

8. زوړ دین نوی مسلمان
پښتو

9. ډم ډمکو جي او لیکوال
پښتو

10. ادیان پشت در
فارسي

11. له دروازې تر شا دینونه
پښتو

12. د انصاف او اعتدال لاره
پښتو

13. کفري الفاظ
پښتو

14. کل بچه
فارسي

15. معلومات عمومي فارسي

16. د حج لارښود پښتو
او انګلیسي

17. محمد رسول الله ﷺ سیرت اخلاق او پېژندنه
پښتو

18. د اسلامي تاریخ له پانو څخه اول
پښتو

19. د اسلامي تاریخ له پانو څخه دوهم
پښتو

20. د اسلامي تاریخ له پانو څخه دریم
پښتو

21. د اسلامي تاریخ له پانو څخه څلرم
پښتو

22. د اسلامي تاریخ له پانو څخه پنځم
پښتو

23. د اسلامي تاریخ له پانو څخه شپږم
پښتو

24. د اسلامي تاریخ له پانو څخه اوم
پښتو

25. د اسلامي تاریخ له پانو څخه آتم
پښتو

26. د اسلامي تاریخ له پانو څخه نهم پښتو

27. د اسلامي تاریخ له پانو څخه لسم پښتو

28. د فقهي کتابونو له پانو څخه اول پښتو

29. د فقهي کتابونو له پانو څخه دوهم پښتو

30. د فقهي کتابونو له پانو څخه دریم پښتو

31. د فقهي کتابونو له پانو څخه څلورم پښتو

32. د فقهي کتابونو له پانو څخه پنځم پښتو

33. د علم حدیث مطالعه پښتو او انګلیسي

34. د فقهي کتابونو له پانو څخه شپږم پښتو

35. کلمه طیبة پښتو

36. الدعاء پښتو

37. اللهم عربي، پښتو، انګلسي

38. المسجد پښتو

39. قرآني معلومات لمړی برخه
پښتو

40. سلام پښتو

41. د فقهي کتابونو له پانو څخه اومه برخه
پښتو

42. د وخت اهمیت (لمړی برخه)
پښتو

43. د وخت اهمیت (دوهمه برخه)
پښتو

44. د وخت اهمیت (دریمه برخه)
ستاسې په لاس کې